# DEOBAND to BAREILLY

# د ديوبند نه بريلي

## (حقيقت)


مُصنّف:

علامه مولانا محمد کوکب نوراني اوکاړوي

پښتو مترجم: فضل الرحمان فاضل بهيره


First time in ....

## PASHTO



اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د ديوبند نه بريلي ته

## (حقيقت)


د كتاب نوم : د ديوبند نه بريلي ته (حقيقت)

مُصنِّف: ډاكټر علَّامه كوكب نوراني اوكاړوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

پښتو مُترجم: مولانا فضل الرَّحمان قادري فاضِل بهيره

تاريخِ اشاعت: ..........................

ناشر: ....................................

تعداد: .........

قيمت: ..............



ټول حقوق بحقّ مُصَنِّف ډاكټر كوكب نوراني اوكاړوي محفوظ دي

دا كتاب د كاپي رائټ تحت رجسټرډ دې . رجسټريشن نمبر ......

دفتر كاپي رائټ، حكومتِ پاكستان

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم

# اِنتِساب

## د رحمَتِ عالَم نُورِ مُجَسَّم

## شَفیعِ مُعَظَّم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د هر يو رښتيني عاشق په نوم

کوکب غُفِرَلہٗ

# د دیوبند نه بریلي ته

دا کتاب "دیوبند سے بریلی" **حضرتِ علّامه، مَولانا، ډاکټر کوکب نوراني اوکاړوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په اردو ژبه کښ لیکلې دې.

مولانا فضل الرحمٰن قادري صاحب عُفِيَ عَنْهُ د دې کتاب په آسانه پښتو ژبه کښ د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښ څه غلطي یا کمې، زیاتې اوموموئ نو ستاسو په خِدمت کښ عرض دې چه په دې لاندې پته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

**پته: ۵۳بي. سندهی مُسلِم هاؤسنگ سوسایټی، کراچی74400**

**پیشکش: ډاکټر کوکب نوراني غُفِرَلهٗ**

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# تقدِيم

## از: حضرتِ عَلّامه پروفيسر ډاكټر محمد مسعود احمد صاحِب

**فاضِل مُصنِّف علّامه كوكب نوراني اوكاړوي صاحِب** د مُلك معروف و مشهور شخصيّت دې. د هغوئي مخ روښانه، د هغوئي خبرې زړه روښانه كوونكي، د هغوئي تقرِير اثر لرونكې، د هغوئي لِيك زړه پورې، هغوئي د اِمامت و خِطابت، د تبليغ و ارشاد، د تصنيف و تالِيف فرائِض په مُلك او د مُلك نه بهر په ډير ښكلي او ښه انداز كښې كوي. مولٰى تعالٰى دِ د هغوئي درجات اوچت كړي او د هغوئي دِيني خِدمات دِ قبول كړي، آمِين.

د سترګو لاندې كتاب "*دیوبند سے بریلی*" پښتو نوم [د ديوبند نه بريلي ته] يو اصلاحي كوشش دې او د دې مقصد د زړه او د نظر پاكي ده........ د دې اصل مُحرّك [يعنې وجه] په افريقي ملكونو كښې د مسلمانانو په مينځ كښې په دِيني مسائِلو باندې جګړه او فساد دې، او د هغې زړه ازاروونكي نظارې هغوئي پخپله ليدلي وې......... فاضِل مُصَنِّف په دې ډير زيات خفه هم شو او حيران هم شو چه د دې جګړې بُنياد د سركارِ رِسالت مآب ﷺ ذاتِ مباركه دې...... د هر مذهب منونكي د خپل باني او مشر صرف صِفتونه

بیانوي خو د ځینې تش د نوم مسلمانانو دا بدبختي ده چه هغوئي ته د حضورِ انور ﷺ په ذاتِ مبارکه کښې هیڅ صِفَت نه ښکاري، بس عیبونه او خامئ پکښې لټوي...... او کله ئې که په یو صِفت نظر پریوځي نو هغه هم په عیب کښې د بدلولو کوشش کوي.......

فاضِل مُصَنِّف دا حقیقتونه په "دې کتاب" کښې واضحه کړي دي....... هغوئي دا ډیره زړه پورې خبره لیکلې ده چه. "د نبی (ﷺ) سره د اُمّتي تعلُّق د تږلو نه جُدا دې، د هرې دُنیاوي خپلوئ د پاسه دې، دا د دِماغو نه بلکه د زړه معامله ده." (ص۸ اُردو)

بې شکه د مُصطفٰی ﷺ د دیدن د پاره دِماغ نه بلکه زړه پکار دې او هغه هم هغه زړه چه سل تږې شوې وي ........ د کوم یو ښکلي جانان نظاره چه د زړه په سترګو کول پکار وو، افسوس د هغوئي نظاره په دِماغو اوکړې شوه، د سر په سترګو اوکړې شوه، د زړه په سترګو اُو نه کړې شوه، ځکه ورته هیڅ هم ښکاره نه شو........ د سر په سترګو کتونکو نه د عقل په تَیرو کښې لار خطا شوه او نور ئې هم د ځان سره ګمراه کړل....... رښتیا خو دا ده چه دِماغو والؤ او زړه والؤ کښې ډیر فرق دې....... دومره فرق څومره چه په زړه او دِماغو کښې دي.

په "دې کتاب" کښې د مُدَّعا عرض کولو نه پس اصل کتاب شروع کیږي....... په شروع کښې فاضِل مُصَنِّف دا حدیث وړاندې کړې دې........"چا چه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمّدٌ رَّسُوْلُ الله (ﷺ) اووئیل هغه جنّت ته

داخِل شو.“ ...... بې شكه دا حَدِيثِ پاك رښتيا او حق دې خو د دې دا مطلب بالكل نه دې چه صرف ګلِمه وئيل كافي دي بلكه د عقيدهٔ توحِيد و رِسالت سره سره ټول متعلِّقات او ضروريات هم په زړه كښې داخلول ضروري دي..... دا ضروري ده چه دا زمونږه په فِكر او شعور خواره اوسي.......

د فاضِل مُصَنِّف په خيال كښې عقيده او په ضرورياتِ دِين باندې يقين لرل اصل څيزونه دي او هم دا د اِيمان بُنياد دې او هم په دې د خلاصي موندلو دار و مدار دې.........

هغوئي د خپل موقف په طرفدارئ كښې د مولانا اشر فعلي تهانوي د يوې فتوٰئ تَكفِير حواله وركړې ده. د مولانا تهانوي په خيال كښې د مولانا شبلي نُعماني او مولانا حميدُ الدِّين عقيدې فاسدې شوي وې په هم دې وجه باندې هغوئي د هغه دواړو حَضَراتو تكفِير اوكړو [يعنې كافِر ئې اوګرځول] ...... نو عقيده مُقدّم [اوّل] ده، عِلم و عمل وروستي څيزونه دي........

د فاضِل مُصَنِّف په نِزد عُلَمائے ديوبند سره د اَهلِسُنّت و جماعت اختِلاف د عقائِدو مُتعلِّق دې يعنې دا اِختِلاف فروعي نه بلكه بُنيادي دې. هغوئي د عُلَمائے ديوبند داسې اقوال او لِيكونه په ګوته كړي دي چه د هغې تعلق د عقائِدو سره دې او د هغې نه د اختلاف ډېر سخت قِسمه اندازه لګيدې شي..........

فاضِل مُصَنِّف دا هم ثابته کړې ده چه د تبلیغي جماعت نظریاتي بُنیاد د مولانا اشر فعلي تهانوي په اَفکارو او خیالاتو قایم دې، ښکاره خبره ده چه په داسې حال کښې د اَهلِسُنّت و جماعت د عُلَمائے دیوبند او تبلِیغي حضراتو سره یو شان اختِلاف دې........ بلکه لوستونکي په دې خبره حیران شو چه فاضِل مُصَنِّف دا ثابته کړه چه هغه عُلَمائے دیوبند چه د تبلِیغي جَماعت ملګري او مددګار وو د تبلیغي جماعت سخت خِلاف شو، چنانچه هغوئي د جَماعت د باني [یعنې بنیاد ایښودونکي] مولانا محمد اِلیاس د وړوکوالي د ملګري مولوي عبدُالرّحیم شاه صاحب دیوبندي او د مولانا محمد اِلیاس د اوښي [یعني د بچو د ماما] مولوي احتِشامُ الحسن صاحب کاندهلوي لاندې لِیکلي شوي تاثُرات وړاندي کړي دي. مولانا عبدُالرّحیم شاه صاحب فرمائي:

۱. ”کوم کار چه د اهلِ عِلم دې هغه داسې خلق کول غواړي چه هغوئي یو خو د دِین نه ناخبره دي بلکه د هغوئي د ناپوهۍ، جَهالت او بدکِردارۍ په وجه په معاشره کښې هم هغوئي ته په درنه سترګه نه کتې شي.“ (اصول دعوت و تبلِیغ ص ٤)

۲. ”زه په خدائے قَسم خورم چه د جَماعت دا تجزیه مجبوراً په نه زړه کووم او [داسې کول] دِیني تقاضه او ضرورت ګڼړم ځکه چه کله دې نابالِغه [یعنې بې عِلمه] مشرانو داسې عام خطابونه شروع کړل چه د

هغې دوئي ته شرعاً اِجازت نشته او هغوئي د دې كار په افضليّت [بيانولو كښ] د حد نه تير شو او د نورو دِيني شعبو ئې په ښكاره ميدان تخفيف [يعنې سپك والې] شروع كړو او ذِمه دارانو ته بيا بيا د توجُّه ګرځولو باوجود ئې هغوئي تر اوسه منع نه كړل يا هغوئي منع نه شو نو په داسې حال كښ دا د ذِمه وارئ خبره ده چه حقيقتِ حال واضِحه كړې شي كه څوك ئې مني او كه نه ئې مني. (اصول دعوت و تبلِيغ، ص ٥٢)

**د پاس ليكلي شوو اقتِباساتو نه دا لاندې ليكلي شوي نتيجې او عيبونه اخذ كيدې شي.**

١. د تبلِيغي جَماعت مُبَلِّغِين جاهلان او د دين نه بې خبره دي.

٢. د تبلِيغي جَماعت خلق بدكِرداره دي، په معاشره كښ په درنه سترګه نه كتل كيږي.

٣. د تبلِيغي جَماعت جاهِلو مُبَلِّغِينو ته شرعاً د خطاب [يعني بيان كولو] اجازت نشته.

٤. تبليغي حضرات چه په تبلِيغ څومره زور وركوي هغه د حد نه تير دې.

٥. د تبليغي جَماعت ذمّه وار حضرات نورې دِيني شعبې هيڅ نه ګڼړي يا ئې كمترې ګڼړي.

٦. د عُلمائے ديوبند د طرفه نه بيا بيا د توجُّه راګرځولو باوجود د خپلو كړو نه نه منع كيږي.

د دې عيبونو په رڼرا کښې چه د تبليغي جماعت کوم مخ واضحه کيږي هغه ستاسو په وړاندې دې، د تفصيل ضرورت نشته........

د عبدُالرّحيم شاه صاحب نه علاوه مولانا احتِشامُ الحسن کاندهلوي هم د تبليغي جماعت په طرزِ عمل باندې په دې الفاظو کښې خپل خيالات ښکاره کړي دي:

۱. "د نِظامُ الدّين (د علاقې) موجوده تبليغ زما د عِلم او فهم[يعني پوهې] مطابق نه د قُرآن و حديث مطابق دې اَو نه د حضرت مجدِّد اَلفِ ثاني او حضرت شاه ولیُّ الله محدِّث دهلوي او د علمائے حق د مسلك مطابق دې. کوم علمائے کرام چه په دې تبليغ کښې شريك دي د هغوئي اولنۍ ذمه واري دا ده چه دا کار مخکښې د قُرآن و حديث، د اَئِمّۂ سلف او د عُلمائے حق د مسلك مطابق کړي." (زندگی کی صراطِ مستقیم۔ضروری انتباہ)

۲. "زما د عقل او پوهې نه ډيره لرې ده چه کوم کار د حضرت مولانا اِلياس صاحب په ژوند کښې د اُصولو د ډيرې زياتې پابندۍ باوجود صرف د بِدعتِ حَسَنه حيثيت لرلو هغه اوس د ډيرې زياتې بې اُصولۍ سره د دنيا اهم کار څنګه اومنل شي؟ اوس خو د مُنکِراتو د شامليدو نه پس دې ته بدعتِ حسنه هم نه شي وئيل کيدې....... زما [د دې بيانولو] مقصد صرف خپله ذمه واري پوره کول دي."

د پاس ليکلي شوو اقتِباساتو نه دا لاندې ليکلي شوي نتيجې او عيبونه اخذ کيدې شي.

۱. د تبليغي جماعت محنت د قرآن و حديث مطابق نه دې.

۲. د تبليغي جماعت محنت د حضرت مجدِّد اَلفِ ثاني او د حضرت شاه ولیُّ الله محدِّث دهلوي او د علمائے حق د مسلك مطابق هم نه دې.

۳. د تبليغي جماعت عمل ته په شروع کښې بِدعتِ حسنه وئيلې شو خو اوس په دې کښې ډيرې خِلافِ شرع خبرې داخِلې شوي دي، ځکه ورته اوس بدعتِ حسنه هم نه شي وئيلې يعنې بِدعتِ سيِّئه شوې دې.

”چشمۂ آفتاب“ مرتّب کوونکي عالِم قمرُالدِّين مظاهري په خپل پيش لفظ کښې ليکي.

”مولانا اِحتِشامُ الحسن کاندهلوي د دې تحرِيك په بانيانو کښې يو دې. هغوئي په دې تازه ورځو کښې په تبليغي جماعت باندې سخت تنقيد کړې دې او دا ئې د ګمراهئ طرف ته دعوت ورکوونکې جماعت قرار کړې دې.“ (چشمۂ آفتاب، ص۳)

سوچ اوکړئ کوم جماعت ته چه پخپله ”علمائے ديوبند د ګمراهئ طرف ته دعوت ورکوونکي اووائي“ هغه څومره سختې ګمراهئ

طرف ته بوتلونکې کېدې شي!.......لیکونکې [یعنې عَلّامه پروفیسر ډاکټر محمد مسعود احمد] هم د تبلیغي جماعت په باره کښې خپلې ذاتي تجربې او مشاهدې لیکلي او د هغې نه د مولانا اِحتِشامُ الحسن کاندهلوي د پاس ذِکر کړې شوي فیصلې تصدیق او توثیق کیږي.

بهرحال په علمائے دیوبند او تبلیغي جماعت کښې د اختلاف نه باوجود دواړه فکري طور مُتَّفِق معلومیږي خصوصاً د حُضُورِ اَنور ﷺ په باره کښې چه علمائے دیوبند کوم ګستاخانه عبارتونه لیکلي دي تبلیغي حضرات د هغې تائید [یعنې طرفداري] کوي......

د فاضِل مُصَنِّف په نِزد د علمائے دیوبند او د تبلیغي جماعت د مُبلِّغینو کوششونه د اسلام او د شارِع اسلام [یعني د حضورِ انور ﷺ] د پاره بالکل فائِده مند نه دي ځکه چه هغوئي دواړه د حُضُورِ انور ﷺ ښکلې او زړه روښانه کوونکې شخصِیّت مسخ کړې [یعنې په وران شکل کښې] پیش کوي...........

فاضِل مُصَنِّف دا حقیقت په تمثِیلي [یعنې د مثالونو په] انداز کښې د پوهه کولو کوشش کړې دې....... لږ سوچ اوکړئ په یوه اجتماع کښې د ټولو دینونو والا راجمع شوي دي...... یو یو فاضِل د خپل مذهب د باني [وړومبي مشر] صفتونه بیانوي...... بیا د ګستاخِ رسُول وار راشي

او هغه د رسولِ کریم ﷺ عیبونه بیان کړي بیا یو عاشِقِ رسُول را پاڅي او د رسولِ پاك ﷺ هُغه هُغه صفتونه او محاسِن بیان کړي چه هر مذهب والا حیران پاتې شي........ د ګُستاخِ رسول خبرو په چا هیڅ اثر اُو نه کړو او عاشِقِ رسول میدان اوګټلو...... د دې مثال نه فاضِل مصنِّف دا خبره په ګوته کول غواړي چه که د دُنیا په مخکښې د حُضُورِ اَنور ﷺ شخصِیّت په داسې غلط انداز کښې وړاندې کړې شي څنګه ئې چه ګُستاخانِ رسول وړاندې کوي نو نه دِینِ اسلام خوریدې شي اَو نه په مسلمانانو کښې د دین هغه جوش باقي پاتې کیدې شي کوم چه قرآن و حدیث غواړي........ د فاضِل مصنِّف په خیال کښې زمونږه د ټولو پریشانو او تباهیانو اصل سبب د زړونو نه د حُضُورِ انور ﷺ د محبّت او د تعظِیم وتل دي...... بې شکه دا رښتیا او حق خبره ده.

ع به مصطفٰی برساں خویش راکہ دیں ہمہ اوست

**د شعر د مصرع ترجمه:** دین اصل نوم د نبي ﷺ دې. یعني څوك چه د نبي ﷺ ادب نه کوي هغه هم د ابولهب په شان دې.

د علمائے دیوبند او د عُلمائے اَهلِسُنّت و جماعت اختلافات ذِکر کولو نه پس فاضل مُصَنِّف تپوس کوي چه آخِر دا جګړه به ختمیږي

څنګه؟.......... ضرور ختمیدل پکار دي، په جګړه جګړه کښې کلونه تیر شو....... د دې آسان حل هم دا دې چه کومو خلقو ګُستاخیانې کړې دي هغوئي کافِر اوګڼرو، د هغوئي نه جُدا شو او مونږه د سلَف صالحین په نقشِ قدم باندې مُتَّحِد او مُتَّفِق شو...... دا هیڅ مشکله نه ده، د ناموسِ مصطفٰی (ﷺ) د پاره هر څه قربانول پکار دي....... خو د بیشمیره کوششونو باوجود داسې نه کیږي...... ولې......؟

فاضِل مُصَنِّف د ماضي [یعنې د تیر وخت] د سرسري جائِزه اغستو په رنړا کښې د دې وجوهات ښودلي دي........ کوم یهود و نصارٰی چه د رسُولِ اکرم ﷺ نه خفه وو، هغوئي په زړه کښې نه وو مسلمانان شوي، ټول فساد د هغوئي دې. په هغوئي کښې یو یهودي عالِم عبدالله بن سبا وو، هغه (په ښکاره خو) مسلمان شوې وو خو هغه داسې داسې کارونه اوکړل چه هغه یو کافِر او مُشرِك هم نه شي کولې........ منافقین که د هغه وخت وو او که د دې دور دي، خو ټول په فِکري اعتبار د هغه باغیانو سره مُتَّفَق دي ځوك چه د ناموُسِ مصطفٰی ﷺ [یعني د حضورِ اقدس ﷺد عِزّت] دُښمنان دي.

د فاضِل مُصَنِّف په نِزد هغه باغیان، سرکشه او ګستاخان سرکارِ مدینه ﷺ پخپله په ګوته کړي [یعني ښودلي] وو......... دا حدیث مبارك په غور اولولئ، څلور واړه طرفه ته اوګورئ، د خپل طرزِ عمل جائِزه واخلئ او دُعا اوکړئ چه الله تعالٰی دِ مونږه په سمه لار روان کړي.

واورئ..........

حضورِ اکرم ﷺ د مسلمانانو په لښکر مالِ غنيمت تقسيمولو، واقِعه داسې اوشوه چه يو کس **حرقوس بن زهير** چه هغه د **ذوالخويصره** په نوم ياديدو، هغه اووئيل:

"يا رسُول الله تاسو عدل [يعني اِنصاف] اُو نه کړو"

حضرت عُمر فاروق رضی اللہ تعالیٰ عنہ د هغه ګُستاخه او بې ادبه د ښټ وهلو اِجازت اوغوښتلو، سرکارِ دوعالم ﷺ اجازت ور نه کړو او **ذوالخويصره** ته ئې اوفرمائيل:

**زه د الله نبي يم، که زه عدل نه کووم نو د زمکې په سر به زما نه زيات عدل کوونکې څوک وي؟**

تاسو غور اوکړو، حضُور ﷺ ته به صحابۀ کرامو څومره په آزادئ د زړه خبره کوله، خو چه کله هغه آزادي ګُستاخئ ته اورسيده نو بيا هغه صحابي، صحابي پاتې نه شو بلکه ګُستاخِ رسول او بې ادبه شو، او د هغه په باره کښې چه د حضرتِ عمر رضی اللہ تعالیٰ عنہ فيصله دا ده چه د هغه ښټ دِ اووهلې شي..... بيا دا غور هم اوکړئ چه حضورِ اکرم ﷺ د **ذوالخويصره** ترخه خبره څومره په رونړ تندي برداشت کړه او هغه ته ئې د هغه ترخې خبرې ډير زيات خوږ جواب ورکړو.........خو د هغې نه پس د سرکارِ دوعالَم ﷺ مبارك نظر د مُستقبل يوه يوه پرده پورته کوي او مونږه خبرداروي، څوك چه دا وائي چه حُضورِ انور ﷺ (معاذَالله) د ديوال نه د

اخوا څيز عِلم نه لري، هغه دِ اوګوري چه د هغوئي ﷺ نظر د کوم کوم ځائ پورې رسي......واورئ........هغوئي صحابهٔ کرامعَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان ته اوفرمائيل:

**"دا به اوس ژوندي اوسي، د ده د نسل نه به مسلسل خلق اوځي."**

بيا ئې د ذوالخُويصره نښې بيان کړې، هغه نښې لږ په غور سره اولولئ او بيا اوګورئ چه دا کوم کوم ځائ موندلې کيږي، د داسي خلقو نه بچپله هم ځان ساتئ او نور مسلمان ورونړه هم ترې بچ کړئ .........

اوس دا نښې مُلاحظه کړئ:

١. دا خلق به په سر ويښته نه پريږدي (يعني سرونه به خرَوي).

٢. د پاجامو او پرتوګ پينځې به د ګيټو [يعني پړکو] نه ډيرې زياتې اوچتې ساتي.

٣. اوږده اوږده نمونځونه به کوي چه نور خلق د هغوئي نمونځونه اوګوري نو خپل نمونځونه به حقير [يعني کمتر] اوګڼري.

٤. دا به قرآن په ډيره ښکلي طريقه لولي خو قرآن به صِرف د دوئي په ژبه وي د دوئي د مرئ نه به ښکته نه کوزيږي [يعني دننه په زړه کښې به ئې د دې څه اثر نه وي].

٥. ژبې به ئې د شَکَرو [يعني چينئ] په شان خوږې وي خو زړونه به ئې د شرمښانو نه زيات سخت او بد وي.

٦. د شکل و صورت وغيره نه به ډير نيك ښکاري خو د دِين نه به داسي وَتلي وي څنګه چه غشي د خپل ښکار نه اوځي.

٧. دا خلق به بخپله بد [يعني ناكاره] وي او بدي به خوروي.

تاسو دا نښې ملاحظه كړې، كومې چه رښتيني خبر وركوونكي حضرت محمد ﷺ څوارلس سوه كاله مخكښې ارشاد فرمائيلي دي.......... د اهلِ سُنّت و جماعت نه جُدا شوي په هره ډله كښې به تاسو په دې نښو كښې څه نه څه نښه ضرور مومئ ................

بيا يوه نښه بله ده چه هغه حضرت عبدُاللّٰه بن عُمر رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا بيان كړي ده هغه دا ده چه داسي قرآني آيتونه كوم چه د بُتانو او كافِرانو او مشركانو په باره كښې دي هغه به په مسلمانانو پورې نخښلوي لكه دا آيتونه چه د هغوئي د پاره نازل شوي وي. داسي خلق حضرت عبدُاللّٰه بن عُمر رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا بدترين مخلوق قرار كړي دي. واورئ هغوئي څه فرمائي:

د اللّٰه په مخلوق كښې د ټولو نه بد خلق هغه دي څوك چه د كافرانو او مشركانو په باره كښې نازل شوي آيتونه په مسلمانانو پورې نخښلوي.

دا معيار چه مخې ته كيږدو نو د باطله ډلو پيژندل آسانيږي. په جمعةُ المُبارَك او عام تقريرونو كښې څيني حضرات داسي كوي او هغوئي ته معلومه نه ده چه هغوئي د خپل دې عمل په وجه بدترين مخلوق شميرلې كيږي. اللّٰه تعالٰى دِ مسلمانان د داسي خلقو نه محفوظه اوساتي. اٰمين

د موجوده دور مسلمانان ځلمي د اختلافي جګړو په وجه څه يريدلي غوندي معلوميږي او تپوس كوي چه مونږه په كومه لار روان شو؟ ........ مونږ چه څه عرض كړل د هغې په رڼړا كښې به منزِل معلومول آسان شي.....

فاضل مُصَنِّف ډېر ښه فرمائيلي دي چه مونږ ته پکار دي چه په هغه لار روان شو کوم ځائ چه صرف محبَّت او محبَّت وي ........ د سرکارِ مدینه ﷺ سره محبَّت، د اهلِ بیتو سره محبَّت، د پاکو بیبیانو سره محبَّت، د صحابهٔ کرام سره محبَّت، د تابعینو سره محبَّت، د تبع تابعینو سره محبَّت، د مُحَدِّثینو او فقهاؤ سره محبَّت، د اهلُ الله سره محبَّت، د عُلمائے حقّ او مشائخِ کرامو سره محبَّت، ........غرض دا چه په کومه لار کښې د محبَّت ګلونه خواره وي، په هم هغه لار روان شئ او په هغه لار مه ځئ په کومه لار کښې چه ازغي وي او غنې غنې وي. الله تعالیٰ دِ زمونږه زړونه په محَبَّت آباد ساتي او د خپل حبیب ﷺ داسې محبَّت دِ را عطا کړي چه د هغې په مقابَله کښې د دُنیا د ټولو محبتونه هیڅ حیثیت نه وي.

اٰمِیْن بِجاہِ سَیِّدِ الْمُرسَلِیْن رَحْمَۃٌ لِّلْعٰلَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَ ازواجه و اصحابه وَسَلَّم

اس دور کی ظُلمت میں ہر قلب پریشان کو
وہ داغِ مَحبّت دے جو چاند کو شرمائے

د تیَرو په دې دوران کښې هر خفه زړګي ته ورکړې
د عِشق داسې رنړاګانې چه سپوږمۍ ترینه شرمیږي

اٰمین

۲۱ ذوالحج ۱٤۱۲ھ
23 جون 1992ء

**ډاکټر محمد مسعود احمد**

اَللّٰهُ رَبُّ مُحَمَّدٍ صَلّٰی عَلَیْهِ وَ سَلَّمَا

## پيش نوشت

چه رښتيا اووائم نو په دِينی، روحانی او عِلمی مُعامَلاتو کښې زما حيثِيَّت د يو طالِبِ عِلم دې. که څه حرف يا لفظ مي ياد وي او د هغې د استعمالولو څه نه څه طريقه راځي نو هغه زيات د خپل ماحول په وجه او د خپلو محترمو والدَينِ کريمَين، د خپل محترم نِيکه [يعني د پلار پلار]، د خپلې نيا صاحبې او اُستاذانو و مَشائخو د تربِيَّت په ذريعه دي، هغه مُحتَرمو او مُعَزَّزو هستيانو د ژوند په هر وخت کښې زما د شُعُور لار ښودنه کړې ده. د ماشوم والي نه راته د کتاب و قلم، مدرسه و مکتب، ديني و روحاني مباحثه و مشاهده سره تعلق نصيب شوې دې. د ديرشو کالو نه زيات ژوند مې تير شو، ما ته دا اندازه شته دې چه مخې ته سفر د سمندرونو دې او د ژوند کِشتئ مې ډيره بې اعتباره او ډيره زر ختميدونکې ده، بيا هُم دا يقين لرم چه که د خپلو بُزُرګانو مهربانئ او د ملګرو دُعاګانې راسره مَل وي، نو په خپلو کوششونو او لټون او ذوق و شوق کښې به راته څه نه څه کاميابي اِنْ شَآءَاللہ نصيب شي.

مخکښې به هم دې اِحساس ډير تکليف راکولو، په تيرو ورځو کښې د افريقې ملکونو په سفر تلې ووم نو دا احساس مې نور زيات شو. په خپل مُلك کښې او د مُلك نه بَهَر مې هم د اسلام په منونکو

کښې دا ډېره زياته عجيبه خبره ليدلي ده چه دا ټول په خپل ګريوان پورې نښتي دي، بل ته به څه ګوته اونيسو، دا (تش د نوم) د مدينې لار ښودونکي، د رښتيا وينا دعوی لرونکي مُبلِّغ، (په خپل ګمان کښې) د امن او سلامتيا جنډه پورته کوونکي، په خپله ژبه او قلم او عمل او کردار خپل قوم او مِلّت او خپل محراب او منبر رسوا کوي. دا د غم نه ډک بيان کولو سره مې زړه وِينې تويَوي چه مونږ خپل طاقت په دې اختلافاتو کښې لګوو. او څومره سِتم [يعني ظُلم] دې چه جنګ او اِختلاف هم د خپل مرکز په باره کښې دې. د رَسُولُ اللّٰه ﷺ نه بغير د دِينِ اسلام تَصَوُّر نه شي کيدې. او هُم د رَسُول د عظيمې هستۍ په تفسير او تعبير، تشريح او صِفَت بيانولو کښې اِختلاف دې.زما رَسُول (ﷺ)زما اِيمان دې او د آئينې په شان دې. هغه رَحمَتِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم، شَفِيعِ مُعَظَّم (ﷺ) دې. هغوئي د سړې خورو څناورو په شان انسانانو ته د سړي توب شرف اوبخښلو، هغوئي په خپل عظيمو اخلاقو نفرتونه په مَحَبَّت کښې بدل کړل. د دې مُقَدَّس او پاك رسول ﷺ تعليم و تربِيَّت په صحراؤ کښې څاروي څروونکي شپونکي د راروان نسل مشران جوړ کړل. واقِعه دا ده چه ما په ټوله دُنيا کښې د بل دِين و مذهب داسي کس نه دې ليدلې چه هغه د خپل دِيني پيشوا په باره کښې داسي کړې او اِختلافي خبرې کړي وي چه هغه خبرې په بې ادبۍ، ګستاخۍ او بد

زبانۍ کښې شمارل شي. کيدې شي چه د نورو قومونو خلقو دا طريقه نه وي جوړه کړي کومه چه مونږه احسان هيروونکو د خپل رهبرِ کامل، مُحسِن اعظم ﷺ د پاره جوړه کړي ده.

په دې خبره نه پوهيږم چه د خپل نَبِي ﷺ په صِفاتو اعتراض کوونکي او د هغوئ په شان کښې کمې کوونکي که په خپل فِکر او عقيده کښې دومره پاخه وي، او د هغوئ د الله سُبحَانه عظيمُ الشَّان رسول ﷺ خوښ نه دې او د هغوئ ﷺ خاصيتونه او کمالونه، تعظيم و توقير [يعني زيات عَزَّت کول] ئې خوښ نه دې نو بيا په داسې نَبِي باندې د ايمان راوړلو او د هغوئ د تابعدارئ کولو په دعوٰی پورې ولې نخښتي دي؟

مونږه د الله سُبحانَه په نبی باندې د ايمان راوړلو او د هغوئ د مبارکو خبرو او کِردار د تابعدارئ د پاره د خپله ځان نه د جوړو کړو طريقو او قاعدو پابند نه يو، بلکه د کتاب و سُنَّت پابند يُو. د نبی سره زمونږه تَعَلُّق د يو فلسفي، مُفَکِّر، اُستاذ، حاکم او محکوم، بادشاه او رعايا، فاتح او مفتوح، آقا او (په زور، جبر جوړ کړي د) غلام [په شان] نه دې، بلکه دا تعلق د يو رهبر او لار ښودونکي او د يو نبی او اُمَّت په حيثِيَّت دې، او د ټولو نه زيات دا تعلُّق د محبوب او د مُحِبّ په طور دې. د رَسُولُ الله ﷺ سره زمونږ د تَعَلُّق بُنياد عشق

دې. هغوئي زمونږ آقا دې او زمونږ غلامي څه د خرڅ شوي يا اخستي شوي غلام په شان نه ده، بلکه پخپله مو اختيار کړي ده. دا نسبت خو د عِشق دې، نو د غسې هغوئي ﷺ زمونږ فاتِح هم دې، حاکِم هم دې، زمونږه بادشاه هم دي او زمونږه اعلٰی اُستاذ هم. د مومِن اِيمان مومِن ته د عِشق و تعظيم درس ورکوي او چه خبره د عشق ده نو خپل حبيب ﷺ ته ګوته نيول خو پريږده، سترګې اوچتول هم ورته د بې ادبئ په حکم کښې راځي. دا خو سراسر د نيازمندئ مُعامَله ده. محترمو صاحبانو! څوك چه زمونږه څه بلکه د خوږ الله عَزَّوَجَلَّ محبوب وي د هغوئي مقام به څه وي او د هغه مقام اوچتوالې به څومره وي!

عشق سے ہو جائے ممکن ہے و گر نہ عقل سے
کیا مقامِ مُصطفٰی ہے، فیصلہ دُشوار ہے
که په عشق شي نو کيدې شي، ګني عقل نه پوهيږي
څه مُقام د مصطفٰی دې، فيصله ده ډيره ګرانه

خلق چه وائي "هغه دِ وائي" د هغوئي په زړه کښې چه څه راځي وائي دي، بس ته خاموشه اوسه او د اِتِّحاد [يعني يو والي] خبره کوه. څه چه کيږي هغه هم هغسي پريږده، اِنسان سپوږمئ ته اوختو او دا مُوليان صاحبان اوس هم د مياشتې د ښکاره کيدو او نه ښکاره کيدو په جګړه دي. خلق وائي "د جِدّت [يعني نوي] خبرې کوئ، دِين لږ

ماډرن کړئ، نوي سازونه راوړئ، ښخواني سازونه، ښخوانئ طور طريقې بدلې کړئ، زمانه د تيزئ او د تيز رفتارئ ده او تاسو معلومه نه ده چه د کوم ځائ مَسئلې او د کوم ځائ اِختلافات نيولي دي......"

بيشکه وخت ډير بدل شوې دې خو داسي هم نه دې بدل شوې چه ګني انسان د انسان نه بې پرواه شوې وي او د غيرت و عِزَّت، د خودئ او اَنا اور په انسان کښې مړ شوې وي. دا د نوي نوي څيزونو اِضافه، د اوچتو اوچتو ښارونو جوړول، د قِسما قِسم مشينانو او ټيکنالوجي ترقي، او دا ځليدل او پړقا ډير زيات حيرانوونکي دي. انسان ډير په دوکه کښې اخته شوې او ډير ګُمراه شوې دې. د دنيا نوو نوو رنړا ګانو د هغه سترګې بريښولي دي، خو [دا غور اوکړئ چه] آيا انسان هم بدل شوې دې؟ آيا هغه په سر ګرځيدل شروع کړي دي؟ د خپل حبِيبِ پاك ﷺ په باره کښې چه د ګمراهانو مُلايانو اعتراضونه او سازشونه اورم نو د غيرت لفظ راته بې معنٰى معلوميږي. که هُم داسې بيانونه د دې خلقو د نِيکونو، خانداني روايتونو او رسم و رواج په باره کښې اوکړې شي نو دوئي جنګ ته تيار شي. که څوك د چا په ملګري پورې بد رد وائي نو دا کس چرې د يو مُفتى نه د فتوې اغستلو يا قاضي له د دې په باره کښې د قانون معلوملو د پاره نه ځي بله ښخپله چاړه [يعني خنجر] را واخلي او د هغه ګُستاخ، او بد زبانه سره هيڅ رعايت نه کوي. دا خو د عامې خپلولئ، او دوستانې

مُعامَله ده. خو چه کله خبره د نبي ﷺ وي او د نبیانو د نبي ﷺ وي نو بیا به حالت بل شان وي. د نبي ﷺ سره د اُمَّتي تَعَلُّق د ټولو نه جُدا دې، د هرې دُنیاوي خپلوۍ نه اوچت دې. دا د دِماغو نه، بلکه د زړه مُعامَله ده. دا د روح، روحانِیَّت، د رِښیني، سلامتۍ او د عشق خپلوي ده. په نبي ﷺ باندې ځان قربانوونکې به د خپل محبوب ﷺ په باره کښې دا نازیبا خبرې څنګه په خاموشۍ برداشت کړي؟ دا د ټولو نه زیات زړه خفه کوونکې دي. د دې نالائقه او خبیثانو خلقو دا ظُلم د یوې مودې نه جاري دې او اوس څه ډیر زیات سخت شوې دې.

دا اِختلاف صرف د اِختَلاف د پاره نه دې، مختلِف کیدل جُدا خبره ده او مُخالِف کیدل جُدا [خبره]. د دې ظالمَانو، مخالِفو د ټولو اعتراضاتو او اِختلافاتو بنیاد د دوئي بیکاره عقل دې. د اِنسان عقل آخِر وي څومره! شاعِرِ مشرق علامه محمّد اقبال مرحوم څه ښه وئیلي دي:

گزر جا عقل سے آگے کہ یہ نُور
چراغ راہ ہے، منزل نہیں ہے

عقل نه تیر شه مخکښې، چه دا رڼړا د لار ډِیوه ده، منزِل نه دې

اِنساني عقل د زمانه تیریدو سره سره ډیر کمالونه کړي دي. د انساني عقل د کاریګرۍ په وجه نن انسان د مرغو په شان په هوا الوَځي، انسان ځان ته بچپله وزرې لګولي دي. انسان د خپل ځان په

شان د اوسپني انسانان جوړ کړي دي او هغه د انسان نه زيات محنت و مُشقّت او ډېر په تيز رفتارئ کارونه کوي. د اِنساني آواز اوس دومره تيز شوې دې چه د قُطبِ شمالي نه څوك غږ اوكړي نو په قطب جنوبي كښې اوريدې شي.......... او د انسان د ټولو نه غټه عقل حيرانوونكي كارنامه فاصِلې را نِزدې كول دي. انسان د دُنيا مشرق، مغرِب، شُمال او جُنوب راغونډ [يعني رانِزدې] كړي دي. هغه كه د سحر طعام په مشرق كښې اوخوري نو د غرمې طعام په مغرب كښې [كوي]، خو انسان د دومره طاقت او قدرت لرلو نه باوجود څومره بې وسه او بې كسه دې، څومره نِمګړې او كمزورې دې. هغه دُنيا د وباګانو نه پاكه كړه خو د مرګ نه په بچ كيدو قادر نه دې، هغه فِطرت بدل كړو خو د هواګانو، طوفانونو او آتش فشاؤ په مُقابَله كولو كښې ناكامه دې. انساني عقل د نن ورځې پورې دا خبره حل نه كړې شوه چه د يو انسان د غټې ګوتې نقش د بل انسان په شان ولې نه دې. دا خو وړوكې خبره ده، د ټولو نه غټه د حيرانتيا خبره خو ټولې دا كائنات دي. دا زمكه، آسمانونه، سپوږمئ، ستوري، دا دريابونه، سمُندرې، سيَّارې، دا صبا او ماښام كيدل، د موسِمونو دا رنګونه او دا قوسِ قزح [يعني د نمر د پلوشو د شنو او سرو رنګونو ټال]، دا قِسماقِسم رنګونه او رنړاګانې، دا ټول څه دي؟ ولې دي؟ او د چا د پاره دي؟ ..............

مرګ او ژوند او دا کائناتي نظام د انساني عقل او طاقت نه بَهر دي. الله پاك بيشکه انسان له عقل ورکړې دې خو بې حده او بې حسابه ئې نه دې ورکړې. څوك چه د خپل حد نه تير شو، هغه اونښتل، سترګې د هغه ځائ پورې ليدل کولې شي څومره چه د هغې په اختيار کښې وي. دماغ دومره سوچ کولې شي څومره چه د هغه طاقت وي، د دې نه زيات [سوچ] کولو سره رګونه شليږي.

عقل منزل نه دې. د انسانانو په زرګاؤ نسلونه تير شو، که عقل منزل وې نو انسان به يو منزل ته رسيدلې وو. عقل لاره کيدې شي، منزل نه شي کيدې. يو شاعِر وئيلي دي:

شاید اسے عشق بھی نہ سمجھے

جس کرب میں عقل مبتلا ہے

شايد چه عشق هم په دې پوهه نه شي

په کوم تکليف کښې چه اخته دې عقل

د عقل د پاره تکليف لازم دې ځکه چه عقل ډير کمزورې څيز دې ، دا خو د وومې دروازې نه پس رپيږي. عِشق په خپل ځائ ځپله منزل دې.عشق د انسان فضيلت دې او کائنات د عاشق مخې ته د سراب [يعني دوکې، ټګئ] په شان دې. عاشق ځپله يو کائنات دې. عشق حقيقت دې دا منزل او دا آبِ حيات او هميشه پاتي کيدونکې دې.

عقل اِبتِداء [یعني شروع] ده، عشق اِنتِها [یعني آخِري منزل دې].
عقل کمیت [یعني اندازه بیانوونکې] دې عِشق کیفیت [یعني حال بیانوونکې] دې. عقل د انسان صِفَت دې، عشق د انسان معراج دې. عقل شك دې عِشق یقین دې. غرض دا چه عقل یو ځائ اِنکار دې او بل ځائ اِقرار دې. او عِشق صرف اِقرار دې. عقل خوب دې او عشق د هغې تعبیر [یعني معنٰی ده]. عقل دوکه ده او عشق حقیقت دې. (د عقل نه مراد ګُستاخي، بُهتان، اِلزام لګول او کنزلې نه دي).

د عشق د درَجې په باره کښې د حضرت بایزید بسطامی رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه نه تپوس اوکړې، روایت دې چه "د هغوئي روح په عالَمِ ارواح کښې اویا زره کاله والوَځي او دا وائي چه د شانِ مُصطفٰی ﷺ حد معلوم نه شو."

مونږ دیوانه خلق [یعني عاشقان] د یار ښار مدینه په عقل نه، په عِشق پیژنو. اِیمان عِشق دې. اعتراضونه او اِختلافات ټول د عقل کار دي، د عِشق دا طریقه نه ده. عِشق خو سراسر اطاعت و رِضا ده. عشق سوچ نه کوي، ګوري، او د خپل محبوب دیدار کوي، د خپل حبیب ښائست ګوري. هغه خو حکم اوري او سر ښکته کوي، دا [عِشق] خو د خپل حبیب هره ادا خوښوي، هغه خو د حبیب د وجود حِصّه ده، د هغې سورې او عکس دې........

زمونږه رسول ﷺ د **الله** پاك د طرف نه زمكې ته رالیږلې شوې آخِري تاجدار دې. هغوئي ﷺ د انسانانو، فرښتو، پیریانو، د حورو او غِلمانو رَسُول دې. هغه د وَنو كانړو، ذرو، څاڅكو، پاڼړو، غرونو میدانونو، هواګانو، اوبو، خُشكئ او ګلونو او د هر چا رسول دې. په هغوئي باندې ټخپله خالِقِ حقیقي عَزَّوَجَلَّ درود و سلام لیږي، د هغوئي د زُلفو او مخ مبارك قَسَم كوي، د هغوئي اِطاعت ته خپل اِطاعت او د هغوئی بیعت ته خپل بیعت وائي. د هغوئي لاس ته خپل لاس، او د هغوئي تابعدارئ ته خپله رضا وائي. د هغوئي غُلامانو ته د جَنَّت زیرې وركوي او انكار كوونكو ته د دوزخ د تكلیفونو خبردارې وركوي.

**د دیوبند نه بریلي ته**، د تیَرو نه رنړا ته او د بیكاره عقل نه حقیقي عِشق ته د سفر یوه قِصّه ده. د بریلي پیژندګلو، عشقِ رسول ﷺ دې، ځكه چه دا [عشقِ رسول] د اِیمان ژوند دې، هغوئي [یعني اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه] وائي:

میں تو مالک ہی کہوں گا کہ ہو مالک کے حبیب
یعنی محبوب و محِبّ میں نہیں میرا تیرا

**د شعر ترجمه**: یا رسولَ الله ﷺ زه خو به تاسو ته مالك وایم ځكه چه تاسو د مالِك [یعني د الله عَزَّوَجَلَّ] حبیب ئې، او دا ځكه چه په محبوب او مُحِبّ كښې دا

خبره نه وي چه دا څيز زما دې او دا ستا دې.

او د ديوبند نښه، بې واکې [يعني جليبه] عقل دې. د هغوئي وينا ده چه **"څنګه يا څومره علمِ غيب چه رسُول الله (ﷺ) ته حاصِل دې داسي ځناورو ته هم حاصِل دې."** (معاذَاللّٰه)

د مقابَلې او موازنې [يعني يَو شان والي] خبرې دِ هُغه خلق کوي څوك چه صرف د عقل سره کار لري. دا عاجِز او د آلِ رسول د ښپو خاورې خو د عِشق د پيغام دعوت ورکوي. د عقل پيمانه د جاهِل او عالِم يو شان والې ښه نه ګنړي نو د نبي او اُمَّتي يو شان والې به څنګه قبول کړي. اُمَّتی هم بَشر دې ، نبی هم بشر [دې] خو دا نبی (ﷺ) داسي بشر دې چه بې مِثله، بې مثاله دې. هغوئي (ﷺ) د ټولو [خلقو] نه بالکل جُدا دې. نه څوك د هغوئي (ﷺ) برابر شته ، نه څوك مرتبه کښې يو شان شته. زما د نبی (ﷺ) په باره کښې د خدائے پاك ارشاد دې: **"دوئي په خپل خواهش شُونډې هم نه خوزوي، د دوئي شونډې مبارکې هله حرکت کوي چه کله زمونړه وحي کيږي."** دا نبي ﷺ په خپله ژبه مبارکه پخپله ارشاد فرمائي: **"زه ستاسو په شان نه يم." (لَسۡتُ مِثۡلَکُمۡ)**

چه کله قرآن اووئيل چه: اے نبی (ﷺ) اوفرمايه، زه په ښکاره صورتِ بَشَري کښې ستاسو په شان يم. نو که د دې رَمز او کنايه [يعنې اشارې] نه مراد په بشريت کښې برابري وي نو د رِسالت اِنکار به هم راځي ځکه

چه د وَحيِ رَبّاني د پاره ټول خاصيتونه او كمالونه او فرق و شرف د هر بشر خاصه نه ده. داسي بيشميره عقلي توجيهات بيانيدې شي. د دې ارشاد حقيقت دا دې چه (د نَبُوّت كمالونه او د نبی خاصيتونه اووينئ نو) د عيسايانو په شان نبی خدائ اُو نه ګڼړئ، د نبی ﷺ دُنيا ته راتلل د بشر په لِباس كښ شوي دي، نبی كله هم خدا نه دې.

زه د دې عقل او هوش لرونكو خلقو نه تپوس كووم كه په برابرئ باندې اِصرار [يعني ضِد] كوئ نو د بشريتِ مُصطفٰى ﷺ يو ذرَّه په خپل ځان كښ اوښائې. د رسُولِ اكرَم ﷺ د برابرئ دعوٰی او رسول ته صِرف بشر وئيل زما په مَسلك كښ بے ادبي او كفر دې. او قرآن وائي چه نبی ﷺ ته د خپل ځان په شان بشر وئيل د كافرو طريقه ده. په قرآن و حديث كښ د ايمان والؤ د پاره چرې هم داسي يو فرمان نشته چه نبی ﷺ ته د خپل ځان په شان بشر اووائې بلكه په قرآن كريم كښ صفا راغلي دي چه څنګه تاسو په خپل مينځ كښ يو بل ته غږ كوئ نبی كريم (ﷺ) هيڅ كله هم داسي مه رابلئ.

د ډير وخت نه زه د دې قرض بوج په ځان محسوسووم. نن په دې قرض ادا كولو خپل بدن لږ سپك محسووم. اوس هم ډير څه پاتي دي، اوس هم لا ډير مسائِل حل كول باقي دي، دا اوّلني قِسط اوګڼړئ، پاتي د ژوندي پاتې كيدو په شرط اِنْ شَآءَ اللّٰهُ تعالٰى بيا سهي.

ما کوشش کړې دې چه د عقل او پوهه دعوی لرونکو ته د هغوئې په انداز کښې جواب ورکړم. په دليلونو نه، د مَنطِق او استِدلال په ژبه نه. بس زما په نِزد د ټولو سوالونو صرف يو جواب دې، او هغه دې **عِشق**

ع **عقل قربان کُن به پيشِ مُصطفٰی** (ﷺ)

(ترجمه: يعني عقل په خوږ پيغمبر ﷺ باندې قربان کړه)

خو دا د سرمستئ [يعني بې خودئ] خبره ده. صرف ظاهر ته کتونکي په دې نه پوهيږي.

د کتاب د لوستلو نه پس که څوك نور وضاحت غواړي نو د دې فقير دروازه برسيره ده. د هر کتاب حواله ليك ده او د هرې حوالې سند موجود دې. دا کتابونه عام دي. په چا باندې بهتان يا دروغ تړل، د مومِن طريقه نه ده. يوه ورځ به مونږ ټول په ميزان حاضريږو. که په زړه کښې د هغه ورځې خيال ساتئ نو فيصله به په عدل و انصاف کيږي ګني د قبر منزل څه لرې نه دې......

# کوکب نورانی را احمد شفیع

(اوکاړوي غُفِرَلَهٗ)

## اَللّٰهُ رَبُّ مُحَمَّدٍ صَلّٰی عَلَیْهِ وَ سَلَّمَا

د رحمتِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم، شَفیعِ مُعَظَّم ﷺ ارشاد مُبارَك دې: ”چا چه كلِمهٔ طَيِّبه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) اولوستله هغه جَنَّت ته داخِل شو.“ دا ارشاد مُبارَك بالكل صحيح دې ځكه چه دا د رسُولِ كَريم ﷺ د ژبې مُباركې نه ادا شوې دې.

په دې ژبه مبارَكه باندې د هيڅ شك ګُمان نه شي كيدې. دا هغه ژبه مباركه ده كومې چه انسانيت ته د معبودِ حقيقى الله تعالىٰ پيژندګلو وركړې ده. دا ارشاد مُبارَك عام دليل دې. چه څوك كلِمهٔ طَيِّبه اولولي نو هغه د دِينِ اسلام پابند شو. په دې كلِمهٔ باندې مكمل يقين ساتل او د دې هر قِسمه پابندي په دې كس باندې لازمه شي. كه څوك دا كلِمه اولولي او د ضرورياتِ دِين نه د يوې قطعي خبرې هم انكار اوكړي نو د خاص دليل په وجه هغه كس د دې عام دليل نه خارج شي ځكه چه د مُومِن كيدو د پاره د ټولو ضرورياتِ دِين مكمل منل ضروري دي او د دِين د يوې قطعي خبرې انكار هم د كفر (د پاره كافي) دې.

څنګه چه قادياني مرزائي احمدي خلقو صرف د ختمِ نَبُوَّت انكار اوكړو او د ايمان نه اووتل. ښكاره خبره ده چه ختمِ نَبُوَّت يعني حُضُورِ اكرم ﷺ آخِري نَبـی منل دا عقيده ده، عمل نه دې او ايمان په اصل كښې د صحيح او ضروري عقيدې د منلو نوم دې. د چا چه عقيدې صحيح نه وي هغه د كلِمهٔ طَيِّبه وئيلو، نمونځ كولو او روژې نيولو باوُجود په خپله اِيماني دعوىٰ كښې رښتيني نه شي كيدې. حُضُورِ اكرم ﷺ چه كله د

دې دُنيا نه تشريف يوړلو نو ځيني قبيلې صِرف د زکوٰة مُنکِرې شوې حالانکه هغوئي د نمونځونو او روژو مُنکِر نه وو خو خليفهٔ رسول حضرتِ ابوبکر صِدّيق رضی اللہ تعالیٰ عنہ د هغه خلقو خِلاف جِهاد فِی سَبِيلِ الله اوکړو. د دِينِ اسلام قبلولو نه پس چه څوك د قطعي او ضروري اسلامي عقيدو نه اِنکار اوکړي او توبه اُو نه کړي نو هغه ته په شرعی اصطِلاح کښې مُرتَد وئيل شي او د دې سزا په شريعت کښې قتل دې. دا اُصول دې چه د قانون مُنکِر ته غَدَّار او باغي وئيل شي او د دُنيا په هر قانون کښې د غدار سزا قتل دې.

د نن صبا په دور کښې ډير خلق د ايمان او اسلام خود ساخته ټيکداران جوړ شوي دي، د هغوئي عقيدې هيڅ کله صحيح نه دي حالانکه هغوئي قرآن لوَلي او د نمانځه روژې هم پابند دي. د کتاب و سُنَّت علم لرونکي هر کس ته دا ښه معلومه ده چه رسُولِ اَکرَم ﷺ د کلِمه لوستونکو او نمونځ ادا کولو والؤ ډيرو خلقو نومونه اخستي وو او د خپل جُمات نه ئې د وتلو حُکم ورکړې وو. دې خلقو ته په قرآن و حديث کښې مُنافِق وائي. د دوئ په باره کښې الله تعالیٰ ښکاره فرمائيلي دي چه ”هغه خلق کوم چه دا وائي چه مونږه الله او قِيامت منو هغه خلق هيڅ کله مومِنان نه دي. د دې وجه ئې دا هم ارشاد فرمائيلي ده چه د هغې خلقو په زړونو کښې بيماري ده“ (سورهٔ بقره آيت ۸)

يقيناً هغه بيماري اِختلاج [يعني د زړه د بې قراري] يا د زړه په غلطه طريقه باندې د درزيدو نه وه بلکه هغه بيماري دا وه چه د هغه خلقو د

زړه نظريات يعني عقيدې صحيح نه وې. اګر چه هغه خلق کلِمه ويونکي او نمونځ ګزاره وو خو د اللهعَزَّوَجَلَّ فرمان دا دې چه هغه مومِنان نه دي. په زړه کښ د بيمارۍ وئيلو مراد دا دې چه ايمان د انسان په زړه کښ وي دغه رنګ د کافِر کفر او د منافِق منافقَت هم د هغه په زړه کښ نقش [يعني پوخ] وي، يعني عقيده د زړه د پخې نظرئيے نوم دې.او په آيتونو کښ صفا بيان شوي دي چه د چا عقيده صحيح نه وي هغه که هر څومره د نمانځه او روژې پابند وي هغه هيڅ کله مُومِن نه شي کيدې.

لوستونکي او اوريدونکي نارينه او زنانه خاص طور ځلمې نسل په دې مرحله کښ ډير زيات په ذِهني پريشانۍ کښ اخته شوې دې، ځکه چه په مسلمانانو کښ ډيرې ډلې جوړې شوي دي او هره ډله د کتاب و سُنَّت نه خپل ځان د صحيح ثابتَوَلو کوششونه کوي، او خپل مُخالِف ته غلط وائي. د هرې ډلې عُلماؤ ګيرې پريښودي دي، د نمانځه روژې پابند دي، ټول قرآن وحديث لوَلي، ډير عِلم والا دي او د خپل مؤقف [يعني خيال صحيح ثابِتولو] د پاره ښه په خپل ګُمان مطابق ښه ډير دليلونه وړاندې کوي. [په داسې حالاتو کښ] **لوَستونکي او اوريدونکي وائي چه مونږه څوك صحيح اوګڼړو او څوك غلط اوګڼړو؟** چنانچه د دې پريشانو په وجه هغوئي د مُوليانو [بيانونه، تقريرونه، او وعظ و نصيحت] اوريدل او جُماتونو ته تلل پريښودل.

د دې په جواب کښ زه ډير په ايماندارۍ او په زړه کښ د الله پاك يَره

لرلو سره عرض کووم چه په دې کښې هیڅ شك نشته چه د عامو مُلا یانو د غلط بیانئ په وجه خلق واقعی ډیر پریشانه دي. ټول خلق د دیني عِلمونو نه پوره خبر نه دي، په دې وجه هغوئي رِښتیا او دروغ، صحیح او غلط نه شي جُدا کولې او د حال د حقیقت نه د بې خبره کیدو په وجه په پریشانئ کښې اخته شي.

د خلقو دا کوتاهي ده چه د ټولې دُنیا د نورو خبرو او عِلمونو فنونو سره تَوَجُّه او دلچسپي لري او دیني عِلم او پوهه نه حاصلوي. او هغه کسان چه د مُولیانو په نوم یادیږي خو خلقو ته حقّ خبره نه رسوي، هغوئي خپله دِیني ذِمّه واري او د منصب فرض په دیانتدارئ او د زړه په صِدق نه پوره کوي، کیدې شي چه هغوئي دا هیر کړي وي چه مونږه ټول به یوه ورځ د دې فاني دُنیا نه رُخصتیږو او د تیَرو نه ډك قبر ته به کوزیږو، او د حَشر په میدان کښې به د الله تعالیٰ په بارګاه کښې حاضریږو او د هغه په بارګاه کښې به د خپلو عقیدو او عملونو په باره کښې جواب ورکوو. کیدې شي چه هغوئي دا هم هیر کړي وي چه د عوامو په مخکښې دروغ او غلطه خبره د دوکې په ذریعه رښتیا ښکاره کول خو کیدې شي خو د الله پاك په بارګاه کښې دروغ نه شي رښتیا کیدې. داسي خلق دِ یاد ساتي چه د غلطو عقیدو او د غلطو عملونو د تعلیم او تربیت ورکولو په وجه دوئي د نورو خلقو په مُقابله کښې د دوزخ او د الله عَزَّوَجَلَّ د عذاب زیات حقدار ګرځي.

هغوئی ته دا اُصول هیرول نه دي پکار چه څنګه **د نیکئ ښودلو والا ته په هُغه نیکئ د عمل کولو والؤ د نیکو همره ثواب حاصلیږي، هم دغه**

**رنګ د بدئ او غلطې خبرېښودلو او ورزده کولو والا ته په هغه بده او غلطه خبره باندې د عمل کوونکو ټولو خلقو د ګناهونو هُمره ګناه او عذاب رسیږي.**

هر هغه کس چه هغه هر وخت د الله پاك نه یریږي او مرګ یاد لري هغه د هرې غلطئ او ګناه نه ځان ساتي، که چرې په نادانئ یا بله وجه ترې څه غلطي اوشي نو فوراً توبه کوي. او څوك چه د الله عَزَّوَجَلَّ نه نه یریږي هغه ډیر بد [یعني غلط کس] دې. بیشکه هوښیار هغه کس دې چه د الله پاك نه یریږي. (رَأسُ الْحِكْمَةِ مَخَافَةُ الله)

**قدرمندو لوَستونکو!** په قرآنِ مجید کښې د **الله** تعالیٰ ارشاد دې چه قرآن د هُم هغه خلقو د پاره هدایت دې څوك چه د الله تعالیٰ نه یریږي او نافرماني نه کوي، داسي خلقو ته مُتّقي وئیل کیږي. په قرآن پاك کښې ارشاد دې چه ''د قرآن نه [د غلطې ترجَمې او غلط تفسِیر وغیره په وجه] ډیر خلق ګمراه کیږي او ډیر خلق ترې هدایت حاصلوي.'' په دې ارشاد کښې د ګمراه کیدو والا خلقو ذِکر مخکښې شوې دې. ثابته شوه چه هر قرآن وئیونکې هدایت موندونکې نه دې. د دې هیڅ کله دا مطلب نه دې چه قرآن خلق ګمراه کوي بلکه د دې دا مطلب دې چه داسي خلق د قرآن په الفاظ او معانی باندې د هغې د اصل مفهوم مطابق نه پوهیږي بلکه خپل ذاتي خیال اَهَمّ ګڼړي او د خپل ناقِص علم په وجه د قرآن مفهوم [یعني مطلب] بدلوي او د خپل ځان د پاره د تباهئ او بربادئ لارې جوړوي. چنانچه

د **تبليغى نصاب** (چه د هغې نوم ئې بدل کړو او فضائل اعمال ئې کيښودو) مُرَتَّب کوونکې شيخ **محمد زکريا** صاحِب، د "فضائلِ قرآن" په حِصّه کښې دا حديثِ پاك موجود دې، هغوئې ليکي: "حضرت عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حضورِ اقدس ﷺ دا ارشاد نقل کوي چه **الله تعالیٰ د دې کتاب يعني قرآن پاك په وجه ځومره خلقو ته اوچته مرتبه ورکوي او ځومره خلق سپك او ذليله کوي.**" د دې حديث (چه په مُسلم شريف کښې دې) د نقل کولو نه پس **محمد** زکريا صاحِب ليکي چه "د کلامُ الله شريف د آيتونو نه هم دا مضمون ثابتيږي" يو ځائ ارشاد دې: "يُضِلُّ بِهٖ كَثِيْراً وَ يَهْدِیْ بِهٖ كَثِيْراً" "**حقّ تعالیٰ د دې په وجه ډير خلقو ته هدايت ورکوي او ډير خلق ګمراه کوي.** په دويم ځائ کښې ارشاد دې: "وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَاراً" **او مونږ نازل کړې دې قرآن چه شِفا او رَحمَت دې د مومِنانو د پاره او دا د ظالِمَانو د پاره د خسارې او نقصان زياتوونکې دې.**

د **حُضُورِ اکرم** ﷺ ارشاد مُبارَك دې چه په دې **اُمّت کښې به ډير منافقان قاريان وي.** د ځيني مشائخو نه په اِحياء کښې نقل کړې شوي دي چه بنده د قرآنِ پاك سورت شروع کړي نو فرښتې د هغه د پاره د رحمت دُعا کوي تر دې چه هغه فارغ شي، او **بل** کس يو سورت شروع کړي نو فرښتې د هغې د ختميدو پورې په هغه لعنت کوي. د ځيني علماؤ نه نقل دي چه انسان تلاوت کوي او ټجپله په ځان باندې لعنت کوي او هغه خبر هم نه وي. په قرآن شريف کښې لولي اَلَا لَعْنَةُ اللهِ عَلَى الظّٰلِمِيْن او ټجپله د ظالم کيدو په وجه په دې وعيد [يعني سزا] کښې داخليږي. دغه شان وائي لَعْنَةُ اللهِ عَلَى

الکٰذِبِیۡن او ځپله د دروغو وئیلو په وجه د هغې حقدار جوړېږي.“

(صفحه ۱۳ .فضائل قرآن)

د ذکر شوي عبارت نه تاسو ښه اندازه اولګوله چه قرآن د ټولو د پاره شِفا او رحمت نه دې بلکه د ډېرو خلقو د پاره نقصان او تاوان زیاتوونکې دې. هغه داسې چه خلق قرآن لوَلي، او د بیا بیا لوستلو باوجود ځان نه صحیح کوي نو د یوې ګناه نه پس د بلې ګناه کولو په وجه او په ګناه باندې د قائم پاتې کیدو په وجه هغه په خپل نقصان او عذاب کښې ځپله اِضافه کوي.

یو کس دروغژن دې او په قرآنِ مجید کښې صفا په دروغژنو باندې لعنت بیان شوې دې او لعنت هم د الله تعالٰی، نو هغه کس چه قرآن لوَلي او د خپلو دروغو نه په رِښتیني توبه نه کوي او د دروغو علاج نه کوي نو هغه په خپل لعنتي کیدو باندې د قرآن نه ځپله ګواهي پیش کوي. دغه شان د هغه قرآن لوستل هغه ته فائده نه ورکوي. تاسو ځپله اووائې چه هغه د قرآن په لوستلو فائده حاصلوي او که نقصان؟ ستاسو جواب به دا وي چه هغه خپل نقصان کوي. فائده هغه ته په دې صورت کښې حاصلیدې شي چه هغه خپله غَلطي او کوتاهي لري کړي او ځپله خپل ځان صحیح کړي. دغه شان د ظالِمَانو د پاره په قرآن کښې د الله تعالٰی د لعنت بیان دې. که ظالِم د خپل ظُلم نه په رښتیني توبه نه کوي نو هغه هم یقیناً د قرآن په لوستلو په خپل ځان باندې د لعنتي کیدو تصدیق کوي. او د قرآن په لوستلو خپل نقصان زیاتوي.

قرآن هغه ته نقصان نه ورکوي بلکه قرآن خو صفا وائي چه په ظالِم باندې د الله تعالیٰ لعنت دې او دا خبره هم د خبردارې ورکولو د پاره بیانیږي چه ظالم کس [توبه اوکړي او] د الله تعالیٰ د لعنت نه بچ شي. د دې باوُجود که ظالم پخپله خپل ځان صحیح نه کړي نو بیا د الله تعالیٰ عذاب د هغه مُقَدَّر دې.

**تَوَجُّه اوکړئ**: په آیتِ ربّاني کښې دا ولې دي چه قرآن د ظالِمَانو په نقصان کښې زیاتې کوي او په ظالِمَانو د الله تعالیٰ لعنت دې! ځکه چه کافِر خو قرآن نه لوَلي، قرآن خو هغه کس لوَلي څوك چه د اِیمان دعوٰی کوي. پس ثابِته شوه چه ډیر د مسلمانان نومیدونکي خلق ظالِمَان دي او په ظالِمَانو باندې الله تعالیٰ لعنت فرمائیلې دې.

**مُحتَرَمو لوستونکو**! ظُلم څه څیز دې؟ ظُلم څه ته وائي؟ د ظُلم پیژندګلو دا ده:

"وَضۡعُ الشَّيۡئِ فِيۡ غَيۡرِ مَحَلِّهٖ"

یعني یو څیز د هغې د ځائ نه بې ځایه ځائ ایښودل.

په آسانو الفاظو کښې داسې چه غلا "**الف** [یعني زید]" اوکړي او سزا "**ب** [یعني بکر]" ته ورکړې شي. کار چا کړې وي او نوم د چا یادیږي. صحیح ته غلط وئیل او غلط ته صحیح وئیل. د الله تعالیٰ کلام او احکام بدلول او د خپل طرف نه معنې بدلول، او په هغې کښې کمې زیاتې کول. آیت چه د یو چا په باره کښې وي، هغه د بل چا په باره کښې بیانول، دا ظُلم دې او داسې کولو والا ظالِم دې.

په بُخاری شریف کښې حدیثِ پاك دي، د حضرت سَیِّدُنا عمر فاروق رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ ځوئ حضرت سَیِّدُنا عبدُالله رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه "د الله په مخلوق کښې د ټولو نه بدترین [یعني ډیر بدکاره] هغه خلق دي ځوك چه د کافرانو او مشرکانو په باره کښې نازل شوي آیتونه په مسلمانانو پورې نخښلوي." (بُخاری، ص١٠٢٤ ج٢)

د صحابهٔ کِرامو [عَلَيْهِمُ الرِّضوان] په دور کښې به د خوارجو ډَلې او مُنافِقانو داسي کول. نن هم په سوونو مُولیان نومیدونکو هم دا طریقه ده چه هغوئي د بُتانو او مُشرکانو په باره کښې نازِل شوي آیتونه په نَبیانو، وَلیانو او اِیمان والؤ پورې تړي. عامو لوستونکو او اوریدونکو ته د آیَت شانِ نزول معلوم نه وي چه دا آیت کله او د چا په باره کښې نازل شوې دې؟ هغه د دې مُولا نومیدونکي نه اوري او د ناپوهئ په وجه ګمراه کیږي. خو اَفسوس په هغه خلقو، ځوك چه ځان ته مُولیان وائي او پخپله ځان د دِین ټیکداران ګڼړي. هغوئي د عِلم لرلو باوجود هُم داسې سخته غلطي کوي او مخلوق ګُمراه کوي. حضرت عبدُالله اِبنِ عمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُما داسي خلق په خوارجو کښې شمار کړي دي. د هغوئي (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ) د ارشاد مطابق داسي حرکت کوونکي او د منافقو خوارجو پیروي کوونکي ټول بدترین خلق دي.

د اُمّتِ مُسلِمه هغه ځلمي ځوانان کوم چه د داسي مُلایانو د بد زبانئ په وجه د روحانِیت او د اسلام د روحِ نه لرې وَځي، د هغوئي په خِدمت کښې زما عرض دې چه الله تعالٰی تاسو له عقلِ سلیم درکړې

دي، تاسو پخپله سوچ اوکړئ، غور و فِکر اوکړئ، کيدې شي تاسو دا ګنړئ چه دا د حَلوه او خيرات تقسيمولو جګړه ده، هيڅ کله داسي نه ده.

دا اُصول ياد ساتئ چه " تَعۡرِفُ الۡاَشۡيَاءُ بِاَضۡدَادِهَا" يعني هر څيز د هغې د ضِد نه پيژندلې کيږي. د شپې نه د ورځې معلومات کيږي، د بدبُوئي نه د خُوشبوئي حقيقت ښکاره کيږي او د داسي دِين خرڅوونکو مُلايانو نه د عُلمائے حقّ طرف معلوميږي. آيا تاسو به رِښتيا او دروغ يو شان اوګنړئ؟ هيڅ کله هم نه، نو يقين اوکړئ اصل جګړه دا ده. تاسو ته به يقيناً معلومه شي چه رِښتيا څه دي؟ او دروغ څه دي؟ څوك صحيح دي؟ او څوك غلط؟ د حقّ عالِمَان څوك دي؟ او د باطِلې ډلې خلق څوك دي؟ په ډيره ديانتدارئ د الله تعالٰی د يَرې ساتلو د ذِمّه وارئ سره دا د دِين و مِلَّت خادم عرض کوي، تَوَجُّه اوکړئ!

اَمِيرُالمُؤمِنين سَيِّدُنا عمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ فرمائي چه رَسُولُ الله ﷺ مونږ ته د مخلوقاتو د شروع نه واخله د جَنَّتيانو جَنَّت ته [د داخليدو] او د دوزخيانو دوزخ ته د داخليدو پورې خبر راکړې دې،(بُخاری شریف ص ۴۵۳ ج۱)

د دې حديث شريف نه معلومه شوه چه حُضُور نَبِـى کريم ﷺ بيشکه د الله تعالٰی په ورکړه د اِبتداء [يعني شروع] نه د اِنتهاء [يعني آخِرې پورې] د ټولو حالونو نه خبر دې. چنانچه رسُولِ کريم ﷺ فرمائيلي دي چه "زما اُمَّت به په درې اويا ډلو کښې تقسيميږي، په دې کښې به يوه ډله جَنَّت ته ځي او دوه اويا ډلې به دوزخ ته ځي. د خوږ آقا ﷺ صحابهٔ کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان عرض اوکړو: يا رَسُولَ الله ﷺ! هغه خلاصي موندونکي

ډله کومه یوه ده؟ اوئې فرمائیل چه **هغه ناجیه ډله ده، جماعت به وي او زما او زما د صحابؤ** عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان **په طریقه به وي.**" [یعني د رسول کریم ﷺ او د صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان په طریقو به عمل کوي] (تِرمذی، ابوداؤد، اِبنِ ماجه)

د حدیث مشهور متفق شپږو صحیح کتابونو کښې په ابنِ ماجه کښې دي چه "حضرت اَنس بن مالك رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ روایت کوي چه رسولِ کریم ﷺ ارشاد فرمائیلي دې چه **زما اُمَّت به په ګمراهئ باندې نه جمع کیږي. چه کله تاسو** (په اُمَّت) **کښې اِختِلاف اووینئ نو د ټولو نه لویه ډله** (د عظمت والا ډله) **لازم اونیسئ** [یعني اختیار کړئ]."

د دې احادیثو نه معلومه شوه چه د نبی کریم ﷺ اُمَّت به چه په کومو ډلو کښې تقسیم شي په هغې کښې به یوه لویه ډله وي او د هغې سره د مکمل تړون حکم ورکړې شوې دې، ځکه چه هُم هغه ډله جَنَّت ته تلونکې ډله ده او د هغې نه سِوا باقې ټولې ډلې به د جَهَنَّم حقدارې وي. رسولِ کریم ﷺ ډیر احسان فرمائیلې دې چه د هغې خلاصی موندونکې (ناجیه) ډلې شناخت ئې ښودلې دې ګنی هرې ډلې به ځان ته ناجیه ډله وئیله. معلومه شوه چه ناجیه ډله [څه نوي جوړه شوي] فرقه نه ده او د دې ډلې د عقائد و اعمالو پابندي کول او تبلیغ و اشاعت ته فرقه واریت هیڅ کله نه شي وئیلې. کیدې شي چه لوستونکي دا اووائي چه د نبی ﷺ واضحه ارشاد باوُجود بیا هم هره ډله ځان ته ناجیه وائي. نو د هغې په جواب کښې عرض دې چه هر دعوٰی کوونکې پخپله دعوٰی کښې د هغه وخته پورې رښتینې کیدې نه شي تر څو چه په خپله

دعویٰ صحيح دليلونه پيش نه کړي او خپل حقّ کيدل د قرآن و سُنَّت نه صحيح ثابت نه کړي. رسولِ کريم ﷺ وضاحت فرمائيلې دې چه ناجيه ډله به لوئي جماعت وي او د دې غټې (عَظَمت والا) ډلې سره ئې د تړون تاکيد کړې دې او د هغې شناخت ئې ښودلې دې چه هغه به زما او زما د صحابؤ عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان په طريقو وي. د دې ارشاداتو مطابق د ناجيه ډلې عنوان "**آهلِ سُنَّت و جماعت**" دې چه هغې ته په يو لفظ کښې "**سُنّي**" وئيل کيږی. (يعني نبی پاك ﷺ او د هغوئی د صحابۀ کرامو د طريقو مطابق د عقائد و اعمال والا ډله)..

د ناجيه ډلې پيژندګلو حاصلولو نه پس د خپل ذِهن نه لرې شکونه لرې کړئ. که د چا په ذِهن کښې دا سوال راشي چه (۱) په حديث کښې د ډلو تعداد درې اويا ښودلې شوې دې حالانکه په اُمَّت کښې د موجودو ډلو تعداد زيات ښکاري (۲) په موجودو ډلو کښې ډيرې [ډلې] داسې دي چه د اهلِ سُنَّت کيدو دعوٰی کوي حالانکه اهلِ سُنَّت صرف يوه ډله ده. (۳) په حديث شريف کښې دي چه کله په اُمَّت کښې اِختِلاف اووينئ، نو د دې اِختِلاف نه کوم اِختِلاف مراد دې؟ هره ډله د اِختِلاف په وجه جوړه شوې ده او په هره ډله کښې اِختِلاف دې.

د دې سوالونو په جواب کښې عرض دې چه په اُمَّت کښې بنيادي درې اويا ډلې دي. دوه اويا دوزخي او يوه ډله نجات موندونکې. په دوزخيانو ډلو او ناجيه [يعني نجات موندونکې] ډلو کښې د هرې يوې ډلې جُدا جُدا عنوان دې چه د هغې په وجه د شمير زياتيدو ګُمان

کیږي، په دې ځان داسې پوهه کړئ لکه څنګه چه د یوې وَنې ډډ یو وي خو خاخونه ئې ډیر وي او د غټو خاخونو نه څانګې وتلې وي، بیا هم د خاخونو د زیات والي په وجه دا نه لازمیږي چه ډډونه به هم زیات شوي وي. بل مثال دا چه په یوه قبیله کښې ډیر خاندانونه وي او په هر خاندان کښې ډیر کسان وي. دغه شان د ګمراهئ او بې دینئ دوه اویا ډډونو نه ډیر خاخونه او د دوه اویا دوزخي قبیلو نه ډیر خاندانونه او د دې خاندانونو نه په زرګاؤ کسان پیدا شي نو دا نه شي کیدې چه د ډډونو او قبیلو شمیر به هم د خاخونو او کسانو د شمیر همره وي.

د دوه اویا دوزخي فرقو نه هغه ډلې مراد دي چه د هغې په بنیادونو کښې بے دینی، الحاد، کفر او زندقي ده او په دې ټول پوهیږي چه د خاخونو وجود او ژوند د جرړې په وجه دې یعني یو خاخ چه د خپلې جرړې [یعني ډډ] نه کټ شي هغه ژوندې نه شي پاتې کیدې. هغه دوه اویا جرړې پخپله خرابې دي نو هغه ښه خاخونه نه شي پیدا کولې. هغه ټولې فرقې او ډلې کومې چه د هغه خرابو جرړو [یعني ونو] خاخونه دي هغه که په هر څومره شمیر کښې وي د هغې اصل هغه دوه اویا دې. اوس د ناجیه جماعت په احوالو ځان پوهه کړئ چه د هغې په جرړه او بنیاد کښې روح اسلام و ایمان او هدایت و رحمَت دې. د دې ښې جرړې [یعني ونې] نه چه څومره خاخونه وتلې دي په هغې کښې د ښې جرړې ښې نښې موجودې دي. د دې نور وضاحت اوکړم، چه د شریعت څلور مذهبونه (حَنَفی، شافِعی، مالکی، حنبلی) او مخکښې د دې خاخونه اشعري،

ماتُریدي او دغه شان د طریقت څلور سِلسلې قادري، نقشبندي، چشتي، سُهروردي او مخکښ د دې نور خاخونه صابری، نظامي، اشرفي، شاذلي، رفاعی، مُجددي وغیره دا ټول ”اهلِ سُنَّت“ ناجیه جماعتونه دي، د دې ټولو جرړه او بنیاد یو دې او د دې ټولو په مینځ کښ څه داسې اُصولی اختِلاف نشته او نه پکښ داسې اختلاف شته چه په هغې کښ د کفر و ایمان فرق اوموندلې شي. دا خصوصِیَّت صِرف د اهلِ سُنَّت و جماعت دې چه د دې په ټولو خاخونو کښ د عقائد و نظریاتو مکمّل یو والې دې او د دې عقائد و اعمال په تواتر سره ثابت دي.

**هغه** ډلې چه ټخپله د اهلِ سُنت و جماعت کیدو دعوٰی کوي که هغوئي خپله دعوٰی صحیح او رښتیني ګنړي نو د اهلِ سُنَّت و جماعت والا عقائد و اعمال دِ په ځان کښ ښکاره ثابت کړي ګني د هغوئي دعوٰی باطله ده. اهلِ سُنَّت کیدل او ځان ته اهلِ سُنَّت وئیل جُدا جُدا خبرې دي. د یوې ډلې یا فرقې ټخپله ځان ته اهلِ سُنَّت وئیل د هغې ډلې د اهلِ سُنَّت کیدو د پاره پوره دلیل نه دې.

**یاد ساتئ** چه د صحیح اهلِ سُنَّت نه سِوا بل یو داسې جماعت نشته چه خپل صداقت، د قرآن و سُنَّت نه کما حقُّه ثابت کړي او خپل عقائد و اعمال د نبی کریم ﷺ او د هغوئي د صحابهٔ رضی الله تعالی عنهم مطابق ثابت کړي. د څوارلس صدئ تیریدو نه پس هم د شریعت و سُنَّت مطابق د اهلِ سُنَّت و جماعت عقائد و اعمال په تواتر سره ثابت دي. او نورې ډلې نوي جوړې شوي دي او د هغوئي عقائد و نظریات او اعمال و احوال

هیڅ کله د قرآن و سُنَّت نه اصلاً نه اخستې شوي او نه ثابت شوي دي، بلکه هغه ډلو د قرآن و سُنَّت صحیح مفهوم مسخ [یعني وران] کړې دې او د خپلې ګمراهئ او تباهئ ذریعه ئې جوړه کړي ده. د داسي خلقو په نصیب کښې هدایت او رَحمَت نشته بلکه په دُنیا او آخِرت کښې نقصان هم د دوئي حِصّه ده. او اهلِ سُنَّت و جماعت (فرقه ناجیه) ته د الله تعالیٰ او د هغه د حبیب ﷺ او د صحابه رضی الله تعالی عنهم د رښتیني فرمانبردارئ او غلامئ په برکت په دُنیا او آخِرت کښې د الله پاك د رحمتونو، برکتونو او د مرستې او مدد زیرې او ضمانت عطا کړې شوې دې، دوئي ته د نیغې لارې هدایت نصیب شوې دې، په دې وجه د دوئي سره تړون ضروري دې.

په حدیث شریف کښې چه د کوم ''اِختِلاف'' ذِکر دې د هغې د وضاحت نه مخکښې په دې پوهیدل ضروري دي چه اِختِلاف په دوه قِسمه دې (۱) اُصولي (۲) فروعی. د دواړه قسمه اِختِلاف په باره کښې شرعی قوانین او احکام موجود دي. هغه اُصولی یا فروعی اِختِلاف په کوم کښې چه د کفر و ایمان او د هدایت و ګمراهئ واضحه فرق وي، هغه انسان د دوزخ حقدار جوړوي. په دې هم ځان پوهه کړئ چه د رسولِ کریم ﷺ اُمَّت په دوه قسمه دې (۱) اُمَّتِ اِجابَت (۲) اُمَّتِ دعوت،

**اُمَّتِ اِجابَت** هغه دي کوم چه د پخې عقیدې او اِیمان والؤ کسانو باندې مشتمِل دې. ټول بدعقیده خلق په اُمَّتِ دعوت کښې شامل دي. هغه ټولې ګمراه او باطلې فرقې چه په ظاهره د ایمان او اسلام دعوې کوي، په دې کښې ځینو ډلو ته مطلقاً کافر نه دي وئیلي شوي، ځکه چه د

هغوئي په عقيدو او نظريو کښې د فرق کيدو باوُجود د کفر او ايمان ښکاره فرق نه موندل کيږي. خو دا پخه فيصله چه د چا په عقيدو او نظريو کښې د کفر او د ايمان ښکاره فرق وي هغه دوزخي ډله شميرلې شوي ده. په اُمَّت کښې پيدا کيدو والا نوو ډلو کښې ديوبندی وهابي تبليغي ډله پخپله نه صِرف ځان ته د ''اَهلِ سُنَّت'' (يعني سُنّي) وئيلو خواهش لري بلکه د خپل ځان نه سِوا باقي ټول مشرِك او بدعتی او د باطل ثابتولو په کوششونو کښې لګيا ده.

د ديوبندی وهابي تبليغي ډلې سره زمونږه اِختِلاف صرف فروعی او فُضُول نه دي بلکه اُصولی او بُنيادی دي. يقيناً تاسو به پوهيدل غواړئ چه اِختِلاف د کومو خبرو په وجه دي نو واورئ او الله تعالٰی او د هغه رسُول ﷺ ګواه جوړ کړئ او په عدل و اِنصاف سره اووائې چه آيا تاسو دا خبرې منلې شئ؟ آيا داسي عقيده لرونکي خلق مُسلمان او سُنّي کيدې شي؟

## د ديوبندی وهابي تبليغي ډلي يو څو عقيدې

(١) الله تعالٰی دروغ وئيلې شي. (فتاوٰی رشيديه ج١ ص١٩)

(٢) الله تعالٰی ته د مخکښې نه علم نه وي چه بندګان به څه کوي چه کله ئې بندګان اوکړي نو الله ته علم اوشي. (تفسير بلغۃُ الحيران ص ١٥٧، ١٥٨)

(٣) د شيطان او د مَلكُ المَوت عِلم د حُضُورِ اکرَم ﷺ نه زيات دي. (براهينِ قاطعه، ص٥١)

(٤) د الله تعالٰی نبی ته د خپل انجام او د ديوال شا ته عِلم هم نشته. (ايضاً، ص٥١)

(٥) حُضُورِ اکرم ﷺ ته چه الله تعالٰی څنګه او څومره علمِ غيب ورکړې

دي، هغسي علم خاروو، ليونو او ماشومانو ته هم حاصِل دي. (حفظ الايمان ص ٧)

(٦) په مانځه کښ د حُضُورِ اکرم ﷺ طرف ته صرف خيال تلل هم د غوئي او د خر په خيال کښ د ډوبيدو نه زيات بد دي. (صراط مستقيم ص ٨٦)

(٧) لفظِ رَحۡمَةٌ لِّلۡعٰلَمِين، د رسُولُ الله ﷺ خاص صِفَت نه دي. د حُضُورِ اکرم ﷺ نه علاوه هم نور بُزرګانو ته رَحۡمَةٌ لِّلۡعٰلَمِين وئيلې شي.

(فتاوٰی رشیدیه ج٢ ص ١٢)

(٨) د خَاتَمَ النَّبِيّن معنٰى آخِري نبـی ګڼړل، د عوامو خيال دي. د علم والؤ په نِزد دا معنٰى صحيح نه ده. د حُضُورِ اکرَم (ﷺ) د زمانې نه پس هم که څوك نبـی پيدا شي نو د مُحَمَّد (ﷺ) په خاتميت [یعنی آخِری نبی کيدو] کښ به هيڅ فرق نه راځي. (تَحذیرُ الناس ص ٣، ٢٥)

(٩) حُضُورِ اکرَم ﷺ ته د ديوبند د عُلماؤ سره د تَعَلُّق په وجه اردو ژبه زده شوي ده . (براهین قاطعه ص ٢٦)

(١٠) د نبـی تعظيم صرف د مشر ورور په شان کول پکار دي.

(تقویة الایمان ص ٥٨)

(١١) که الله اوغواړي نو د مُحَمَّد (ﷺ) [د مرتبې] برابر به په کروړونو پيدا کړي. (تقویة الایمان ص ١٦)

(١٢) حُضُورِ اکرَم ﷺ مړ شوې او په خاورو کښ ګډ شو. (تقویة الایمان ص ٥٩)

(١٣) نبـی، رسُول ټول بيکاره دي. (تقویة الایمان ص ٢٩)

(١٤) د نبـی د هر دروغ نه پاك کيدل او معصوم کيدل ضروري نه دي.

(تصفِيةُ العقائد ص ٢٥)

(١٥) د نبـی ستائنه صرف د بشر په شان کوئ بلکه په دې کښ هم کم

والي اوکړئ. (تقوية الايمان ص ٣٥)

(١٦) غټ يعني نبـى او وړوکي يعني باقي ټول بندګان، بې خبره او نادانه دي. (تقوية الايمان ص٣)

(١٧) غټ مخلوق يعني نبـى او وړوکې مخلوق، يعني باقی ټول بندګان د الله د شان په مخکښ د چمار [يعني ګندګي صفا کولو والا بنګي] نه هم زيات ذليل دي. (تقوية الايمان ص ١٤)

(١٨) نبـى ته طاغوت (يعني شيطان) وئيل جائز دي. (تفسير بلغة الحيران ص ٤٣)

(١٩) په کلي کښ چه څنګه درجه د چودري [يعني خان]، زميندار وي داسي درجه په اُمَّت کښ د نبـى ده. (تقوية الايمان ص ٦١)

(٢٠) د چا نوم چه محمَّد (ﷺ) يا علي دې هغوئي د هيڅ څيز اِختيار نه لري، نبـى او ولي هيڅ نه شي کولې. (تقوية الايمان ص ٤١)

(٢١) حُضُورِ اکرَم ﷺ بې حواسه [يعني په هيڅ پوهه نه] شو. (تقوية الايمان ص ٥٥)

(٢٢) اُمَّتي په ظاهره په عمل کښ د نبـى نه مخکښ شي. (تحذيرالناس ص ٥)

(٢٣) ديوبندي مُولا حُضُورِ اکرَم ﷺ په پل صراط باندې د لويدو نه بچ کړو. (بلغة الحيران ص٨)

(٢٤) لَآاِلٰهَ اِلَّااللهُ اشرفعلى رسولُ الله او اللّٰهم صل علٰى سيدنا و نبيِّنا اشرفعلي وئيلو کښ تَسَلِّي ده، هيڅ خرابي [يعني بدي پکښ] نشته.

(رساله الامداد ص ٣٥، مجريه ماهِ صفر ١٣٣٦ھ روداد مناظره (ګِيا) الفرقان ج٣ ص ٥٨)

(٢٥) د نبـى مولود کول [يعني د پيدائِش خوشحالئ کول] داسي دي څنګه چه هندوان د خپل کنهِيا [يعني د خپل مشر سري کرشن جى] د پيدا کيدو د

ورځې خوشحالئ کوي. (فتاوٰی میلاد شریف ص ۸ ، براهین قاطعه ص ۱٤۸)

(۲٦) حُضُورِ اکرَم ﷺ او دَجال دواړه بِالذَّات د ژوند په صِفَت موصوف [یعني ژوندي]دي، کوم خصوصِیَّت چه د نبـی کریم ﷺ دې هم هغه د دجال هم دې. (آبِ حیات ص ۱٦۹)

(۲۷) د رسُول په غوښتلو هیڅ نه کیږي. (تقویة الایمان ص ٥٦)

(۲۸) الله منئ، د هغه نه سِوا هیڅ څوك مه منئ. (تقویة الایمان ص ۱٤)

(۲۹) د الله په مخکښ ټول اَنبیاء او اولیاء د یوې بیکاره ذرې نه هم کمتر دي. (تقویة الایمان ص ٥٤)

(۳۰) نبـی ته خپل ورور وئیل صحیح دي . (براهین قاطعه ص ۳)

(۳۱) نبـی او ولي د الله مخلوق او بنده ګنړلو سره سره هغه وکیل او سفارشي ګنړلو والا او د مدد د پاره آواز کولو والا، منښته او په هغوئي پسې خیرات کوونکي مسلمانان او کافر ابوجهل، په شرك کښ برابر دي. (تقویة الایمان ص ۷، ۲۷)

(۳۲) دُرُودِ تاج ناخوښه کړې شوې دې او لوستل ئې منع دي.
(فضائل دُرود شریف ص ۷۳ ، تذکرۃُالرشید ج۲ ص ۱۱۷)

(۳۳) د دیوبندیانو یو مشر (سید احمد رائے بریلوی) ته حضرت علي (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ) په خپلو لاسو غُسل ورکړې وو او حضرت فاطمه (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) هغه (بربنډ) ته په خپلو لاسو جامې اغوستې دي. (صراط مستقیم فارسی ص ۱٦٤، اردو ص ۲۸۰)

(۳٤) میلاد شریف، مِعراج شریف، عرس شریف، ختم شریف، دریمه، څلويښتمه، فاتحه لوستل او ایصالِ ثواب ټول ناجائز، غلط، بدعت او د

کافرانو هندوانو طريقې دي.

(فتاوٰی اشرفیه ج۲ ص ۵۸. فتاوٰی رشیدیه ج۲ ص۱٤٤، ۱۵۰. فتاوٰی رشیدیه ج۳ ص ۹۳، ۹٤)

(واضحه دِ وي چه د رسُولُ الله ﷺ ميلاد ته غلط، بدعت او ناجائز وحرام او شرك وئيونكي ديوبندی وهابی تبليغی حضراتو نه دا تپوس ضرور اوكړئ چه د دارالعلوم ديوبند جشن [يعني د كليزې يا د صدئ تيريدو خوشحالئ] كول او په مشركه زنانه د هغې افتتاح كول او په تَعَيُّن سره د خپلو مولیانو مفتيانو ورځې او د كليزې خوشحالئ كول، د اجتِماع د پاره تاريخ، ځائ او وخت ټاكل، د سيرت جلسې كول، سياسی او غير سياسی جلوس وغيره ويستل، د غيرُالله په نوم اداري قائمول، د غيرُالله د مشهورتيا د پاره د خلقو نه مال او نور مدد غوښتل وغيره څنګه جائز او صحيح دي؟)

(۳۵) عام كورنې [تور] قارغه خوړل ثواب دې (خو د شبِ برات حلوه ناجائزه ده). (فتاوٰی رشیدیه ج۲ ص ۱۳۰)

(۳۶) د الله د وليانو نه د الله د مخلوق ګڼړلو باوُجود هم مدد غوښتل شرك دې. (تقوية الايمان ص ۷)

(۳۷) د جنازې د نمانځه نه پس دُعا غوښتل ناجائز دي.

(فتوٰی مُفتی جمیل احمد تهانوی، جامعه اشرفیه لاهور)

(۳۸) د هندوانو هولي[1]، ديوالی[2] پرشاد[3] وغيره جائز دې. (خو د فاتحه او

---

[1] **هولي**: د هندوانو يو اختر چه په هغې كښې د لكشمي عبادت كوي او ډيرې رنړا ګانې كوي.

[2] **ديوالي**: د هندوانو يو اختر چه كوم د سپرلي په موسِم كښې كوي.

[3] **پرشاد**: دبُتانو په نوم د منښتې طعام.

نياز [يعني په وليانو پسې د خيرات] تبرُّك ناجائزه دې). (فتاوٰی رشیدیہ ج۲ ص ۱۲۳)

(۳۹) د چوړې چمار [يعني بنګې] د كور د ډوډۍ وغيره په خوړلو كښې هيڅ باك نشته، كه پاك وي (خو د يولسمې شريف او د نياز پاك حلال طعام خوړل بالكل جائز نه دي). (فتاوٰی رشیدیہ ج۲ ص ۱۳۰)

(٤٠) د هندوانو (مشركانو پليدو) د سودي روپو د [حرامې] ګټې [په روپو] د لګولي شوي سبيل اوبه څښل جائز دي (خو د محرَّم په مياشت كښې د سَيِّدُنا امام حُسَين رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د ايصالِ ثواب د پاره د مسلمان د حلالې ګټې [په روپو] د لګولي شوي سبيل وغيره پاكې اوبه حرامې دي).

(فتاوٰی رشیدیہ ج۳ ص ۱۱۳، ۱۱٤) (معاذَ الله ثُمَّ معاذَ الله)[4]

د هم دغسې نورو بكواسونو او د ايمان ختموونكو خَبَرو نه د دې ديوبندي وهابي تبليغي عُلماؤ كتابونه ډك پراته دي. دا د اهلِ سُنَّت خادم، د الله سُبحانه نه د مُعافۍ او بخښنې طلب ګار دې، ځكه چه زما ايمان د دې خبرو په نقل كولو هم يره محسوسوي. حالانكه د دې عبارتونو نقل كولو مقصد صِرف او صرف دا دې چه لوستونكو ته معلوم شي چه د ديوبنديانو وهابيانو تبليغيانو سره زمونږ د اِختلاف بنياد څه دې؟ يقين اوكړئ دا داسي خبرې دي چه چه د دې په لوستلو او اوريدلو مُسلمان [د يرې نه] په لړزان شي او ايمان دا ګواهي وركوي چه دا خبرې صرف د رسول دُښمن او بې ايمانه كولې شي.

[4] د ديوبنديانو وهابيانو عبارتونه من و عن [هغه شان] د متن او پخپله د هغوئ فتوې زما په كتاب ''سپين او تور (رښتيا او دروغ)'' كښې اوكورئ.

د الله تعالیٰ نه دا سوال کووم چه هغه دِ د خپل حبيب ﷺ په بَرَکت مونږه د هرې ګُستاخۍ او بې ادبۍ نه او د دې عبارتونو ليکلو او منلو والؤ نه او د دې عبارتونو ليکونکي ربتيني مسلمانان ګنړلو والؤ نه په خپل حفاظت کښې اوساتې او زمونږه خاتمه دِ په ايمان اوکړې. آمين.

**محترمو لوستونکو!** تاسو اووائې آيا تاسو په دې عبارتونو باندې ايمان [يعني يقين] لرئ؟ آيا تاسو داسي عقيدې لرئ؟ دې خبرو منلو ته تيار ئې؟ تاسو به حيران ئۍ چه داسي خبرې څوك کولې شي، څوك ئې ليکلې شي، تاسو به ﭙخپله اووائې چه څوك ځان ته مومِن او مسلمان وائي هغه هيڅ کله داسي خبرې نه شي کولې خو افسوس دا دې چه دا خبرې جاهلانو او د کلياؤ خلقو نه دي ليکلې، [بلکه دا خبرې] هغه خلقو په خپلو کتابونو کښې ليکلې دي [څوك چه ځان ته] د زمانې غټ عالِمَان، مطاع الکل، او د مِلَّت مجدِّد او حکيمُ الأُمَّت وائي. هغه خلقو ليکلې دي څوك چه ځان ته صِرف مسلمانان نه بلکه ځان ته د اسلام ټيکداران وائي. چه کله عُلمَائے حقّ هغوئي پوهه کړل چه دا خبرې غلطي دي د دې نه توبه اوکړئ نو د ډير زيات پوهه کولو باوُجود د دې عبارتونو ليکونکو دا جواب ورکړو چه مونږه څه ليکلي دي صحيح مو ليکلي دي. هغوئي ته اووئيل شو چه تاسو د خپل ځان او د خپل مور و پلار په باره کښې نامناسبه مِثال نه شئ برداشت کولې او د رسول اکرَم ﷺ په باره کښې خو د الله تعالیٰ د طرف نه د ډير ادب حکم دې. د هغوئي د پوهه کولو د پاره هغوئي ته مِثال ورکړې شو چه که تاسو چرته ولا ړ ئې او د يو طرف

نه ستاسو پلار راشي او ستاسو يو پيژندګلو والا اووائي چه ستا د مور ميره راغې يا هغه کس راغې چه ستا د مور سره مباشرت [يعني کور والې] کوي، نو آيا تاسو به دا خبره خوښه کړئ؟ حالانکه هغه صحيح وائي. ځکه چه ستا پلار يقيناً ستا د مور ميره دې او دويمه خبره هم صحيح ده، خو دا انداز غير اخلاقي، عيب دار او د بې عزّتۍ دې. او که هغه وئيلي وې چه ستاسو پلار صاحب يا ستاسو والِدِ مُحترَم تشريف راوړ نو يقيناً په دې الفاظو به تاسو خوشحاله شوي وې.

چه نِسبَت خاك را به عالِمِ پاك. [د عالم سره د خاورې څه نِسبَت] چرته مونږه او چرته د الله تعالیٰ رسُول (ﷺ)!فرض کړئ که تاسو د الله تعالیٰ د نبی، خوږ نبی، د نبيانو د نبی ﷺ سره پوره عقيدت او مَحَبَّت نه لرئ نو بيا هم تاسو داسي مثالونه او الفاظ مه استعمالوئ چه هغه په هيڅ طور هم مناسب نه وي. ځکه چه حُضُورِ اکرم ﷺ ، د الله پاك په مخلوق کښې کومه مرتبه لري هغه د قرآنِ کريم نه واضحه ده. د قرآن په ترتيب کښې دا دي. د ''يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا'' الفاظ چه اوّل ځل کوم ځائ راغلي دي په هغې کښې ايمان والؤ ته اوّل حکم دا ورکړې شوې وو چه په غږ کولو کښې به هم زما د محبوب (ﷺ) د ادب خيال ساتئ (لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَقُوْلُوا انْظُرْنَا) (سُورۂ بَقره آيت ۱۰۴) هغوئي ته هيڅ کله دا مه وائې چه زمونږه رعايت اوکړئ بلکه دا عرض کوئ چه زمونږ طرف ته نظر اوفرمائې. په کوم لفظ کښې چه دا اِمکان وو چه صرف د آواز په اعتبار معمولي بدلولو سره معنیٰ بدليږي نو هغه لفظ هم د خپل نبی ﷺ د پاره الله تعالیٰ هدو

برداشت نه کړو، هغه لفظ ئې بې ادبي او ګستاخي اوګرځوله او د هغې لفظ استعمال منع کړې شو، نو داسي صریح [یعني ښکاره] الفاظ چه په هیڅ طور مناسب نه دي د هغې استعمال د نبی ﷺ د پاره څنګه صحیح کیدې شي. د کومې بارګاه ادب چه ټچپله خالقِ حقیقي ورزده کوي د هغې بارګاه د پاره ستاسو دا الفاظ ډیر زیات کمتر دي، د کفریه خَبَرو نه علاوه هم کوم ځائ چه تاسو د مثالونو استعمال کړې دې هغه مو هم نامناسبه کړې دې، د دې نه هم دا معلومیږي چه ستاسو په زړه او نظر کښې د خوږ حبیب ﷺ هیڅ ادب نشته، ستاسو د هغوئی (ﷺ) سره هیڅ مَحَبَّت او تعلق نشته، دا هم ښکاره حقیقت تاسو ته معلوم دې چه د دې خوږ حبیب احمدِ مُختار ﷺ مَحَبَّت او تعظیم د ایمان اصل او د ایمان ژوند دې او د مَحَبَّت او تعظیم نه بغیر د رسول (ﷺ) تابعداري بالکل بې سوده [یعني بې فائده] ده، نو د خپل قول مطابق تاسو ټچپله د دین نه انکار کوونکي جوړیږئ او د همیشه ملامتیا د خپل ځان د پاره جمع کوئ.

**محترمو لوستونکو!** ستاسو به دا خیال وي چه دا نصیحت به هغه خلقو قبول کړې وي او حقّ به ئې اِختیار کړې وي خو افسوس چه دې د تش نوم عُلماؤ خپل کفریه او غلط عبارتونو ته نه صِرف په څو څو ځله صحیح اووئیل بلکه د دې کفریه او غلطو عبارتونو د صحیح ثابت کولو د پاره ئې دلیلونه ورکول شروع کړل. حالانکه په دې هر عقلمند پوهیږي چه "**عذر ګناه بدتر از ګناه**" (یعني خپلې ګناه ته جائِز وئیل د ګناه نه هم زیات بد دي) یعني غلط صحیح ثابتول، دا په غلطئ د

پاسه غلطي کول دي. ګناه نيکي ګڼل يا صحيح ګڼل او هغه نيکي ثابتول يا صحيح ثابتول د ډيرې غټې درجې ګناه ده او کفر ته ايمان وئيل د مومِن کار نه دې.

**محترم لوستونکي** به يقيناً معلومات هم حاصلول غواړي چه دا کفريه او غلط عبارتونه چا ليکلي يا وئيلي دي؟ د هر عبارت سره د کتاب نوم او د صفحې نمبر تاسو کتلې دې. اوس لاندې د کتابونو د نومونو سره د دې د ليکونکو نومونه هم اوګورئ.

دا ټول عبارتونه چه د کومو کتابونو نه نقل شوي دي د دې کتابونو او د دې د ليکونکو نومونه دا دي:

| کتاب | مُصَنِّف |
|---|---|
| حفظُ الايمان | اشرفعلي صاحب تهانوي |
| فتاوى رشيديه | رشيد احمد صاحب ګنګوهي |
| آب حيات | محمد قاسم صاحب نانوتوي |
| تَحذيرالناس | محمد قاسم صاحب نانوتوي |
| براهين قاطعه | خليل احمد صاحب انبيټهوي |
| تقوية الايمان | شاه اسمٰعيل صاحب پهلتی دهلوی بالاکوټی |
| صراط مستقيم | شاه اسمٰعيل صاحب پهلتی دهلوی بالاکوټی |
| تفسير بلغة الحيران | حسين علی واں بهچرانی |
| تصفية العقائد | محمد قاسم نانوتوي |
| رساله الامداد | اشرفعلي صاحب تهانوي |

تاسو به وائې چه مخکښ وروسته عبارتونه ئې پرېښودي دي او مینځنۍ جمله اخستې شوي ده، د لیکونکو مفهوم به څه نور څه وي دومره لوئي عُلماء داسې نه لیکلې شي او نه داسې وئیلې شي.

هر صاحِبِ ایمان، صاحِبِ عقل و دانش په دې خبره ښه پوهیږي چه د نبی پاك ﷺ نه زیاته مرتبه لرونکې د الله تعالٰی په مخلوق کښې بل هیڅ څوك نشته. د هغوئي (ﷺ) د پاره یو غلط یا د عامو خلقو د پاره استعمالیدونکې او نامناسبه یا بد مثال ورکول په هیڅ طور صحیح نه شي کیدې. که د یو غلط یا بد لفظ لیکلو نه پس پوره پیراګراف یا یو ډیرې صفحې د هغې په وضاحت کښې اولیکلې شي نو آیا د هغې نه دا بهتره نه وه چه هغه بد لفظ ئې نه وې لیکلې؟ دا پخه خبره ده چه د کنزلې په وضاحت او تشریح وغیره کولو د هغه "کنزلې" نه څه "دُعا" یا "پاك عِبارت" نه جوړیږي بلکه هغه "کنزله" به هم هغسې کنزله پاتي وي. کوم کوم ځائ کښې چه (په دې کتابونو کښې) غلط، نامناسبه او بد الفاظ لیکلې شوي دي یا ګنده او غلط مِثالونه ورکړې شوي دي هغه د مخکښ وروسته عبارتونو سره هم او د هغې نه بغیر هم، په دواړو صورتونو کښې غلط او بد وي. دا څه پټه خبره نه ده، دا کتابونه په بازار کښې خرڅیږي. تاسو ئې پخپله اوګورئ. د مخکښ وروسته عبارت باوجود به دا الفاظ او د دې مفهوم تاسو ته پخپله واضحه شي.

یو مِثال ملاحظه کړئ:

اشرفعلی صاحِب تهانوی لیکي: "بیا دا چه د هغوئي (ﷺ) په ذاتِ مقدسه

باندې د علمِ غيب حڪم ورکول که د زيد په وَينا صحيح وي نو دا امر معلومول غواړي چه د دې غيب نه مراد څيني غيب دې يا کُل غيب که څيني علومِ غيبيه مراد وي نو په دې کښې صرف د حُضُور ﷺ څه خاصِيَّت دې، داسي علمِ غيب خو زيد و عَمَرو، بلکه هر ماشوم او ليوني بلکه ټولو څناورو او څاروو ته هم حاصل دې.

(حفظُ الايمان ص ۷ مطبوعه شيخ جان محمد اله بخش، تاجران کتب علوم مشرقي، کشميري بازار لاهور. جون ١٩٣٤ء)

آيا هم دا عبارت به تاسو د تهانوی صاحب يا د خپل والِد، د مُلك د صدر، د خپل اُستاذ، يا د بل يو مُحتَرَم کس د پاره قُبُول کړئ؟ اوګورئ.

[هم هغه د تهانوي صاحب عبارت اوس د تهانوي صاحب د پاره ليڪم] بيا دا چه د تهانوی صاحِب په ذات باندې د علم حُڪم لګول که د چا په وَينا صحيح وي نو د معلومولو خبره دا ده چه د دې عِلم نه مراد څيني علم دې يا ټول علم. که څيني علم مراد وي نو په دې کښې د تهانوی صاحب څه خُصُوصِيَّت دې، داسي علم خو هر يو عام او کمتر سړي بلکه هر ماشوم او ليوني او ټولو څاروو او خرو هاتيانو ته هم حاصِل دې.

اووائې! آيا په داسي وئيلو کښې به د تهانوی صاحب په شان کښې څه ګستاخي وي څه؟ ستاسو جواب به دا وي چه يقيناً ګستاخي به وي.

حيرانتيا ده چه کوم مِثال او نامُناسِب الفاظ د تهانوی صاحب د پاره يا ستاسو د يو بل مُحتَرَم کس د پاره د ګستاخئ او بې ادبئ سبب وي، هغه به د رسُولُ الله ﷺ د پاره ګستاخي او بې ادبي ولې نه وي؟ او دا منلي شوي خبره

ده چه د نبي پاك ﷺ په شان كښې بې ادبي او ګستاخي بيشكه كفر دې.

كيدې شي تاسو به وائې چه د دې عُلماؤ نِيَّت به د ګستاخئ نه وي. د دې عبارتونو مفهوم به څه نور څه وي. د هر لفظ د يو نه زياتې معنې وي. د لږ ساعت د پاره هم دا رِعايت او تاويل د خپل ځان د پاره فرض كړئ او بيا جواب راكړئ.

كه يو كس تاسو ته "ولد الحرام" اووائي. تاسو له غُصّه درشي او د غُصّې نه تك سُور شئ او هغه كس اووائي چه تاسو پوهه نه شوئ د "حرام" معنٰى عِزّت هم ده. زما مطلب دا وو چه تاسو عِزَّت والا ئې، او د محترم ځوئ ئې او زما نِيَّت د كنزلې كولو نه وو. اووائې آيا د خپل ذات د پاره به تاسو دا رعايت قبول كړئ؟ [يعني چه بيا خلق تاسو ته "ولد الحرام" وائي او تاسو ښه معنىٰ وركوئ] [بالكل نه]

چه تاسو د خپل ذات د پاره دا رِعايت نه برداشت كوئ نو آيا داسي رعايت د خوږ نبي ﷺ د پاره تاسو قبلولې شئ؟ ياد ساتئ! د ګستاخئ، بې ادبئ د پاره نِيَّت كول يا نه كول هيڅ حيثِيَّت نه لري.[5]

د ديوبندي وهابي تبليغي عُلماؤ دا عبارتونه او په دې باندې قائم اوسيدل د اصل اِختلاف بُنياد دې.

د جاهله نه جاهل خو د رښتيني مسلمان ايمان دا خبرې اوريدل هم نه خوښوي نو يو مسلمان به دا خبرې څنګه اومني يا قبولې كړي. تاسو به يقيناً دا وائې چه داسي خبرې كولو او ليكلو والا، د دې خبرو منلو او قبلولو والا هيڅ كله هم مسلمان نه شي كيدې.

---

[5] د تفصيل د پاره زما كتاب "سپين او تور (رښتيا او دروغ)" ملاحظه كړئ.

دا عقلي خبره ده چه د جاهل په مقابَله کښې د عالِم جرم زيات سخت وي ځکه چه د جاهل خبره او عمل د بې عِلمۍ په وجه وي او عالِم سره دعِلمه قصداً جرم کوي. ځکه د هغه سزا هم زياته پکار ده. تاسو چه کوم ګستاخانه، کفريه او نامناسبه عبارتونه اوکتل دا هغه خلقو ليکلي او وئيلي دي څوك چه ځان ته ډير غټ عالِمَان وائي او د خپله تابعداري لازمه ګنړي او د هغوئي منونکي د هغوئي نه زيات بل يو عالم هم نه قبلوي.

د هغه "عُلماؤ" په ژوند کښې هغوئي ته اووئيل شو او هغوئي ته اوليکل شو (او ټول ريکارډ محفوظ دې) چه ستاسو دا خبرې غلطې دي، کفريه دي، د دې نه توبه اوکړئ. خو هغه ټولو خپلو ليکلي شوي خبرې صحيح قرار کړې او په خپلو ليکلو قائم پاتې شو، چنانچه صرف په برصغير کښې نه بلکه د مدينې مُنَوَّرې او د مکې مکرمې او د عربو ملکونو علمائے حقّ اهل سُنّت و جماعت د حُجَّت پوره کولو نه پس د دې عبارتونو ليکلو والؤ او د دې نه توبه نه کولو والؤ علماؤ باندې د کفر فتوې اولګولې (د تفصيل د پاره اوګورئ فتاوٰی حُسَّامُ الحرمين). د کُفر فتوې چاپ کيدو نه پس د دې عبارتونو ليکلو والؤ علماؤ او د هغوئي منونکو دا اووئيل چه چا په مونږه باندې د کفر فتوې لګولې دي که زمونږه د دې عبارتونو مطابق دې خلقو په مونږه د کفر فتوې نه وې لګولې نو هغوئي به پخپله کافر شوي وو..[6]

[6] د عُلماؤ د طرف نه د چا په کفر کولو د هغه د کفر د فتوٰی جاري کولو په باره کښې د اشرفعلي تهانوي ارشاد اوګورئ، هغه وائي: "خلق وائي چه مُوليان مسلمانانو

د دې نه صفا صفا ظاهرېږي چه دې عُلمائے ديوبند ته د خپلو عبارتونو د كُفريه كيدو علم وو خو هغوئي بيا هم د دې عبارتونو نه توبه اونه كړه. د دې وجه دا ده چه هغوئي دا كار د غيرمسلمه دُښمنانو په مشوره د هغوئي امداد او تعاون حاصلولو نه پس كړې وو. هغوئي خپل (غير مُسلِمه) سرداران چرته خفه كولې شو. هغوئي دا سوچ اُو نه كړو چه هغوئي الله تعالٰى او د هغه رسُول ﷺ ناراضه كوي او د هميشه عذاب ته دعوت وركوي او په اُمَّت كښې فتنه او فساد پريږدي. دا كفريه عبارتونه ليكونكي چه كله د دُنيا نه لاړل نو د هغې نه پس د هغوئي منونكو ته اووئيل شو چه په دې كتابونو كښې چه كومې غلطې خبرې ليكلې شوي دي [دا ټول كتابونه] په اور اوسوزوئ يا ئې په سمندر كښې واچوئ. او د دې عبارتونو نه توبه اوكړئ. خو هغه منونكو هم په خپل ځان باندې د توبې دروازه بنده كړه او په دې ضِد باندې قائم شو او اوس هم قائم دي چه

---

ته كافر وائي، اے ظالمَانو! د مُوليانو څه خطا ده، چه تاسو پخپله كافر جوړيږئ، اوس كه يو مولا (ستاسو) په داسي بې هوده خبرو باندې تاسو ته كافر اووائي نو په دې كښې د بې وسو (مُوليانو) څه خطا ده؟ ....... مولا څوك نه كافر كوي، خلق پخپله كافران جوړيږي، موليان (د كفر كوونكو كافر كيدل) بيانوي....... چه څوك كافر شي نو په هغه باندې حكم لګوي چه ته كافر شوې ئې، د خدائ په بارګاه كښې توبه اوكړه او د اسلام او نكاح تجديد اوكړه [يعني بيا اسلام راوړئ او نكاح اوتړئ] ....... خلاصه دا ده چه هغه (يعني مولا د چا نه) كافر نه جوړوي بلكه (د هغه كافر كيدل) بيانوي." خطبات حكيم الامت حصه محاسنِ اسلام ص ٤٠، په "كتاب كفروايمان" كښې مفتي شفيع هم دا عبارت نقل كړې دې.) (په دې موضوع باندې نور تفصيل زما په كتاب "سپين او تور (رښتيا او دروغ)" كښې مُلاحظه كړئ)

دا عبارتونه هيڅ كله غلط نه دي بالكل صحيح دي، چنانچه د قرآن و سُنَّت مطابق د عُلمائے حق فيصله دا ده چه د كفر تائيد او حِمايت [يعني ملګرتيا] هم كفر دې. (اَلرِّضَابِالْكُفْرِ كُفْرٌ. په كفر باندې راضي كيدل هم كفر دې)

ځيني خلق وائي چه د دې عبارتونو غلط او كفريه كيدو باوُجود د دې ليكلو او منلو والؤ ته كافر وئيلو كښې به مونږ ته د څو ركعتو ثواب حاصل شي؟ [او وائي] مونږ په مړو شوو خلقو پورې ولې بد اووايو او څه معلومه ده چه مړو شوو توبه كړې وي؟

د دې په جواب كښې عرض دا دې چه په كفر او اسلام كښې فرق كول، په ضرورياتِ دِين كښې شامل دي. [تر څو ئې چه كُفر نه وي ښكاره شوې نو] يو كافر ته هم تاسو ټول عمر كافر مه وائې، خو چه كله د هغه كفر ښكاره شي نو د هغه د كفر په بنياد هغه كافر ګنړل او هغه ته كافر وئيل به ضروري شي. او دا اُصول دي چه كفر ته كفر نه وئيل پخپله په كفر كښې اخته كيدل دي.[7]

پاتي شوه دا خبره چه هغوئي مړه شوي دي نو اوس په هغوئي پورې بد ولې اووئيل شي. د دې په جواب كښې عرض دې چه د رسُولِ اكرَم ﷺ تره ابولهب ګستاخی او بې ادبي اوكړه، وليد بن مُغِيره او نور ګستاخان به تر قِيامته پورې ملامته كړې كيږي ځكه چه كوم ګستاخِ رسُول دې د

[7] واضحه دِ وي چه د عُلمائے ديوبند نومونه ښكاره كولو نه بغير چه دا كفريه عبارتونه نقل كړې شو او د هر يو ديوبندي وهابي عالم نه فتوٰى غوښتې شوې ده نو هغه عالم هغه عبارتونو ته كفريه وئيلي دي او د عبارتونو قائل و قابِل [يعني وئيونكي او قبلوونكي] ته ئې كافِر وئيلي دي.

هغه تعريف او ستائنه نه شي كيدې بلكه د هغه به غندنه كيږي او دا وئيل چه څه معلومه ده كه هغوئ توبه كړي وي؟ نو وړومبنۍ خبره خو دا ده چه د توبې خيال خو به د هغه كس په زړه كښ پيدا كيږي څوك چه دا عبارتونه كفريه ګنړي، چه ديوبندي وهابي عُلماء خپل دا كفريه عبارتونه كفريه هډو مني نه او صريح [يعني ښكاره] قول هم د تاويل [د ښې معنې] قابِل ګنړي نو هغوئي به څنګه توبه اوكړي؟ د دې باوُجود عرض دا دې كه د دې عُلمائے ديوبند يو عقيدت مند ته هم معلومه وي چه د هغوئي مشرانو د خپلو غلطو او كفريه عبارتونو نه توبه كړي وه نو هغه توبه دِ چاپ كړې شي او مشهوره دِ كړې شي، او ټول عقيدت مند دِ پخپله هم د هغه غلطو او كفريه عبارتونو د نه منلو او د نه قبلولو اعلان اوكړي او هغه عبارتونه دِ غلط او كفريه اوګنړي نو جګړه به پخپله ختمه شي.[8]

ځيني خلقو دا اووئيل چه د دې عبارتونو ليكونكو باقى ليكل خو

---

[8] په لاهور كښ د مجلس صِيانةُ المُسلمين په نوم قائمې شوي يوې ادارې اوس د خيانت د پاره ناځاپه دا چال چلولې دې چه د عُلمائے ديوبند هغه كفريه عبارتونه ئې پخپله بدلول شروع كړي دي. د دې واضحه مطلب دا دې چه د دې ادارې سره د تړلو شوو ديوبندي علماؤ په نِزد پخواني اصل عبارتونه يقيناً كفريه دي، ګني د بدلولو ضرورت ولې پيښ شو؟ كه واقعى موجوده ديوبندي وهابى عُلماء د خپلو غټانو هغه عبارتونو ته كفريه او غلط وائي = يا پرې اعتراض كوي نو صفا اقرار ولې نه كوي؟ آيا د چا په كفر باندې د پوهيدو باوجود قصداً هغه پټول پخپله په كفر كښ اخته كيدل نه دي؟ موجوده ديوبندي وهابى عُلماء دِ د خپل شيخ محمد زكريا كاندهلوى دا ارشاد هم واوري هغوئي وائي: ”د بل په كتاب كښ د هغه د اِجازت نه بغير تصَرُّف [يعني بدلون] كول چرته جائز كيدې شي؟“ ص۵۳ كتب فضائل پر اشكالات اور اُن كے جوابات)

صحیح دي صرف په یو څو خبرو یا د یوې خبرې په وجه هغوئي ته کافر وئیل صحیح نه دي. د دې جواب پخپله د اشرفعلي تهانوی صاحِب په خُله واورئ، هغوئي فرمائي چه ''که په چا کښې یوه خبره هم د کفر وي نو هغه بالاِجماع کافِر دې.'' (اَضافات یومیه ج۷ ص ۳۳٤)

د دې نه علاوه دې خلقو ته عرض دې چه لږ اوګورئ (عزازیل) شیطان شپږ لکه کاله او په یو روایت کښې دیرش لکه کاله د الله تعالیٰ عبادت اوکړو، د زمکې په یو یو ځائ هغه الله تعالیٰ ته سجدې اوکړې. د علم په لحاظ هغه د فرښتو اُستاذ مشهور دې او د عقیدې په لحاظ پوخ مُوَحِّد (توحیدی) وو.هغه صرف یوه غلطي کړې وه چه حضرت آدم عَلَیۡهِ السَّلام ته ئې سجده نه وه کړې او وجه ئې دا بیان کړې وه چه دا خاکې [یعني د خاورو نه جوړ شوې] بشر دې هغه (شیطان) د نَبُوَّت د عظمت انکاري شو. الله تعالیٰ چه حضرت آدم عَلَیۡهِ السَّلام ته د سجدې کولو کوم حکم ورکړې وو هغه سجدۀ تعظیمي وه او شیطان د نَبُوَّت د تعظیم کولو نه انکار اوکړو، نو الله تعالیٰ د شیطان عبادت، علم او عقیدۀ توحید په هیڅ کښې شمار نه کړو اَو نه ئې د هغه څه خاطر اوکړو بلکه د تعظیمِ نَبُوّت مُنکِر ئې صِرف په یوه ګُستاخئ او بې ادبئ باندې د همیشه د پاره مردُود او لعنتي اوګرځولو. اوس به د قِیامته پورې په هغه باندې لعنت او لعنت وي.

دا ما مخکښې هم عرض کړې وو چه د مومِن کیدو د پاره د ټولو ضروریاتِ دین منل ضروري دي او د کاِفر کیدو د پاره صِرف د یوې

قطعی دِيني خبرې انکار کول هم کافي دي. لږ خیال اوکړئ! چه د شیطان (یعني عزازیل) د لکونو کلونو نمونځونه او عبادتونه او ټول علِم او عقیدهٔ توحید د هغه په کار رانغلو او هغه ئې د لعنتي کیدو او مردود کیدو نه بچ نه کړو نو د دې دیوبندي وهابی عُلماءُ د یو څو کالو نمونځونه، د دوئې علم او عقیدهٔ توحید به د دووئې څه په کار راشي؟ شیطان هم د نبی ګستاخی کړي وه او دې عُلمائے دیوبند خو د نبیانو د سردار ﷺ په شان کښې هغه نامناسبه جملې وئیلي دي چه تاسو به ئې د خپلو بُزُرګانو د پاره وئیل او اوریدل برداشت نه کړئ، په دې صورت کښې د دې عُلمائے دیوبند نه د الله تعالیٰ د ناراضه کیدو او په دې عبارتونو باندې د ایمان راوړونکو په مردود کیدو کښې چا ته شك شك کیدې شي؟ او ښه پوهه شئ چه د خلاصي دارومدار د عقیدو په صحیح کیدو باندې دې، په اعمالو او علم نه دې، چنانچه پخپله د اشرفعلی تهانوي صاحِب د لیك نه د دې ګواهي اوګورئ.

د "سِیرَةُ النَّبی" په نوم د مشهور کتاب لیکونکي شِبلی نُعمانی او د دیوبند د یو بل عالم جناب حمیدُالدین فراهي په باره کښې د تهانوی صاحِب یوه فتوٰی د دیوبند یو بل عالم جناب عبدالمَاجِد دریابادي په خپل کِتاب "حَکیمُ الأُمَّت" (مطبوعه اشرف پریس لاهور، ۱۹۶۷ء) کښې په صفحه ٤٥٨ کښې نقل کړي ده، هغوئې لیکي:

"د مولانا تهانوی صاحِب فتوٰی شائع شوي ده. مولانا شِبلی او مولانا حمیدالدین فراهي کافِر دي او مدرسه د دې دواړو مشن دې په دې وجه

مدرسة الاصلاح مدرسۀ کفر و زندقه ده تر دې چه کوم علماء د دې مدرسې په جلسو کښ شريك کيږي هغه هم مُلحد او بې دينه دي."[9]

د دې فتوٰی لوستلو نه پس جناب عبدالمَاجِد دريا آبادي تهانوی صاحِب ته يو تفصيلي خط اوليکو چه په هغې کښ ئې د شِبلِی نُعمانی او حميدُالدين فراهي په باره کښ د خپل طرف نه صفائي پيش کړه چه دا خلق نمونځ ګُزاره دي تر دې چه د تهجُّدو هم پابند دي، ډير نيکان او عالِمَان دي. د دې په جواب کښ تهانوي صاحِب اوليکل چه "دا ټول اعمال او احوال دي، عقائد د دې نه جُدا څيز دې. د عقيدې د صحيح کيدو سره د اعمال و احوال فساد [يعني خرابيدل] او د عقائدو د خرابيدو سره د اعمال و احوال صحيح کيدل جمع کيدې شي." [يعني د بد عقيده اعمال ښه هم کيدې شي]

(حکيمُ الامت ص ٤٧٦)

هم دا تهانوی صاحِب يو بل ځائ فرمائي چه "بد دينه سړې که د دين خبرې هم کوي نو په هغې کښ ظُلمَت [يعني کفر] ګډ وي، د هغه د ليك په کرښو کښ هم يو قِسم ظُلمَت [يعني کفر] ګډ شوې وي...... ځکه د بې دينه خلقو صُحبَت او د بې دينه خلقو کتابونه هيڅ کله هم نه دي لوستل پکار ځکه چه د کتاب لوستل په مثل د مُصَنِّف [يعني د

[9] عُلمائے ديوبند دِ لږ په غړيدلو سترګو د تهانوی صاحِب دا فتوٰی اوګوري اَو اُو دِ وائي چه د اعلٰی حضرت مولانا شاه احمد رضا خان رحمۃُاللہِ تعالٰی علیه د طرف نه د يو څو علمائے ديوبند په کفريه عبارتونو باندې د هر قِسمه حُجت پوره کولو نه پس جاري کړې شوي د کفر په فتوٰی باندې اعلٰی حضرت ته "مُکَفِّرُ الْمُسلِمِین"(يعني مسلمانانو ته کافر وئيلو والا) وئيل ظُلم نه دي؟ حقيقت دا دې چه رښتيني مسلمانانو ته مشرك، بدعتی او کافر وغيره وئيل د اهلِ سُنَّت نه بلکه د ديوبندي وهابي عُلماؤ طريقه ښه او روزګار دې.

ليكونكي] د صحبت دي. كوم اثر چه د بې دينه د صحبت وي هغه د هغه د كتاب د لوستلو هم وي." (كمالات اشرفيه ص ٦٨، مطبوعه مكتبه تهانوى، كراچى)

دا اشرفعلى تهانوى صاحِب د تبليغى جماعت په نِزد څه مرتبه لري؟ اوګورئ.

د تبليغى جماعت بانى [يعني جوړوونكې] محمّد الياس صاحِب وائي چه "حضرت مولانا تهانوى صاحِب ډير غټ كار كړې دې بس زما زړه غواړي چه تعليم د هغوئ وې، او طريقۀ تبليغ زما وې، دغه شان به د هغوئي تعليم عام شي." (ملفوظات ص ٥٧)

د تبليغى جماعت بانى پخپله اقرار اوكړو چه د هغه بُنياد او د هغه د تبليغ مقصد صِرف د تهانوى صاحِب تعليم عام كول دي. د دې نه واضِحه شوه چه اشرفعلي تهانوي صاحِب د تبليغى جماعت نظرياتى بنياد دې. او هم دا تهانوى صاحِب وائي چه "اعمال و احوال ځان له څيز دې" او "عقائد" د دې نه بالكل جُدا څيز دې. او د هغه [تهانوى] په ليك كښ دا هم موجود دي چه كه د چا عقيده غلطه وي نو ضروري نه ده چه د هغه اعمال و احوال دِ هم غلط وي، يعني بدعقيده بې دينه كس نمونځ ګزاره جوړيدې شي او بيلمانځه كس د صحيح عقيدې والا كيدې شي. هغوئ پخپله واضحه كړل چه صِرف په كلِمه او نمونځ كولو باندې دارومدار نه دې بلكه اصل دارومدار په صحيح عقائدو دې. كه عقيده صحيح نه وي نو د نمونځ كولو او روژه نيولو هيڅ حيثِيَّت او اهَمِّيَّت نشته. او دا ئې هم وئيلي دي چه "كه د چا عقيده صحيح نه وي هغه بې

دينه دې او د هغه كس په ليكلو شوو كتابونو او تقريرونو كښ ګمراهي ده، هغه كه د دين خبرې هم كوي نو هغه هم د ګمراهۍ نه خالي نه وي، په دې وجه د هغه د صُحبَت نه هم ځان ساتئ او د هغه ليكلي كتابونه هم هيڅ كله مه ګورئ، ګني تاسو به هم ګمراه شئ." هغه خو دا هم ليكلي دي چه د بدعقيده خلقو ديني مدرسه هم د ايمان او اصلاح مدرسه نه ده بلكه د كفر او زندقه [يعني د داسي بې دينه خلقو چه توبه ئې نه قبليږي د هغوئي] مدرسه ده او كوم خلق چه د دې مدرسې سره تړون ساتي، او د هغوئي په جلسو كښ شريك كيږي هغه به هم مُلحده او بې دينه شي.

لږ سوچ اوكړئ تهانوى صاحب د بدعقيدګۍ په وجه خپلو مشهورو علماؤ ته كافر اووئيل. د هغوئي د نمونځونو، علم او د خدمتونو څه پرواه ئې اُو نه كړه. د هغوئي ديني مدرسې ته ئې د كفر مدرسه اووئيله، د هغوئي صحبت او ليكلي كتابونو لوستلو ته ئې الحاد او بې ديني اووئيله. كه واقعي د تبليغي جماعت نظرياتي بنياد تهانوى صاحِب ئې نو د تهانوى صاحِب مطابق د چا چه عقيده صحيح نه وي د هغه د نمونځونو هيڅ فائده نشته. او تهانوى صاحِب فرمائي چه د داسي خلقو سره ناسته، ولاړه، او د هغوئي ليكلي كتابونه لوستل هم الحاد او بې ديني ده. او ټخپله علمائے ديوبند د تبليغي جماعت د غټو غټو خلقو په باره كښ واضحه وئيلي دي چه دا خلق جاهلان دي او د دوئي عقيدې صحيح نه دي. د تبليغي جماعت نظرياتي بنياد د تهانوى صاحِب [د تعليم مطابق دې] او د ديوبند د غټو غټو علماؤ مطابق ثابته شوه چه د تبليغي جماعت سره ناسته،

ولاړه، د هغوئی کتابونه لوستل الحاد او بې ديني او ګمراهي ده.

**محترمو لوستونکو!** که **هم** دا خبره مونږه کوو نو د هغوئي په نِزد مجرمان ګرځو. حالانکه دوئي له خو پکار دي چه خپل مشران ملامته کړي چا ته چه دوئي خپل بنیاد وائي ځکه چه هغوئي دوئي ته غلط وائي او د دوئي اصليت ښکاره کوي.

چنانچه ښچپله د تبلیغي جماعت د علماؤ حوالې اوګورئ. (د براهين قاطعه د مصنف خلیل احمد انبیټهوي د خلیفه او د تبلیغی جماعت د باني محمد الیاس صاحب او د هغه د ځوئ محمد یوسف سره د یوې مودې پورې کار کوونکې د هغوئي خاص) دیوبندي عالم عبدالرحیم شاه فرمائي چه

"کوم کار چه د عالَمانو دې هغه داسي خلق کول غواړي چه هغوئی نه صرف د دین نه ناخبره دي بلکه د خپلې بیوقوفئ او جهالت او د خپلې بدکردارئ په وجه په معاشره کښې هغوئی ته څوك په ښه نظر هم نه ګوري نو داسي اوګنړئ (اِذاكانَ الْغُرابُ دَلِيلَ قَومٍ سَيَهْدِيهِم طَرِيقَ الْهَالِكِينا)" (چه کله قارغه د یو قوم مشر جوړ شي نو هغه، هغه قوم ته د هلاك کیدو لاره هم ښائی). (اصول دعوت و تبلیغ ص٤)

نور فرمائي:

"زما (عبدالرحیم شاه) دِ په خدائ قَسم وي چه د (تبلیغي) جماعت تجزیه مجبوراً په ناخوښه زړه کووم او دیني تقاضا [یعني حاجت] او ضرورت ئې ګنړم ځکه چه هغه نابالغه [یعني بې عِلمه] مقتدیانو عام خطابونه شروع کړل چه هغوئی ته شرعاً د دې اجازت نشته او هغوئي د

دې کار په افضل کیدو کښ د حد نه تیر شو او د نورو دیني شعبو ئې ښکاره په ښکاره سپکاوې شروع کړو او ذمه دارانو ته د څو څو ځله توجُّه ورکولو باوجود ئې هغوئي منع نه کړل یا هغوئي منع نه شو نو په داسي صورت کښ د ذِمّه وارئ خبره دا ده چه حقیقي حال واضحه کړې شي که څوك ئې مني او که نه ئې مني." (اصول دعوت و تبلیغ ص۵۲)

مشهور دیوبندي وهابي مناظر احمد نعمانی صاحِب هم د خپل مذهب په تبلیغي جماعت باندې اعتراض کښ وائي:

"دا غلطي عام طور کیږي چه په عامو محفلونو کښ داسي خلق د خبرو د پاره پاڅولې کیږي چه هغه د هغې اهل نه وي بلکه د هُغه کار نه صحیح خبر هم نه وي او هغوئي په خبره کولو کښ د خپل علم د حد پابندي هم نه کوي، واقعه هم داسې ده چه داسي غلطئ ډیرې زیاتې کیږي او دا خبره د کار د ذمه وارانو د پاره بیشکه ډیره د فِکر او توجُّه لائقه ده." (تذکرة الظفر ص ۲۴۴، مطبوعه علمي، کمالیه، فیصل آباد، ۱۹۷۷ء)

جناب ابو الحسن علي ندوي وائي چه : "مولانا (اشرفعلي علي تهانوي) ته یوه بې اطمیناني دا وه چه د علم نه بغیر به دا (د تبلیغي جماعت) خلق د تبلیغ فرض څنګه پوره کړې شي؟ خو چه کله (د تهانوي وراره) مولانا ظفر احمد صاحِب (تهانوي ته) ته اووئیل چه (د تبلیغي جماعت) مُبَلِّغِین د دې څیزونو نه سوا د کومو چه هغوئي ته حکم دې د بل څیز ذکر نه کوي او نور څه نه چیړي نو مولانا (تهانوي) ته نور هم اطمینان اوشو."

(دیني دعوت ص ۱۲۶، مطبوعه اداره اشاعت دینیات، نئ دهلي)

د جناب ظفر احمد تهانوي عثماني د ژوند حالت ليکونکې عبدالشکور ترمذی صاحب (په تذکرة الظفر کښ) ليکي چه : "کله دا (تبليغي) جماعت او د دې د مبلِّغينو، د تبليغ بنيادي امور نه علاوه د کومو چه دوئي ته حکم کيږي د نورو څيزونو ذکر شروع کړي نو حضرت تهانوي ته چه په کوم بنياد په (تبليغي) جماعت او په اهل جماعت باندې اطمينان حاصل شوې وو هغه بنياد بالکل ختميږي څنګه چه نن صبا په کثرت سره کتلې کيږي چه ګشت کوونکو عامو (تبليغي) جماعتونو دا اصول پريښودې دې او کم علمه مُبَلِّغين اخوا ديخوا غير متعلقه خبرې او قصې بيانوي او اکثر د خپل علم د حد نه تير شي."

(تذکرة الظفر، ص ٢٤٢)

جناب ظفر احمد عثماني پخپله فرمائي:"غرض دا چه (د تبليغي جماعت) د عوامي تبليغ د کار موجوده طريقه په علوم دينيه کښ د مهارت حاصلولو او د دين په مختلفو شعبو کښ د کار کولو اهليت پيدا کولو نه بالکل خالي دې." (تذکرة الظفر، ص ٢٥٢)

نور فرمائي: چه د "ناقصه [کس] تبليغ وغيره کول قابِلِ اعتبار نه دي."

(تذکرة الظفر، ص ٢٥٣)

دا جمله په غور واورئ ، د دې کتاب تذکرة الظفر په صفحه ٢٤١ کښ جناب عبدالشکور ترمِذي ليکي: چه په "تبليغي جماعت کښ د شامليدو او د هغوئي په ملګرتيا کښ کار کول د اصلاح د پاره حضرت مولانا (ظفر) کله هُم پوره نه دي ګڼړلي." (تذکرة الظفر، ص ٢٤١)

**محترمو لوستونکو**! په دې عبارتونو کښې د کور رازدار صفا وائي چه تبليغي جماعت والا د حد نه تير شوي دي او د باراني چيندخو په شان هر يو تړ تړ كول شروع كړي دي او د علم حاصلولو نه بغير د تبليغ د پاره وتلي دي. د تبليغي جماعت تبليغ كوونكي ناقصه [يعني كم عِلمه] دي، د دوئي د تبليغ هيڅ اِعتبار نشته او په تبليغي جماعت كښې شامليدل او د تبليغي جماعت په ملګرتيا كښې د تبليغ په كار اصلاح نه كيږي. چه تر څو پورې د هغوئي خپله اِصلاح نه وي شوي نو هغوئي به د نورو اصلاح څنګه اوكړي.

ټچپله ديوبندي وهابي علماء د خپل مذهب د تبليغي جماعت او د هغې د كار نه مطمئن نه دي.

هر يو ښه پوهيږي چه د دوايانو كتابونه په بازار كښې خرڅيږي كه څوك هغه اولولي او كلينك [يعني د ډاكټرئ دُكان] جوړ كړي نو داسي ګولئ (يعني دوائي) به وركړي چه نه به مرض پاتي شي او نه مريض. ځكه چه د دوايانو كتابونه ټچپله لوستلو باندې هيڅ څوك هم ډاكټر او ماهر طبيب نه شي جوړيدې تر څو پورې چه په ميډيكل كالج كښې د ماهر استاذانو نه باقاعده تعليم او تربيت حاصل نه كړې. د دوايانو هر يو دُكاندار ته معلومه وي چه د درد يا تبې ګولئ كومه يوه ده خو درد يا تبه ولې ده؟ دا د دوايانو دُندار صحيح نه شي وئيلې تر څو پورې چه ماهر طبيب ته لاړ نه شي. ځكه يو مشهور متل دې:

"چه د چا كار وي هغه پرې ښه پوهيږي، كه بل ئې اوكړي نو خراب

به ئې کړي.“

الله تعالٰی صرف کتاب نه دې راليږلې، نبـی ئې هم راليږلې دې ځکه چه نبـی کتاب او حِکمت ښائي نو په کتاب خلق پوهه شي.

چنانچه عبدالرحيم شاه صاحِب فرمائي: ”د غور مقام دې چه يو کس بغير د سند نه کمپوډر هم نه شي جوړيدې خو خلقو دين دومره آسان اوګڼړلو چه د چا زړه غواړي د وعظ و نصيحت د پاره اودريږي. د يو سند ضرورت نشته. په داسي موقع باندې دا مثال ښه صحيح ثابتيږي چه”نيم حکيم خطرهٔ جان او نيم مُلّا خطرهٔ ايمان.“ [يعني نيم حکيم د بدن د پاره خطره ده او نيم مُولا د دين د پاره خطره ده] (اصول دعوت و تبليغ ص ٥٤)

**محترمو لوستونکو!** دې خلقو ته وئيلې شي چه د تبليغ د پاره د کور نه په وتلو کښې دومره ثواب دې خو دا خلق دومره سوچ نه کوي چه لکه څنګه چه د ډرائيورئ نه ناخبره سړې اسټيرنګ ته کښينولې شي نو [په ګاډي کښې ناست] مسافر به د مرګ نه بچ پاتې نه شي دغه شان که جاهِله کس ته د تبليغ منصب اوسپارلې شي نو د خلقو ايمان به سلامت پاتې نه شي.

ځکه د الله تعالٰی په ورکړه د غيبو علم لرونکي آقا ﷺ د مخکښې نه ارشاد فرمائيلې دې چه د عُلماؤ په ختميدو [يعني وفات کيدو] چه کله علم اوچت کړې شي نو خلق به جاهلان نيسي او د هغوئي نه به د مسائلو تپوس کوي او هغه جاهله [خلق] به بغير د علم نه غلط جوابونه ورکوي او د هغې نتيجه به دا وي چه ځپله به هم ګمراه کيږي او نور به

هم ګمراه کوي. (بُخاری و مسلم) دا ئې هم اوفرمائیل چه کله د دین کار نا اهله [یعني نالائقه] خلقو ته اوسپارل شي نو د قِیامت انتِظار کوئ. یعني هغه نا اهله به داسي خبرې کوي چه په هغې به خلق تباه او برباد شي. حُضُورِ اکرَم ﷺ دا د قیامت په نښو کښ یوه نښه قرار کړې ده. تاسو ټخپله اوګورئ، تبلیغي جماعت والا په ظاهره د کلِمې او د نمونځ د پابندئ خبرې کوي خو د دین د اصل نه ناخبره دي او علم نه لري ځکه ټخپله هم ګمراه کیږي او نور هم تباه کوي.

عبدالرحیم شاه لیکي:

"د بیلمانځه نُقصان د هغه د ذات پورې دې او د بل نُقصان مُتَعَدِّي [یعني خوریدونکې] دې، ټول نسل ته به نُقصان رسي."

(اُصول دعوت و تبلیغ، ص ٥٤)

یعني نمونځ نه کوونکې کس صرف د خپل ځان نُقصان کوي او چه ټخپله نمونځ ګزاره وي او غلطې عقیدې خوروي نو ټول نسل تباه کوي. د دې کس نقصان د هغه د ذات پورې محدود نه وي بلکه د وبائي مرض [یعني د خوریدونکي مرض] په شان نور هم د ځان سره [په مرض] اخته کوي.

د مدرسه دیوبند یو بل اُستاذ د دې تجویز چه" **په عوامو کښ دِ د کار کولو د پاره د محمد الیاس طریقهٔ تبلیغ اختیار کړې شي**"په باره کښ لیکي:

"ما چه د کومه حده پورې د هغوئ د طرز تبلیغ نه واقفیت حاصل کړې دې زه د هغې نه مطمئن نه یم." (**تنبیهات ص ١٢**)

د تبليغي جماعت د كتاب ”فضائلِ تبليغ“ او د تبليغ د فضائلو مصداق د تبليغي جماعت ګرځولو په باره كښې عبدالرحيم شاه ليكي:

”عجيبه بدلې خبرې دې چه چرې خو دې [تبليغ] ته سُنَّت نبوی وائي او چرې د دې باني او محرِّك مولانا الياس ګرځوي.“

(اصول دعوت و تبليغ، ص ١٥٠)

نور اوګورئ:

د محمد الياس نسبتي ورور اِحتِشامُ الحسن صاحِب كاندهلوى، او د الياس صاحِب خاص مددګار او د ماشوم والي نه د بوډا والي پورې د ملګري ليك د ”**ضروری انتباه**“ په عُنوان هغوئي د كتاب ”*زندگی کی صراط مستقیم*“ په آخِره كښې شائع كړې دې. دا په ډيره توَجُّه سره اولولئ، هغوئي ليكي:

”د نِظامُ الدّين (د علاقې) موجوده تبليغ زما د عِلم او فهم [يعني پوهې] مطابق نه د قُرآن و حديث مطابق دې او نه د حضرت مجدِّد اَلفِ ثاني او حضرت شاه وليُّ الله محدِّث دهلوي او د علمائے حق د مسلك مطابق دې. كوم علمائے كرام چه په دې تبليغ كښې شريك دي د هغوئي اولنئ ذمه واري دا ده چه دا كار مخكښې د قُرآن و حديث، د اَئِمّهٔ سلف او د عُلمائے حق د مسلك مطابق كړي.“

زما د عقل او پوهې نه دا خبره ډيره لرې ده چه كوم كار د حضرت مولانا اِلياس صاحب په ژوند كښې د اُصولو د ډيرې زياتې پابندئ

باوجود صرف د بِدعتِ حَسَنه حيثيت لرلو هغه اوس د ډيرې زياتې بې اُصولۍ سره د دنيا اهم کار څنګه اومنل شي؟ اوس خو د مُنکِراتو د شامليدو نه پس دې ته بدعتِ حسنه (يعني ښه اِيجاد) هم نه شي وئيل کيدې. زما [د دې بيانولو] مقصد صرف خپله ذمه واري پوره کول دي."

د ذِکر شوي عِبارت په جواب کښې ديوبندي عالم محمود حسن ګنګوهي، احتشامُ الحسن کاندهلوی ته ليکي چه:

"ما د اوسه پورې دا ګڼړل چه تاسو د صحت د خرابيدو په وجه په کاندهله [علاقه] کښې مُستقل اوسيدل اختيار کړل او د نظام الدين [په علاقه] کښې اوسيدل مو پريښودل او په هم دې وجه په تبليغي کار کښې حِصّه نه شئ اخستلې خو د دې ضميمه (ضرورى انتباه والا ليك) نه معلومه شوه چه د حِصّه نه اخستلو وجه دا ده چه ستاسو په نِزد [په موجوده طريقه] دا تبليغ ديني کار نه دې [پاتې] بلکه مُخَرِّبِ دين [يعني دين خرابوونکې کار ترې جوړ شوې] دې."     (چشمه آفتاب ص ۷)

"چشمه آفتاب" مرتب کوونکې جناب قمرالدين مظاهري په خپل پيش لفظ کښې ليکي: "مولانا احتشامُ الحسن کاندهلوی د دې تحريك په جوړوونکو کښې يو دې خو هغوئي په موجوده دور کښې په تبليغي جماعت باندې سخت اعتِراض کړې دې او دې ته ئې د ګمراهۍ طرف ته دعوت ورکوونکې جماعت وئيلې دې."     (چشمه آفتاب ص ۳)

د هُم دې کتاب په صفحه ۱۱ باندې د شيخ محمد زکريا صاحِب د خط دا جمله هم اوګورئ، ليکي:

"البتّه دا خو زه هم اورم چه د حضرت تهانوی صاحِب ....... ځيني خُلَفاء او خاص ملګري دا (تبليغي جماعت) نه خوښوي."

عبدالرحيم شاه ليکي چه "غير سُنَّت (يعني بِدعت) سُنَّت ګڼړل وغيره د عقيدې خرابي ده. زه په دې نه پوهيږم چه د يو څو اعمالو د پاره په عقائدو کښې کمې پريښودل په کومه شرعی طريقه صحيح دي؟ په صحيح عقائدو باندې د خلاصي دارومدار دې، اعمال د خلاصي مدار [يعني سبب] نه دي."    (اصول دعوت وتبليغ ص ٦٤)

**محترمو لوستونکو!** تاسو ته د تبليغي جماعت اصليَت پخپله د ديوبندي وهابي تبليغي جماعت د غټو غټو عُلماؤ د ليکونو نه معلوم شو.

د دې نه پس مونږ ته په هغوئي باندې د نورو فتوو لګولو او د بحث کولو ضرورت نشته. قدرت [يعني الله پاك] د هغوئی د خپلو قلمونو [په ليکونو] هغوئي غلط ثابت کړل. اوس ديوبنديانو وهابيانو تبليغيانو له پخپله فيصله کول پکار دي. که دوئي پخپله ځان ته صحيح وائي نو د دوئي دا ټول مشران غلط ثابتيږی او که دوئي خپلو غټانو ته صحيح وائي نو دوئي پخپله غلط ثابتيږی. او د دې ټولو ليکونو لوستونکي او اوريدونکي به د دې ليکونو نه هم دا نتيجه اوباسي چه د دوئي واړه او لوئي ټول غلط دي.

مونږه اهل سُنَّت وجماعت (سُنی) چا ته چه دا تبليغيان، ديوبنديان

وهابیان وغیره "بریلوي" هم وائي، مونږ د دوئي په نِزد په دې وجه بد یو چه مونږه دوئي ته د دوئي د تحریرونو [یعني لیکونو] آئینه مخې ته نیسو [چه په دې کښې خپل شکل اوګورئ] او چه کله د دوئي نه تپوس کوو چه "په دې دوارو آوازونو کښې ستاسو کوم یو آواز دې؟" نو دوئي د جواب راکولو په ځائ رد بد وئیل شروع کړي. د دوئي مونږ د رښتیني مسلمانانو نه مشرکان او بِدعتیان جوړولو نه سوا بل کار نشته، خو د الله پاك د قدرت نظارې اوګورئ چه په کومو خبرو دوئي مونږ ته مشرکان او بدعتیان وائي هغه کارونه دوئي پخپله هم کوي. یعني کومو کارونو ته چه حرام او ناجائزه وائي هغه پخپله هم کوي او دغه شان دوه چونده مجرمان جوړیږي. یو خو جائز ته د ناجائزه وئیلو جُرم او دویم هغې ته د ناجائزه وئیلو باوجود هغه کارونو د کولو جُرم. دا په دُنیا کښې د دوئي د پاره د الله عذاب نه دې نو نور څه دي؟

د لوستونکو په ذِهن کښې به یوه خبره ضرور وي د هغې ختمول هم ضروري دي. تاسو به وائې چه دا خلق کوڅه په کوڅه ښار په ښار ګرځي، خلقو ته د نمانځه او د روژې د پابندئ کولو تلقین کوي.[10]

---

[10] کیدې شي چه خلق دا ګنړي چه د دیوبندیانو وهابیانو دا تبلیغي جماعت د نمونځ روژې د تلقین او تاکید کولو او د دې د صحیح کولو د پاره جوړ شوې دې. په دې باره کښې لوستونکو په دې کتاب کښې د تبلیغي جماعت د بانی [یعني جوړولو والا] محمد الیاس صاحِب دا ارشاد کتلې دې چه د اشرفعلي تهانوی صاحِب عِلمونه، الیاس صاحِب په خپله طریقه خورول غواړی یعني خلق دیوبندیان جوړول غواړي.

لوستونکو! د محمد الیاس صاحِب یو بل ارشاد په ډیر غور واورئ کوم چه محمد الیاس صاحِب په خپله کتابچه "**دعوت**" او جناب ابو الحسن علي ندوی د خپل کتاب "**دینی دعوت**" په

خلقو ته صحيح کلِمه زده کوي بيا هغوئي ته غلط وئيل ښنګه صحيح دي.[11]

عرض دا دې چه د دې جواب تاسو د تهانوی صاحب د تحرير په حواله مخکښ لوستلې دې چه بدعقيده اګرچه د دين خبرې کوي خو هغه د ګمراهۍ نه خالي نه وي. د تهانوی صاحب جواب پوره دې بيا هم دا په نورو زياتو آسانو الفاظو کښ عرض کووم. يو صاحِب چه په ظاهره د نمانځه او روژو ډير زيات پابند وي او د شکل نه هم نيك معلوميږي هغه تاسو له د طعام دعوت اوکړي او په دعوت کښ د سوجۍ حلوا تياره کړي. په څلويښت ګرامه خالصه سوجۍ کښ پينځه ويشت ګرامه خالص

---

صفحه ٢٣٤ کښ نقل کړې دي هغه ليکي: "يو ځل خپل عزيز جناب ظهيرالحسن (ايم اے عليګ) ته (محمد الياس) اووئيل: ظهيرالحسن! زما په مُدَّعا [يعني مقصد] څوك نه پوهيږي، د خلقو خيال دا دې چه دا (تبليغي جماعت) د نمانځه تحريك دې، زه (محمد الياس) په قسم سره وائم چه دا هيڅ کله د نمانځه تحريك نه دې. يوه ورځ (محمد الياس) په ډير ارمان اووئيل: مياں ظهيرالحسن! [زما مقصد] يو نوې قوم پيدا کول دي." لوستونکي به ښه پوهيږي چه د تبليغي جماعت د بانی محمد الياس صاحب د دې خبرو صفا مطلب دا دې چه د تبليغي جماعت اصل مقصد هيڅ کله هغه نه دې څه چه د تبليغي جماعت ګشت کولو ګرځيدلو والا خلق بيانوي، بلکه د نمانځه وغيره تلقين کول خو د دوئي يوه دوکه ده د دوئي اصل مقصد خو د مسلمانانو نه بدل، يو نوې قوم پيدا کول دي د کومې د پاره چه محمد الياس صاحب ډير په ارمان سره وئيلي وو چه هغه خو يو نوې قوم پيدا کول غواړي هغه په قسم سره دا اِقرار کړې وو چه دا تبليغي جماعت هيڅ کله د نمانځه تحريك نه دې لهٰذا تبليغي جماعت د نمانځه تحريك ګنړلو والا يا دې ته داسې وئيلو والا دروغژن دې. که هغوئي ځان ته رښتيني وائي نو بيا د هغوئي محمد الياس صاحِب دروغژن ثابتيږي.

[11] جناب محمد حسن دربهنګي فرمائي: "کوم کس چه د اسلام او ايمان دعوٰی او کوشش کولو سره سره انبياء عليهمُ السلام ته رد بد وائي او د ضرورياتِ دين انکار کوي هغه قطعاً يقيناً د ټولو مسلمانانو په نِزد مرتد او کافر دې." (اشدالعذاب، ص۵) يعني د داسې کس صحيح تبليغ کول هم دې کس ته هيڅ کله څه فائده نه شي رسولې تر څو پورې چه هغه خپله عقيده او عمل نه وي صحيح کړې.

سوچه غوړي ګډ کړي او ديرش ګرامه ښکښ چيني واچوي او څلور ګرامه ښکښ د بادامو چزغئ او پسته او د سپينو زرو پاڼړه استعمال کړي او صرف يو ګرام خالص زهر په حلوه کښ ګډ کړي او هغه په حلوه کښ حل شي خو ښکاري نه. د پاس پرې صرف ځليدونکي د سپينو زرو پاڼړه ښکاري، سوچه غوړي ښکاري، پسته او بادام ښکاري او هغه حلوا تاسو ته مخې ته کيږدي او وائي چه په دې کښ ګلوکوز او وټامن دي، د طاقت د پاره بهترين قوت ورکووالا [حلوا] ده او اوګورئ څومره ښکلي ده، هر څيز خالص دې، ځکه ئې اوخورئ. نو تاسو اووائې [چه تاسو ته معلومه وي چه په دې کښ زهر دي نو آيا] تاسو به هغه حلوه اوخورئ؟ يقيناً تاسو به ئې نه خورئ. هغه به تاسو ته د سپينو زرو د پاڼړې ځليدل، د غوړو فائدې، د چينئ خوږوالې او د پستې او د بادامو طاقت او فائدې بيان کړي. تاسو به وائې چه يو کم سل ګرامه خو خالصه او پاکه او فائده منده ده خو په دې کښ يو ګرام خالص زهر هم دي د هغې اثر ته هم سوچ اوکړه. هغه به اووائي چه باقي ټول څيزونه ښکښ ښکاري، زهر خو ښکښ ښکاري هم نه. باقي څيزونه پرې غالب دي او په دې کښ ډير زيات طاقت دې، خوند او فائده ده ښکښ. يقيناً تاسو به په جواب کښ دا وائې چه د يو ګرام زهرو د شامليدو په وجه باقي يو کم سل ګرامه بهترين څيزونه هم فائده مند پاتي نه شو، ځکه چه هغه يو ګرام زهر چه په دې کښ ګډ شوي دي حالانکه چه هغه ښکښ ښکاري نه، خو په دې کښ يقيناً ګډ دي، هغه يو ګرام چه څومره نقصان

کوي دا يو کم سل ګرامه ښه څيزونه هم د هغې نقصان نه شي پوره کولې.

**محترمو لوستونکو!** دغه حال دې د دې ديوبنديانو وهابيانو تبليغيانو وغيره. چه په ظاهره خو د نمونځونو او د روژو ښائِست او پړقا ده او د تبليغ فائدې پکښې ښودلې کيږي. خو د دې تبليغ په بنياد کښې چه کوم پټ نظرياتي او د عقائدو خراب والي او د نبـی ﷺ په شان کښې د ګستاخۍ او د بې ادبۍ کوم هلاك کوونکي [زهر] ګډ دي هغه د ايمان د پاره زهرِ قاتل دي. څنګه چه زهر د انساني بدن د پاره د هلاکت سبب دې. دغه شان د انبياؤ او اولياؤ په شان کښې ګستاخي او بې ادبي بې شکه د ايمان د هلاکت او بربادۍ سبب دې. او دا تاسو ته ښه معلومه ده چه د خلاصي دار و مدار په اعمالو نه دې بلکه په صحيح عقائدو دې. چه عقيده صحيح نه وي نو د لکونو کلونو ټول عبادتونه هم بې فائدې وي.

يو ديوبندي عالم احمد علي صاحب دغه شان مثال د ابوالاعلیٰ مودودي صاحب په باره کښې د خپلې رسالې "*حق پرست عُلماء کی مودودیت سے ناراضگی کے اسباب*" (مطبوعہ دفتر انجمن خدامُ الدین، دروازہ شیراں والا، لاھور) په صفحه ۸۰ کښې ليکلي دي. هغه د خپل مؤقف په تائيد کښې نقل کووم. تاسو ئې اوګورئ، هغه ليکي:

"که لس سيره پـۍ [يعني شوده] په يو سر تور سر ديګچي کښې واچوې او د هغه ديګچي د خُلې د پاسه يو لرګې کيږدي او په يو تار پورې د خِنزير [د غوښې] يو توله پوټې اوترې او په شودو کښې ئې زوړند کړې نو

آيا بيا به په مسلمان باندې هغه [پـئ] اوخښلې شي؟ [ځکه چه] هغه مسلمان به وائي چه زه دا پئ هيڅ کله هم نه څښم ځکه چه دا ټول حرام شو. پـئ خرڅولو والا به وائي چه وروره لس سيره پـئ اته سوه تولې وي ته صِرف دې (يوې تولې) پوټې ته ولې ګورې، اوګوره د دې پوټي مخې ته او شا ته، ښي طرف او ګڅ طرف ته او لاندې باندې څلور اِنچه جور صرف پـئ او پـئ دي خو هغه مسلمان به وائي چه دا ټول پـئ د خنزير د دې يو پوټې په وجه حرام شو.

دغه شان قِصّه د مودودي صاحب د عبارتونو ده چه کله مسلمان د مودودي صاحب دا لفظ لولي چه "**د خانهٔ کعبې هر طرف** [ته] **جهالت او ګندګي ده**" د دې نه پس چه مودودي تر څو پورې د دې جملې نه د توبې اعلان نه وي کړي، مسلمانان کله هم نه راضي کيږي ترڅو پورې ئې چه دا پوټې د دې پئيو نه نه وي ويستلې."

**محترمو لوستونکو!** پخپله چه علمائے ديوبند کومه فيصله د خپل مودودي صاحِب د پاره کړي ده د هغوئي د وينا مطابق هُم هغسې فيصله زمونږ د طرف نه د ديوبندي وهابي تبليغي عُلماؤ او د هغوئي د ملګرتيا کولو والؤ د پاره ده. ترڅو پورې چه ديوبندي وهابي تبليغيانو د خپلو کفريه عبارتونو نه توبه نه وي کړي او د هغه عبارتونو د نه قبلولو اعلان اُو نه کړي او خپلې عقيدې صحيح نه کړي يعني د پئيو نه د خِنزير پوټې او د حلوا نه زهر لرې نه کړي د هغه وخته پورې اُمَّتِ مُسلمه د هٰغه ټولو ديوبنديانو وهابيانو تبليغيانو په باره کښ خپله فيصله

نه بدلوي کوم چه د دې کُفريه عبارتونو قائِل او منونکي دي ځکه چه دا فيصله عُلمائے ديوبند پخپله هم تسليم کړي ده چه د خلاصي دار و مدار په عقائدو دې، په اعمالو نه دې.

د فيصلې او د صفائې صرف دا يو صورت دې چه ټول ديوبنديان وهابيان تبليغيان وغيره دا اِعتراف اوکړي چه هغه ديوبنديان وهابيان عُلماء چا چه دا کفريه او د کتاب و سنَّت خِلاف عبارتونه ليکلي دي هغوئي د دې عبارتونو نه د توبه نه کولو په سبب کافِر او زِنديق دي او هر هغه کس څوك چه دا عبارتونه مني او قبلوي هغه هم د دې عبارتونو د ليکونکو په حکم کښې داخِل دې [يعني کافر دې]. ځکه چه په دې هر يو پوهيږي چه د شريعت حکم نه شي بدليدې بلکه خلق به خپل طبيعت او عقل او پوهه د شريعت مطابق جوړووي.

کله چه ديوبنديان وهابيان تبليغيان وغيره دا اِعتراف اوکړي نو ټوله جګړه به ختمه شي. خو افسوس چه کله د دې غلطو او کفريه عبارتونو ليکلو والا علماؤ جانشينو او مرسته کوونکو خلقو ته د دې اعتراف کولو د پاره اووئيل شو نو هغوئي صفا انکار اوکړو. اوس دِ لوستونکي پخپله فيصله اوکړي چه ديوبندي وهابيان د دې عبارتونو د منلو او قبلولو په ضد قائم دي نو د کتاب و سُنت فيصله څنګه بدليدې شي؟ د چا په زړونو چه مُهر لګيدلې دې،څوك چه د ګمراهئ په جوَرو کندو کښې خخ شوي دي، څوك چه په رښتياؤ او دروغو کښې فرق کول نه قبلوي، د هغوئي د پاره قرآن هُم دا وئيلي دي: ''لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِىَ دِيْن'' يعني

ستاسو د پاره ستاسو دين او زمونږ د پاره زمونږه دين.

په آخِره کښې لوستونکو ته دا عرض کووم چه کله په قبر کښې د **رَحمتِ عالَم** ﷺ په باره کښې سوال اوشي او دا تپوس اوشي چه (د مرګ نه دِ مخکښې) د دوئي په باره کښې څه عقيده لرله؟ او په ميدانِ قِيامت کښې چه کله نمر په پاؤ باندې يو ميل [رابښکته] وي، په کومه ورځ چه به د الله واحِد قهّار د غضب نه هر يو **نَفسى نَفسى** وائي، سِوا د خوږ آقا ﷺ د رحمت د لمَنې نه يوه هم پناه نه وي. که په دې غلطو او کُفريه عقائدو ستاسو خاتمه اوشوه نو هغه وخت به د عذابِ اِلٰهي نه ځان څنګه بچ کوئ؟ د خپل انجام [په باره کښې] ښځپله سوچ اوکړئ.

زمونږ اعلٰى حضرت، امام اهلِ سُنَّت مولانا شاه اِمام احمد رضاخان بريلوي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه خو به هم دا وئيل:

آج لے اُن کی پناہ آج مدد مانگ اُن سے
کل نہ مانیں گے قیامت میں اگر مان گیا

**د شعر ترجمه:** نن اوغواړئ د هغوئي پناه، اوغواړئ د هغوئى نه مدد
بيا به هغوئي نه مني په قيامت کښې که مو اومنله

(دا خبره دِ ښکاره وي چه ځيني ديوبنديانو وهابيانو هم خپلو ملګرو ته د دې کفريه عبارتونو د نه قبلولو مشوره ورکړې وه چنانچه د ديوبند نه شايع کيدونکي ماهنامه "تَجلّی" کښې د جناب شبيراحمد عثماني د وراره جناب عامر عُثمانى ليك د دې ثبوت دې.)

**محترمو لوستونکو!** د دې خبرو نه پس به تاسو ځان په دې پوهه کول غواړئ چه د ديوبند دا عُلماء مخکښې داسي نه وو، دا ټول ولې د **لا رنس**

**آف عربیا د پاللې ډلې نجدیانو وهابیانو** ملګري شو او د هغوئي په شان د تعظیمِ رِسالت منکِر شو او په شیطاني ژبه کښې ئې نامناسبه خبرې کول شروع کړل او موجوده دیوبندیان وهابیان تبلیغیان وغیره د خپلو مشرانو په هغه کفریه عبارتونو او غلطو عبارتونو باندې ولې قائم دي، خپله غلطي ولې نه مني چه جګړه ختمه شي، آخِر د دې وجه څه ده؟

په دیانتدارئ او صداقت د الله تعالٰی د یَرې لرلو سره خپلو لوستونکو ته عرض کووم چه یهودیان، عیسائیان، مُشرِکان، کافر، او منافقان ټول د خدائ تعالٰی او د هغه رسول ﷺ دُښمنان دي. قرآن د هغوئي حقیقت په وضاحت سره بیان کړې دې. تاسو ته معلومه ده چه دا یو قدرتي او نفسیاتی امر دې چه کله د یو بد باطِن کس اصلیت ښکاره شي او د هغه بد مخ ښکاره شي نو هغه ډیر خفه شي او هغه په خپله غلطه خبره پورې اونښلي یعني د خپلې اِصلاح په ځائ په هغه باندې د دُښمنئ، سرکشئ او حسد اور بل شي تر دې چه هغه په اِنتِقامي [یعني د بدلې اخستلو] په کار روائي کښې مشغول شي. یهودیانو، عیسایانو ته هم د رَحمَةٌلِّلعٰلمِین ﷺ او د هغوئی د خلفاؤ د اسلامي حکومت خوریدو او د ځان مغلوبه او ذلیله کیدو غم وو، تر دې پورې چه د هغوئي مرکزي مقامات خیبر او بیتُ المُقَدَّس وغیره ځائیونه هم د هغوئي نه په زور اخستې شوي وو.

هغوئي چه اولیدل چه اوس خپل ختم شوې حکومت او رُعب او دبدبه بیا نه شي حاصلولې، د اسلامي حکومت مقابَله نه شي کولې نو هغوئي کښیناستل او په خپل مینځ کښې ئې پټې سازشي منصوبې ئې

جوړې کړې، چنانچه پوره تفصیل په مستندو کتابونو کښې محفوظ دې.
دې دښمنانِ اسلام ډلې دا فیصله اوکړه چه د ملك نه شړلو او ذلیله کیدو
په وجه مونږه ډیر کمزوري شوي یو زمونږه اصلیت ښکاره شوې دې اوس
یو صورت دا دې چه په مسلمانانو کښې داخل شو او د مسلمانانو اِتِّحاد
او اسلامي وروروَلي ختمه کړې شي او د هغې طریقه دا ده چه په زړه
کښې په خپلو باطلو عقائدو او نظریاتو قائم اوسو صرف (منافقانه طور)
په ښکاره مسلمانان شو، د دې د پاره به صرف کلمه وئیل او نمونځ کول
وي، دا به په ښکاره کوو چه مونږ ته په خپلو علاقو کښې بیا د اوسیدو
آزادي حاصله شي، او بیا مونږه د مختلفو منصوبو په ذریعه د مسلمانانو
په مینځ کښې اختِلاف او جګړې پیدا کړو، چه د هغوئي توَجُّه زمونږ نه
لرې شي او هغوئي په خپلو جګړو کښې اخته شي او د یو بل خلاف شي،
چه کله داسې اوشي نو مونږ به د مسلمانانو د دې جنګ جګړو نه فائده
واخلو او په خپلو علاقو به قبضه اوکړو او خپل طاقت به په ځائ کړو.
چنانچه عبدالله بن سبا د دې سازشي ډلې مشر لیډر جوړ شو. او د هغه
ټول ملګري منافقانه طور مسلمانان شو. دې سازشي ډلې د حضرت
سَیِّدُنا عمر فاروق رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د شهادت نه لږه موده پس په خپلو ناپاکو
منصوبو باندې عمل شروع کړو. د اَمِیرُالمُؤمِنِین حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ مظلومانه شهادت د دې اِسلام دُښمنې ډلې د سازش نتیجه وه.

دې ډلې په پوره اسلامي بادشاهئ کښې خپل تبلیغي کسان خواره کړل،
دا سلسله نسل درنسل ېخه روانه شوه. دې خلقو چه اولیدل چه مسلمانان

د خپل نَبــی ﷺ سره ډېر زيات مَحَبَّت لري. او داسي مَحَبَّت چه د نبِـيّ پاك ﷺ په نوم باندې خپل سرونه او مالونه او هر څه قربانوي او د دې مَحَبَّت وجه د خوږ نبــی ﷺ حُسن و جمال او فضل و كمال دې. دې منافقه، اسلام دُښمنې ډلې او د دې ايجنټانو دا فيصله اوكړه چه ترڅو پورې دا مَحَبَّت نه وي ختم كړې شوې نو د هغه وخته پورې به د مسلمانانو د اِتّحاد اصل قُوَّت برقراره وي او زمونږه مقصد نه شي پوره كيدې، يهوديانو او عيسايانو ته دې [منافقانو] خلقو د خپلې وفادارئ يقين وركړې وو چه په اصل كښ مونږه ستاسو يو، ځكه يهوديانو او عيسايانو خپلې خزانې د هغوئي د پاره پرانستې.

د اسلامي فتحو سبب د الله تعالیٰ او د هغه د خوږ آخِري رسُول ﷺ سره كمال مَحَبَّت او د فِیْ سَبِیْلِ الله جهاد كولو جذبه وه. هُغه سازشي ډلې او د هغوئي تابعدارو خلقو دا فيصله اوكړه چه په تحرير او تقرير او په هره ذريعه په دين كښ داسي خبرې را اوباسئ چه د هغې په وجه مسلمانان په خپل مينځ كښ په جنګ شي او د هغوئي جهاد په خپل مينځ كښ د يو بل خلاف شروع شي. چنانچه د قرآن و سُنَّت معنې بدلول شروع شو، حرام ته حلال او حلال ته حرام وئيل شروع شو، نيكو كارونو او سُنَّتو ته بِدعت وئيل شروع شو، د اُصولِ دين برخلاف د دې وران كارې ډلې تش د نوم عالِمانو ته د امامانو درجه وركول شروع شو او د هغوئي مخالفو خلقو ته مشرِك، بدعتي او ګمراه وئيل شروع شو، د نبوت د دروغو دعوٰی كوونكي اودرولې شو. د رسُولِ اكرَم ﷺ، د هغوئي د

پاکو بيبيانو، د صحابه کِرامو، د اهلِ بيت او اولياء الله رِضْوَانُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْهِمْ اَجْمَعِيْن په شان کښې د ګستاخئ او بې ادبئ سلسلې شروع شوې، د دې د پاره چه د هغه پاکو هستيانو د صِفَتونو بيانولو په ځائ د هغوئي د ځان نه جوړ کړې عيبونه بيان کړې شي او د خلقو د زړونو نه د هغوئي مَحَبَّت ختم کړې شي. چه کله خلقو ته اووئيل شي چه په نبی او ولی کښې هيڅ خصوصيت نشته هغوئي د نورو انسانو په شان دي او ګنهګار دي نو د خلقو د زړونو نه به محَبَّت او جوش و جذبه بخپله ختمه شي. او چه کله محبَّت ختم شي نو د عمل قُوَّت به هم باقي پاتې نه شي او د جهاد وغيره سلسله به هم ختمه شي.

د الله په عطا سره د غيبو علم لرونکي آقا ﷺ نه دا تولې خبرې پټې نه وې، ځکه رَحمَتِ عالَم ﷺ د دې ډلې او د دې د احوالو نه دُنيا د مخکښې نه خبره کړې وه.

چنانچه په صحيح احاديثو کښې دي چه حُضُورِ اکرَم ﷺ د مسلمانانو په لښکر کښې مالِ غنيمت تقسيمولو چه يو کس **حرقوس بن زُهير** چه هغه ته به **ذوالخُوَيصَره** وئيلې شو، اووئيل: يارسُولَ الله ﷺ! تاسو عدل اُو نه کړو. د خوږ پيغمبر ﷺ عاشقان صحابۇ چه د دې بې ادبه خبره واوريدله نو د غيرتِ ايماني نه په جوش کښې راغلل. حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عرض اوکړو: يارسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته اجازت راکړئ چه د دې ګستاخه ژوند ختم کړم، او دا په توره ټکړې ټکړې کړم. **نَبِـیِّ اکرَم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ته اجازت ورنه کړو. حُضُورِ

اکرَم ﷺ ذوالخُوَيصره ته اوفرمائيل: "ستا مور دِ په تا اوژاړي، زه د الله نبـی يم، چه زه عدل اُو نه کړم نو په دې زمکه باندې به زما نه بل زيات عدل کولو والا څوك وي؟ او خپلو صحابۀ کرامو (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) ته مُخاطب شو اوئې فرمائيل: اوس به دا ژوندې اوسي د ده د نسل نه به خلق اوځي، اوځي، اوځي تر دې چه د دې [ګستاخه] آخِری خلق به د دجّال په لښکر کښې شامل شي. اوئې فرمائيل چه دوئي به زما د اُمَّت بهترين خلق قتل کوي. په کومه ورځ چه دا او د ده ملګري قتل کړې شي په هغه ورځ به دا خلق په اُمَّت کښې د ټولو نه بد خلق وي او کوم خلق چه دا قتل کړي هغه به زما په اُمَّت کښې بهترين خلق وي. اوئې فرمائيل د ده د نسل نښې به دا وي چه دا خلق به په سرونو ويښته نه پريږدي [يعني سرونه به خرئي] ، د پرتوګ او پاجامو پينڅې به د ګِيټو [يعني پړکو] نه ډيرې اوچتې ساتي، اوږده اوږده نمونځونه به کوي چه نور خلق د دوئي نمونځونه اووِيني نو خپل نمونځونه به ورته حقير [يعني کمتر] ښکاره شي. اوئې فرمائيل دا به قرآن په ډيره ښکلې طريقه لولي خو قرآن به صِرف د دوئي په ژبه وي د دوئي د مرئ نه به ښکته نه کوزيږي يعني دننه [په زړه کښې] به ئې د دې څه اثر نه وي. اوئې فرمائيل چه د دوئ ژبې به د شکرو په شان خوږې وي خو زړونه به ئې د شرمښانو نه زيات سخت اوبد وي. د شکل و صورت وغيره نه به ځانونه ډير نيك ښکاره کوي خو د دِين نه به دا خلق داسې وتلې وي څنګه چه غشې د خپل ښکار نه اوځي [يعني د لِيندې نه چه کوم غشې اوځي بيرته نه شي راتلې]. اوئې فرمائيل دا خلق به بچپله بد وي او

هُم بدي به خوروي." (بُخاری، ج۱، ص۴۷۲،بُخاری ج۲ ص ۶۲۴، ۱۰۲۴، ۱۱۲۸. مسلم ج۱، ص ۳۴۰، ۳۴۱. مشکوٰۃ ص ۳۰۹، ۵۳۴)

**محترمو لوستونکو!** د عدل و انصاف نه کار واخلئ او په حقيقت غور اوکړئ. آيا تاسو خپل خوا و شا د داسي نښو والا خلق نه وينئ؟ دا نښې د الله تعالٰی هٰغه رسُول ﷺ بيان کړي دي د چا په ذريعه او وسيله چه مونږه الله پيژنو او منو. په هٰغه نبـی ﷺ باندې يقين کوو او قرآن منو. د هٰغه نبـی ﷺ د مبارکې خُلې نه چه بيان شوي دي چه دا قرآن دې او دا زما حديث دې. مونږ ته چه په کومه مبارکه ژبه قرآن عطا شوې دې، دا د هغه حقّ بيانولو والا ژبې مبارکې ارشادات دي. د چا چه د نبـی ﷺ په ذات باندې پوره ايمان وي د هغه به د نبـی ﷺ په صحيح ارشاداتو هم رښتينې يقين وي او پکار دې. حُضُورِ اکرَم ﷺ صفا صفا هر څه بيان کړي دي. دا خلق که په هره جامه او هر شکل کښې راشي يا د خپل تحريك بدل بدل نومونه کيږدي، [نو په هر ډول کښې] د دوئي اصليت د رنړا ورځې په شان ښکاره دې. ساده مُسلمانانو ته د کلِمې او نمونځ زده کولو او صحيح کولو په بهانه دا خلق مُسلمانان د تباهئ او بربادئ کندې ته راښکاږي. د يهوديانو، عيسايانو او غيرمسلمو ډلو په امداد او مرسته د اسلام د دښمنانو په سازشونو کښې مشغول دا د ايمان ډاکوان چه کله د الله پاك او د هغه د خوږ رسُول ﷺ وفادار او دوستان جوړ نه شو نو زمونږه به څنګه دوستان او خير خواه جوړ شي. دا هغه خلق دي چه د دوئي په نِزد خُدائے هم دروغ وئيلې شي، دا هغه خلق دي چه د دوئي په

نِزد د نبـی عِلم د څاروو په شان دې (معاذ الله یعني د الله پناه). د دوئي علم او پوهه د قرآن و سُنت د یقیني اصولو په ځائ په ذاتي خیالاتو او د خپلو غټانو [یعني د کُفَّارو] په خوشحالولو کښ نښتې وي. رښتیا او حقیقت ته په ډیره بهادرئ دروغ وئیل دوئي ته ډیر خوښ دي. دوئي په هغه خبرو کښ هیڅ شرم نه محسوسوي کومې خبرې چه د اسلام او د مسلمانانو عزت او عظمت او اِتِّفاق ته نقصان رسوي، دوئي صرف په خپله غلطه خبره پورې نښتي اوسي. **محترمو لوستونکو!** تاسو په خپله اندازه اولګوئ چه د دې خلقو هُغه ګنده او کفریه عبارتونو مُسلمانانو ته څومره نقصان رسولې دې.

ځلمو لږ سوچ اوکړئ چه د دُنیاوي ترقئ په دې دور کښ یو طرف ته چه د سائنس نوي نوي ایجادونو خلق حیران کړي دي او انسان سپوږمئ ته رسیدلې دې، او بل طرف ته د دې دِین خرڅوونکو مولیانو عِبارتونو او غلطو نظریاتو د ګوتې په اشاره باندې د سپوږمئ دوه ټکړې کوونکي پیغمبر ﷺ منونکي د روحانِیَّت او دِین نه څومره لري کړي دي. د تبلیغ په نوم سمګلنګ او ډرګس [یعني نشې] خوررولو والا دا ډله به تاسو کله د حکومت سره د سُود خِلاف په جګړه نه وي لیدلي. د بیروت، بینکاک، بمبئ او د ټولې دنیا د بدکارئ په بازارونو کښ به مو د بدکارئ نه په منع کولو نه وي لیدلي دا ډله به تاسو کله هم د سینما هال خوا ته [د فلمونو کتلو نه د منع کولو] په تبلیغ کولو نه وي لیدلي.

دا خلق به د دُنیا په سمندرونو کښې بربنډو انسانانو ته په کلمه لوستلو اُو نه وِینئ، نور خو پریږده، دوئي خپل بال بچي در په در او د لوفرئ د پاره آزاد پریږدي او د میاشتو میاشتو په چِلّو د کوره لاړ شي او د کتاب و سُنَّت په دې ارشاداتو عمل کولو به ئې اُو نه وِینئ چه په مونږه باندې د خپل کور د کسانو حقّ د نورو نه زیات دې. زاړه مور و پلار او پیغلې خویندې، لونړه او ښځې پرې یواځې په کورونو کښې پریږدي او بې تعلیمه سړي ترې په زور بوځي، دا خلق دې ته سوچ نه کوي چه حضرت اویس قرني رَحمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیه د حُضُورِ اکرَم ﷺ د ظاهري ژوند زمانه موندلې وه خو د بوډئ نابینا مور د خدمت په وجه ئې د صحابِیَّت شرف حاصل نه کړې شو. رَحمتِ عالَم ﷺ به یمن طرف ته مخ کړو او فرمائیل به ئې چه: ما ته د دې طرف نه د مَحَبَّت خوشبو راځي. د حضرت اویس قرنی رَحمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیه د پاره د نبـی ﷺ ارشادات دوئي ته یاد نه دي. د خپلو کفریه عبارتونو لیکونکو مولیانو د نظریاتو تبلیغ کوونکي، او د نبـی د مَحَبَّت، عظمت او شان نه [مسلمانان] لري کولو والا دا دیوبندیان، وهابیان، تبلیغیان چه تاسو د کومې ګمراهئ طرف ته بوتلل غواړي د هغې انجام د الله عذاب دې.

د دوئي تبلیغ د یهودیانو، عیسایانو او بُت پرستئ خلاف نه دې. دوئي به تاسو په ایران او عراق کښې د اویا لکه مسلمانانو په نوم یادیدو والا انسانانو د ناحقه مرګونو خلاف په کار کولو اُو نه وِینئ. دوئي په بیتُ المُقدس کښې د صیهوني ظُلم خلاف جهاد نه کوي، د دوئي کار خو دا

دې چه د کلِمې او نمونځ صحيح کولو په بهانه تاسو خپل ملګري جوړ کړي او د نبـی تعظيم ته د شرك وئيلو وَينا درزده کړي او د روحانِيَّت نه مو خالي کړي. آيا دوئي به د دې ڪفريه عبارتونو په خوړولو غيرمسلمه مسلمانان جوړ کړي؟

لږه توَجُّه اوکړئ! چه يوې عالَمی اِجتِماع ته دا خلق لاړ شي چه هلته د هر دِين او مذهب او رنګ و نسل خلق راجمع شوي وي او هلته هندو، يهودي، عيسائي او دا ديوبندي وهابی د تبليغ اجازت اوغواړي چه اِجازت ورکړې شي نو دا څلور واړه د خپل خپل دين او مذهب تبليغ اوکړي او د تبليغ مقصد دا وي چه اوريدونڪي د چا نه متاَثِّر شي او د چا خبره قبوله کړي نو د هغه دِين او مذهب به اِختياروي. اوّل هندو پاڅي او هغه اووائي: چه "زمونږه رام چندرجی[12] ډير کمالي او بهادر وو هغه د سيتارانی[13] حاصلولو د پاره د اوسپنې کمان په لاسونو تاؤ کړې او مات کړې وو. د هغه تعليمات ډير ښه دي په دې وجه ټول خلق هندوان شئ او د دې کمالي رام چندر جی پيروي اوکړئ [يعني خبره اومنئ]."

بيا عيسائي راپاڅي او دا اووائي چه "زه د حضرت عيسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) منوونڪې يم، هغوئي ډير باکماله وو د هغوئي کمال اوګورئ، هغوئي به چه د پيدائشي ړوند په سترګو لاس راښکلو نو هغه به بِينا شو. د برګي د مريض په بدن به ئې لاس راښکلو نو ښه به شو. هغوئي به مړې ژوندي

---

[12] رام چندر: د هندوانو د ټولو نه لوئ مشر کوم چه دا هندوان خدائ ګڼړي.

[13] سيتارانی د رام چندر د ښځې نوم دې.

کول. هغوئي ډېر باكماله وو د هغوئي تعليمات ډېر ښه دي ځكه تاسو ټول عيسايان شئ."

بيا يهودي راپاځي او اووائي چه "زه د حضرت موسٰى (عَلَيۡهِالسَّلَام) منونكې يم، هغوئي ډېر باكماله وو د هغوئي كمال اوګورئ، هغوئي به په لرګي [يعني په همسا] كانړي اووهلو نو د اوبو چينه به ترې جاري شوه، چه په تړَخ (مبارك) كښې به ئې لاس كېښودو او بيا به ئې بهر را اوويستلو نو د سپوږمۍ په شان به پړقيدو، د هغوئي تعليمات ډېر ښه دي ځكه تاسو ټول يهوديان شئ."

او په آخِره كښې د نظامُ الدين د علاقې او د رائيوند د ديوبندي وهابي تبليغي جماعت كس چه د مسلمان په نوم ياديږي راپاځي او اووائي چه "زه د حضرت مُحَمَّد ﷺ منونكې يم، زمونږه نبـي زمونږه په شان بشر وو، د هغوئي نه به غلطۍ هم كيدلې، هغوئي هيڅ اختيار نه لري. [هغوئي د غيبو عِلم نه لري، هغوئي نُور نه دې، هغوئي د چا هيڅ مدد نه شي كولې، د هغوئي نه پس كه بل نبي راشي نو هم د هغوئي په ختمِ نُبُوَّت كښې څه فرق نه راځي، هغه مړ شوې او خاورې شوې دې، په نمانځه كښې د هغوئي خيال راتلل د ............ نه هم بد تر دي وغيره] په مونږه او په هغوئي كښې فرق دا دې چه په هغوئي به وحي راتله او په مونږه وحي نه راځي. د هغوئي تعليمات ډېر ښه دي ځكه تاسو ټول مُسلمانان شئ."

**محترمو لوستونكو!** تاسو په عدل او انصاف سره اووائې چه په هغه ګنړه كښې خو هِندو، يهودي او عيسائي د خپلو مشرانو كمالونه ثابتوي او ځان ته مسلمانان وئيلو والا د ديوبندي وهابي تبليغي جماعت نمائِنده

چه د خپل نبـی ﷺ په باره کښې کوم نظريات او عقيدې لري هغه تاسو اولوستلې. [دا يو مثال دې خو د هٔغه خبرو چه هم دا د ديوبندي وهابي تبليغي ډلې عقيدې دي] نو دا خبرې چه واوري نو آيا د اجتماع دا ګنړه به د مسلمانانو د نبـی نه متأثِّره شي؟ [هيڅ کله هم نه بلکه] د داسې خبرو په وجه خو ځان ته مسلمانان وئيلو والا باقى خلق هم په خپله مسلمانئ باندې فخر نه شي کولې، ځکه چه د ګنړې هر يو کس به دا وائي چه د مسلمانانو نبـی ﷺ خو صرف يو بشر وو او په هغوئي کښې څه کمال هم نه وو نو د دې ديوبندي وهابى تبليغي د بيان مطابق خو د باقى درې وارړو ډلو مشران باكماله او بهتر ثابتيږي ځکه چه خلق به وائي چه ته پخپله وائې چه ستاسو په نبـی کښې څه کمال نشته دې، هغه بې اختياره دې [وغيره] نو ته د هغوئي د دين اختيارولو تبليغ ولې کوې؟

**محترمو لوستونكو!** د دې خلقو د تبليغ به هم دا حال وي او دې. چنانچه د دارالعلوم ديوبند د سلو كالو [پوره كيدو په] جشن کښې د دوئي د پروپيګنډې مطابق عُلماء په زرګاؤ وو او عوام د علماؤ نه هم زيات جمع شوي وو. د دوئي د دې مذهبي درس ګاه د جشن د دې دهرم [يعني رواج] افتتاح د كوم يو نيك بُزُرګ په لاس نه وه شوي بلكه د يوې مُشرِكې پليدې هندوې په لاس شوي وه او داسې كول د دوئي د زړه او د ذهني سوچ او نظرياتو ښكاره ثبوت دې. هٔغه مُشركې ښځې اِندرا ګاندهى چه كوم تقرير كړې وو د هغې نه دا هم ثابتيږى چه د هغې او د دوئي په

نظرياتو وغيره کښې کمال يو شان والې دي.[14] هغه يواځې يوه هندوه ښځه د زرګاؤ ديوبنديانو علماؤ او مُبلغينو په موجودګئ کښې د هغوئي بنيادي او د ټولو نه غټې مدرسې ته راغله او څنګه چه راغلې وه هم هسې لاړه، يعني هندوه راغلې وه او هندوه لاړه، دې زرګاؤ خلقو په شريکه هغه يوه هندوه ښځه مسلمانه نه کړې شوه او د دې باوُجود دا خلق د دِين د تبليغ کولو دعوٰی کوي............ هم دې هِندوستان ته زمونږ د اَهلِسُنَّت لوئي بزرګ حضرت خواجه سيد مُعينُ الدين حسن چشتی اجميری، خواجه غريبِ نواز رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہِ چه کله تشريف يوړلو نو يواځې وو خو د هغوئي تبليغی او دينی خدمتونه اوکورئ چه هغوئي (رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡہِ)کله د دُنيا نه رخصت شو نو په هم دې هندوستان کښې ئې نهه نيمه مِليَنه (يعني پينځه نوي لکه) کافران مسلمان کړي وو. (اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ علٰی اِحۡسَانِہٖ)

که په هغه عالَمی اِجتِماع کښې زمونږه د اَهلِ سُنَّت و جماعت (سُنيانو) يو کس وې نو لږ د هغه د تبلِيغ يو څرك هم اوګورئ او پخپله فيصله اوکړئ.

چه هغه سُنِّي مسلمان، غُلام او عاشقِ رسول دا اووائې چه اے خلقو! زه مسلمان يم زمونږ دا ايمان دې چه زمونږه معبودِ حقيقی اللّٰه تعالٰی دې چه د هرڅيز پيدا کوونکې او مالِك دې. د هندوانو رام [کوم چه دوئي خدا ګڼړي] هم هغه پيدا کړې دې او حضرت عيسٰی و موسٰی عَلَیۡہِمَاالسَّلَام هم هغه پيدا کړي دي. مونږه د عيسايانو حضرت عيسٰی عَلَیۡہِالسَّلَام هم منو او د

[14] د دې نه مخکښې دې ديوبنديانو وهابيانو د هندوانو سره د اِتِّحاد ښکاره کولو د پاره مشهور هِندو لِيډر ګاندهی د دِهلی د جامع مسجد په منبر د کښينولو ناپاکه کار هم کړي وو.

يهوديانو حضرت موسٰی عَلَيْهِ‌السَّلَام هم منو او د هغوئي كمالونه هم منو ځكه چه هغوئي ته نُبُوَّت، عَظَمت او كمالونه زمونږه ربّ زمونږ د نبي ﷺ په بركت عطا كړي وو. زمونږ د ربّ ارشاد دې چه كه هغه زمونږه نبـی (ﷺ) نه وو پيدا كړې نو ځان به ئې هم نه وو ښكاره كړې. ځكه دا ټول كائنات او د دې ټول نِعمتونه زمونږ د نبـی ﷺ په بَرَكت عطا شوي دي. زمونږ د نبـی ﷺ مبارَك نوم "مُحَمَّد"ﷺ دې، چه د هغې د ادا كولو په وخت كښ زمونږه شونډې په خپل مينځ كښ يو بل ښكلوي.[15] او چه كله ئې مونږه واورو نو [د هغوئي د صحابه د سُنَّت مطابق د خپلو لاسو د غټو ګوتو نُوكان] ښكلوو او ستركو ته ئې لګوو، دا نوم چه واورو نو مونږه دُرُود و سلام لوَلو. د دې نوم معنٰى پخپله دا ښائي چه دا د داسي ذات نوم دې چه د ټولو نه ئې زيات تعريف [يعني صفَت] كيږي. دا نوم زمونږه ربّ عَزَّوَجَلَّ پخپله ايښودې وو، دا نوم مونږ ته ښائي چه د دې مبارك نوم والا شخصيت هر قِسمه صِفَتونو والا دې. زمونږ د خوږ نبي پيدا كولو والا زمونږه ربّ عَزَّوَجَلَّ هم زمونږ د نبـی ﷺ صِفَت كوي. زمونږ د نبـی ﷺ تعريف حضرتِ موسٰی او حضرتِ عيسٰی (عَلَيْهِمَا السَّلَام) هم كړې وو، په تورات او اِنجيل كښ زمونږ د نبـی ﷺ ذِكر دې. په هغوئي باندې د نازل شوي كتاب ذِكر دې، د هغوئي د كمالاتو ذِكر دې. حضرت موسٰی او

---

15 جس طرح ملتے ہیں لب نامِ محمّد کے سبب     کاش ہم مل جائیں سب نامِ محمّد کے سبب(ﷺ)

**د شعر ترجمه:** څنګه چه د محمد (ﷺ)په نوم باندې شونډې يوځائ كيږي، كاش چه د محمد (ﷺ)په نوم باندې مونږه ټول يوځائ متفق شوو.

حضرت عیسٰی (عَلَيهِمَا السَّلام) خو معجزې راوړې وې خو زمونږه نبـی ﷺ ټکپله معجزه جوړ شوې تشریف راوړو. حضرت موسٰی و حضرت عیسٰی عَلَيهِمَا السَّلام ته الله تعالٰی ډیر څه عطا کړي وو. موسٰی عَلَيهِ السَّلام به د طُور غر ته تشریف وړلو او زمونږ د ربّ عَزَّوَجَلَّ سره به ئې کلام کولو، حضرت عیسٰی عَلَيهِ السَّلام زمونږه ربّ عَزَّوَجَلَّ ژوندې آسمان ته اوچت کړو او زمونږه نبـی ﷺ الله تعالٰی د جِسمِ اقدس سره عرشِ مُعَلّٰـی ته اوبللو او د خپل دیدار شَرَف ئې ورعطا کړو او سلام کلام ئې ورسره اوفرمائیلو. کومې فرښتې به چه وحي راوړه او د حضرت موسٰی و عیسٰی عَلَيهِمَا السَّلام په خدمت کښې به راتلله هم هغه فرښته به زمونږه د خوږ پیغمبر ﷺ په خدمت کښې هم راتلله او بیا بیا راغلي وه، زمونږ په نبـی ﷺ باندې الله تعالٰی خپل آخِري کتاب قرآن نازل کړو چه هغه د قِیامته پورې د ټولې دُنیا د پاره د هدایت مرکز دې. تورات او انجیل نن په خپل اصل [حالت] کښې موجود نه دي، او نه د هٰغه کتابونو چرې یو حافظ شته او قرآن د خپل هر حرف [ټکي] او زیر او زوَر سره محفوظ دې او محفوظ به اوسي او د دې په لکونو حافِظان دي. په دې قرآن مجید کښې چه زمونږه په نبی ﷺ باندې نازِل شوې دې د بُت پرستئ نه منع کړې شوې ده ځکه چه څوك د الله تعالٰی نه سِوا د بل چا عبادت اوکړي هغه مُشرِك دې. دا د انسانانو د لاسو جوړ شوي بُتان د څه فائِدې او نقصان مالِکان نه دي. ځکه چه په بُت باندې مچ کښېني نو هغه د ځان نه هغه مچ نه شي الوځولې. د بُت په مُقابله کښې خو یو عام انسان ته قدرت او طاقت

حاصِل دې ځکه چه هغه په خپلو لاسو هغه بُت جوړوي او تراشي. هندوان د بُتانو عبادت کوي، هغه [بُتان] د الله تعالٰی شريك جوړوي. زمونږه نبـی (ﷺ) زرګاؤ د دروغو معبودانو [بُتانو] ته سجدې کوونکي [بيشميره خلق] د الله په بارګاه کښې ښکته کړل، هغه الله چه زمکه او آسمانونه ئې پيدا کړي دي، مرګ او ژوند ئې پيدا کړي دي، هغه الله چا چه ټول کائنات جوړ کړي دي، هغه د نمر سترګه د مشرق نه راخيژوي او په مغرب کښې ئې پريباسي. هغه [الله] مونږ ته بدن او ساه، عقل و شعور او ډير نعمتونه راکړي دي، انسان ئې اشرفُ المَخلوقات او د لازوال ښائِست آئينه جوړ کړې دې. هُم هغه الله عَزَّوَجَلَّ نبيان راليږلي دي چه مونږ ته علم او حِکمت زده کړي، د نيکو اخلاقو تعليم او تربيت راکړي او زمونږه ژوند د کار او مقصدي جوړ کړي. الله پاك زيات و کم يو لاك څلور وِيشت زره انبياء عَـلَـيْهِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام راليږلي دي چه په هغوئي کښې درې سوه ديارلس رسولان دي او په هغوئي کښې ځينو ته په ځينو باندې فضيلت ورکړې دې او په خپل مخلوق کښې ئې د ټولو نه زيات افضل او اَکمل [يعني ډير زيات کامل] زمونږه نبـي ﷺ جوړ کړې دې. خوږ نبـی ﷺ ته چه ئې کومې درَجې، مَرتَبې او خصوصيات عطا کړي دي هغه ئې په مخلوق کښې بل چا ته هُغسي نه دي ورکړي. په عِلم و فضل، حِلم [يعني نرمئ] و کرم، سخاوت، رَحمت و مهربانئ، صورت و سِيرت، وَينا او کِردار، او اخلاق او عادات کښې بل څوك د هغوئي په شان نشته، هغوئي (ﷺ) د بشر په صُورت کښې تشريف

راوړو خو داسي بےمِثاله بشر چه په کائنات کښې د هغوئي په شان بشر نشته. هغوئي د الله نُور دي. هغوئي د الله پاك د ټولو نه خوږ بنده دي، د الله د ټولو نه افضل نبـي او رسول (ﷺ) دي، زمونږه د ربّ عَزَّوَجَلَّ د هغوئي (ﷺ) سره دومره محَبَّت دي چه زمونږه ربّ چه د هغوئي (ﷺ) خالق [يعني پيدا کوونکـې] دي، د هغوئي معبود دي، او هغه د دي خپل خوږ او مقدّس بنده ستائنه او تعريف کوي. په محَبّت او ادب هغوئي يادوي، په هغوئي درود و سلام ليږي. زمونږه ربّ تعالٰی د هغوئي جان، د هغوئي خبرې، د هغوئي ښار او د هغوئي زمانه د محبّت نه ډکو قَسمونو باندې يادوي. د هغوئي محبّت ته خپل محبّت وائي، د هغوئي فرمانبرداریٔ ته خپله فرمانبرداری وائي. زمونږه د نبـی (ﷺ) ذات و صفات او جمال و کمال، د الله د ذات و صفات او جمال و کمال آئينه دي. الله پاك هغوئي خپل روښانه دليل جوړکړې راليږلي دي چه مخلوق ئې اووينې او د الله پاک د دې مقدّس بنده او رسُول (ﷺ) عظمت و شان او مرتبه او کمالات اووينې او اندازه اوکړي چه د هغه بنده داسي عظيم دې نو د هغه خالق و مالِك به څومره عظيم وي. زمونږه نبـی ﷺ زمونږ د ربّ د حقّانِيَّت او عظمت دليل دې. زمونږه ربّ د خپل دې خوږ رسُول ﷺ محبّت او فرمانبرداریٔ ته خپله رضا او زمونږه د کاميابیٔ ذريعه وئيلي ده. زمونږه ربّ د دې نبـی ﷺ تعظيم او توقير په مونږه لازم کړې دې. زمونږه ربّ د خپل نَبِـیٔ اکرَم ﷺ دُنيا ته تشريف راوړلو ته زمونږ د پاره لوئي احسان وئيلې دې ځکه چه زمونږه خوږ نبـي ﷺ د دې زمکې او

آسمانونو او د ټول کائنات د پیدا کیدو سبب دې. مخلوقاتو د هغوئي (ﷺ) په وسیله الله تعالیٰ اوپیژندو او د هغه شان ئې اوپیژندو. الله پاك د خپل نبـی ﷺ د منونکو او غُلامانو د پاره د عیش و آرام جنّت جوړ کړې دې او د هغوئي د دُښمنانو، مُنکِرانو او ګُستاخانو د پاره ئې د مُصیبتونو او تکلیفونو نه ډك دوزخ تیار کړې دې. څوك چه د دې نبـی ﷺ رښتینې غُلام جوړ شي، دُنیا د هغه غُلامي کوي او څوك چه د دې نبـی ﷺ نه مخ واړوي، د الله پاك رحمتونه د هغه نه مخ واړوي.

دې ګنړې ته چه د هِندو دهرم [یعني د هندو عقیدې] لرلو والا اووئیل چه د هغوئي رام چندر ډیر باکماله وو او دومره طاقتور وو چه هغه مضبوط کمان په خپلو لاسو مات کړو. هغه به ضرور داسي کړي وي خو دا څه داسې کمال نه دې چه بل څوك ئې نه شي کولې. په دې دُنیا کښې په زرګاؤ لوئي لوئي پهلوانان موجود دي او هغوئي ډیر زورَوَر دي، او هغوئي د خپل قُوَّت او طاقت لوئې لوئې مظاهرې کړي دي. د اوسپنې مضبوط کمان ماتول څه کمال نه دي. زمونږ د نبـی ﷺ کمال اوګورئ، هغوئي ﷺ د مکه مُکرَّمه په زمکه ولاړ وو او ډیره لرې او اوچته پړقیدونکي سپوږمئ ئې صِرف د خپلې یوې ګوتې په اشاره دوه ټکړې کړه او بیا ئې یوځائ کړه. د قلعه خیبر په لاره کښې د وادي صهباء په مقام زمونږه خوږ نبـی ﷺ د خپل لاس مبارَک په اشاره د نمر پریوتي سترګه بیرته را اوګرځوله. د هندوانو رام کمان مات کړو او دا کار بل څوك هم کولې شي، خو سپوږمئ دوه ټکړې کول او بیا یوځائ کول او د نمر پریوتې سترګه

بیرته راخیژول دا زمونږ د نبي ﷺ کمال وو. چه ټول هندوان او د هغوئي ټول د دروغو خُدایان ملګري شي نو هم دا کار نه شي کولې.

هم دې ګنړې ته د خپل دِین تبلیغ کولو والا عیسائي اووئیل چه حضرت عیسٰی عَلَيْهِ السَّلَام ډیر باکماله وو. یقیناً هغوئي (عَلَيْهِ السَّلَام) د کمال خاوند وو، د هغوئي کوم کمالونه چه عیسائي بیان کړل هغه صحیح دې. د هغوئي د دې کمالاتو ذِکر په قرآنِ مجید کښ موجود دې او مونږه دا منو. عیسائي اووئیل چه د حضرتِ عیسٰی عَلَيْهِ السَّلَام د لاس مبارك [په راښکلو] به نابینا او د برګي مرض والا جوړیدل او صحت منده کیدل، خو زمونږ د نبـی ﷺ کمال اوګورئ، زمونږ د خوږ نبـی ﷺ د بدن مبارَك او خاص طور د لاسونو مبارَکو د برکتونو به څه وائې، زمونږه خوږ نبـی ﷺ به چه کوم نعلین شریف [یعني څپلئ مبارکې] په ښپو کړې وې هغه به چه په کومه خاوره اولګیدلې نو هغه خاوره به د جُذام او برګي مرض والؤ د پاره شِفا شوه. زمونږه خوږ نبـی ﷺ چه په خپل پاک بدن مبارك باندې د جامو مبارکو د پاسه کومه جُبّه اغوستې وه هغه دومره بِرکتي وه چه د هغې هوا شِفا جوړه شوه. عیسائي اووئیل چه حضرت عیسٰی عَلَيْهِ السَّلَام به مړي ژوندي کول. دا صحیح دي چه هغوئي (عَلَيْهِ السَّلَام) به مړي ژوندي کول. او د هغوئي په بدن کښ به ئې رُوح بیرته راوستلو، دا ډیر غټ کمال وو، خو زمونږ د نبـی ﷺ کمال اوګورئ، زمونږ نبـی پاك ﷺ بې ساه څیزونو ته ژوند ورکړې وو. هغوئي (ﷺ) کانړو او د لرګي اوچ ډډ ته ژوند او د وئیلو طاقت ورکړې وو. زمونږ د نبـی پاك ﷺ په لاړو مبارکو کښ دومره

بَرَکت وو چه د ترَوو اوبو په کوهي کښې به ئې واچولې نو هغه به خوږې شوې. د بدن نه کټې شوو اندامونو باندې به ئې چه اولګولې نو هغه به جوړ شو، په خوګ سترګو به ئې چه اولګولې نو هغه به جوړې شوې، په لږ خوراك کښې به ئې چه ګډې کړې نو هغه خوراك به د زرګاؤ د پاره کافي شو. د حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام کمالونه بيشکه صحيح دي خو چه کوم کمالونه زمونږه نبـی ﷺ ته د الله تعالٰی د طرف نه ورکړې شوي وو هغه د حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام د پاره هم د رَشك قابل دې.

دې ګنړې ته د خپل دِين تبليغ کولو والا يهودي د حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام مُعجزې بيان کړې، هغوئې ته ئې ډير باکماله اووئيلو. بيشکه هغه مُعجزې صحيح دي او حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام ډير د کمال خاوند وو، يهودي د هغوئې يو کمال دا بيان کړو چه حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام به په همسا کانړې اووهلو نو د هغه کانړي نه به د اوبو چينه جاري شوه، دا بالکل صحيح دي. يهودي ته عرض دې چه د اوبو چينې هُم د غرونو نه را اوځي خو حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام به په همسا باندې کانړې اووهلو نو د هغې نه به د اوبو چينې جاري شوې، بيشکه دا لوئې کمال وو. اوس راشئ او زمونږ د نبـی ﷺ کمال اوګورئ. د **حُدَيبِيه** په مُقام کښې او د **تبوك** په سفر کښې په زرګاؤ کسان زمونږ د نبـی ﷺ سره وو. د سختې ګرمئ موسِم وو. د اسلامي لښکر سره اوبه ختمې شوې. زمونږ د نبـی ﷺ منونکـي صحابهٔ کرام (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) چه د باقي ټول اُمَّت نه افضل دي، هغوئې زمونږ د نبـی ﷺ په خِدمت کښې عرض اوکړو چه اوبه ختمې

شوي دي، د څښلو د پاره هم اوبه نشته، د اودس، غُسل او د څاروو د څښلو د پاره هم د اوبو سخت ضرورت دې. سخته ګرمي ده، که اوبه پیدا نه شوې نو ډیر نُقصان به اوشي. خوږ نبی ﷺ هغوئي ته د غټې لوښي راوړلو حکم ورکړو او په هغه لوښي کښې ئې خپل هغه لاس مبارك کیښودو کوم ته چه ربّ عَزَّوَجَلَّ خپل لاس وائي. په زرګاؤ خلقو اولیدل چه زمونږ د خوږ نبی ﷺ د لاس مبارَك پینځؤ واړو ګوتو نه د یخو او خوږو اوبو پینځه چینې جاري شوې. هٔغه اوبه ټولو خلقو اوڅښلې. اودسونه ئې هم پرې اوکړل، پرې اوئې هم لامبل، د اسلامي لښکر په څاروو ئې هم اوڅښلې او خپل لوښي ئې هم ترې ډك کړل. حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام د کانړو نه چینې جاري کړې خو زمونږه نبی ﷺ د خپل لاس مبارك د ګوتو نه چینې جاري کړې، او دا صرف زمونږه د نبی ﷺ کمال وو.

یهودي اووئیل چه حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام به کله خپل لاس مبارك په ترَخ کښې کیښودو او بیا به ئې را اوویستلو نو هغه به د سپوږمئ په شان ځلیدو، بیشکه دا صحیح دي. زه عرض کووم چه زمونږه نبی ﷺ ټول نور دې. د هغوئي د مخ مبارَك د ښائسته والي او ځلیدو په مقابله کښې سپوږمئ هم خړه وه د هغوئي (ﷺ) مبارك غاښونه داسي وو چه کله به د شپې په تیَره کښې خوږ نبی ﷺ مُسکې شو، نو د خوږ آقا ﷺ د غاښونو په ځلیدو رڼړا خوریدله. د نبی پاك ﷺ پاکې بی بی حضرت عائشه صدیقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا به د هغه مبارکو غاښونو نه د وتلې نُور په رڼړا کښې د جامو د ګنډلو ستن موندله، یوه شپه زمونږ د نبی ﷺ په

خدمت کښې دوه صحابه (أُسید او عِباد رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا) ناست وو او په خبرو کښې مشغول وو. توره تیره شپه وه، باران وریدو، په خبرو کولو کولو کښې ناوخته شو. هغه دواړو صحابؤ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نبـی پاك ﷺ ته عرض اوکړو چه بَهر تیره ده، د باران په وجه به په کوڅو کښې اوبه او ختې وي، او د تیَرې په وجه به زمونږه کورونو ته رسیدل ډیر ګران شي. (د صحابه کرام (عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان) سره (د لرګي) همساګاني وې ځکه چه همسا په لاس کښې ګرځول زمونږ د خوږ نبـی ﷺ طریقه وه او صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان به زمونږه د نبـی ﷺ د طریقو په ډیره مِینه پابندي کوله) زمونږه نبـی پاك ﷺ په هغوئي کښې یو صحابي ته اوفرمائیل، خپله همسا ما ته راکړه، زمونږه نبـی پاك ﷺ د هغه همسا په یو طرف لاس مبارك راښکلو او اوئې فرمائیل، دا به تاسو ته رڼرا کوي. هغه دواړه صحابه کرام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا پاڅیدل، څنګه چه بَهر اووتل نو هغه همسا د بیتړئ په شان رڼرا شروع کړه. هغه دواړه [صحابه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا] د هغه همسا په رڼرا کښې روان شو. چه لږ لري لاړل نو د دواړو د کورونو لارې جُدا کیدلې. د کوم [صحابي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ] سره چه د رڼرا والا همسا وه هغه ته بل [صحابي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ] اووئیل چه زه به خپل کور ته څنګه رسم؟ هغه صحابي د هغه بل صحابي همسا د خپلې رڼرا والا همسا ته اولګوله نو هغه دویمې همسا هم رڼرا کول شروع کړل او هغه دواړه [صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا] په ډیره آسانئ خپلو کورونو ته اورسیدل.

د حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام په کمال به صِرف د هغوئي لاس مبارك ځلیدلو

خو اوګورئ زمونږ د خوږ آقا ﷺ لاس مبارك چه كومې همسا ته اولګي نو هغه رنړا كوي او هغه همسا چه بلې همسا ته اولګي نو هغه هم رنړا كوي. دا كمال زمونږ د نبـی پاك ﷺ خصوصِيَّت دې. صرف دا نه دي بلكه زه دا عرض كووم، چه زه خو يو ډير عاجزه كس يم، زه كه د خپل نبـی ﷺ كمالات بيانول شروع كړم نو دا حقيقت دې چه زما عمر، زما آواز او زما علم خو ختميدې شي خو زما د نبـی ﷺ د كمالاتو ذِكر نه شي پوره كيدې. او د هغوئی (ﷺ) تعليمات خو د ملغلرو نه ډك سمندر دې، چه په هغې كښ د قِيامته پورې زمونږه د پاره د هر قسمه د كاميابئ او د ترقئ رهنمائي [يعني هِدايت] دې. صرف زمونږ د نبـي ﷺ سره مكمل تړون هُغه خلق د فرښتو نه افضل جوړ كړل چا به چه په شړو كښ ښاروي ښرول، لوټ مار به ئې كولو، په خپلو لاسو به ئې خپلې لونړه ژوندئ خخولې، ظُلم او زياتې د هغوئي كار وو خو چه كله د هغه خلقو تعلق د خوږ آقا ﷺ سره جوړ شو، او زمونږ د نبـی ﷺ د دِين پابند شو نو زمونږ د نبـی ﷺ د محبّت او تابعدارئ په وجه د دُنيا بادشاهان او د الله كريم محبوبان جوړ شو. زه تاسو ټولو ته هم دعوت دركووم چه زمونږ د دِين او زمونږ د نبـی ﷺ سره مكمل تړون اختيار كړئ او د دُنيا او د آخِرت ښيګړې حاصلې كړئ.

**محترمو لوستونكو!** په عدل و انصاف سره اووائې! چه هغه هندو،عيسائي، يهودي او باقی ټول خلق د هغه سُنّی مسلمان، عاشِقِ رسُول دا د حقيقت نه ډك بيان واوري نو څه جواب به وئيلې شي كه نه؟ يقيناً

هيڅ جواب به نه شي وئيلې او دِينِ اسلام به قبول کړي. د الله تعالیٰ نبيانو او وليانو کافران او مشرکان مسلمانان کړي دي او ديوبنديان، وهابيان، تبليغيان رښتيني مسلمانان کافران او مشرکان جوړوي. د تبليغ او عقيدو فرق او اثر تاسو ټخپله اوګورئ.

د مادي ترقئ په دې دور کښې د روحاني عظمتونو مُنکر دا خلق د سائنسي ايجاداتو او کارنامو ته حيران دي. دا [بد عقيده خلق] د غيرمسلمه خلقو ټولې کارنامې مني خو د الله تعالیٰ د نبيانو، وليانو کمالات نه مني. د **ريډيو ايجاد کوونکې مارکوني** خو زمونږ د خوږ نبـی ﷺ د صحابی حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه د کَرَامت[16] په اوريدو آواز د يو ځائ نه بل ځائ ته د آواز رسَوَلو آله [يعني ريډيو] جوړ کړو او ځان ته مسلمان وئيونکې د دې کَرَامت په اِنکـار کښې خپل ټول طاقت استعمالوي. دغه شان د نورو معجزو او کرامتونو حال دې. افسوس چه غير مسلمه خلق خو د نبـی پاك ﷺ او د نورو انبياؤ عليهم السلام د معجزو او د اولياءُ

16 هغه کَرَامت دا دې چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د حضرت ساريه رضی الله تعالی عنه په نګرانئ کښې نهاوند ته يو اسلامي لښکر ليږلې وو کله چه اسلامي لښکر د کافرو سره په جنګ وو او هغوئي په حمله کولو کښې پريشانه شو نو تقريباً يو نيم زر مِيله لرې د مدينې مُنوَّرې نه عين د جُمُعې په خطبه کښې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه حضرت ساريه رضی الله تعالی عنه ته غږ کړې وو هغه الفاظ دا دي **يَاسارِيَةَ الْجَبَل** يعني اے ساريه رضی الله تعالی عنه! د غر طرف ته شه، حضرت ساريه رضی الله تعالی عنه چه کله دا آواز واوريدو نو د دې آواز په حکـم ئې عمل اوکړو او خپل ټول اسلامي لښکر ته ئې د غر طرف ته د کيدو حکـم اوکړو، بيا ئې چه حمله اوکړه نو الله تعالیٰ هغوئي ته په هغه جنګ کښې فتح ورکړه.

الله د کَرَاماتو نه د انساني سهولتونو د پاره نوي نوي څيزونه ايجادوي او سُپر طاقت جوړ شي او ځان ته مسلمانان وئيلو والا د دې معجزو او کَرَامتونو خلاف په دروغو کښې خپل عمر ختموي او در په در ټوکرې خوري او خپل روحاني قوت ضائع کوي.

**محترمو لوستونکو!** لږ غور اوکړئ، حُضُورِ اکرَم ﷺ د الله تعالٰی حبيب دې. د نبيانو نبـي، د رسولانو رسُول دې، **رَحمَةٌ لِّلعٰلَمِيۡن** دې، **شَفِيۡعُ الۡمُذۡنِبِيۡن** دې، طٰه و ياسين دې، بشِير و نظِير دې (ﷺ)، د هغوئي محبّت، د هغوئي اطاعت، د هغوئي تابعداري، د هغوئي غُلامي بيشکه زمونږه کاميابي ده، زمونږه د کاميابئ او د خلاصئ سبب دې. اِيمان، قرآن، رمَضان بلکه پخپله رحمان او د [رحمان] پيژندګلو مونږ ته د الله تعالٰی د خوږ حبيب ﷺ په ذريعه او وسيله نصيب شوې ده. د دوئي (ﷺ) په بَرَکت په مونږه باندې د تير شوو اُمَّتونو په شان عذابونه نه راځي، زمونږه مخونه نه مسخ کيږي، زمونږ نه ځناور نه جوړيږي. دا څه معمولي خبره نه ده، د خوږ نبـی ﷺ په بَرَکت مونږ ته يوه شپه (شبِ قدر) د زرو مياشتو نه بهتره نصيب شوي ده، مونږ ته د خوږ نبـی ﷺ په وسيله د ټولو اُمتونو نه د غوره والي اِعزاز حاصل شوې دې.

د الله تعالٰی خوږ حبيب ﷺ مونږ ته څه نه دي راکړي، که مونږه د الله تعالٰی د دې ټولو نه لوئي او د ټولو نه د خوږ نِعمت او د لوئي احسان [يعني د خوږ آقا ﷺ] تعظيم او توقير اُو نه کړو نو خپل معبود به راضي نه کړې شو او نه به زمونږه عبادتونه قبول شي. چه د الله پاك سره د

محبّت دعوٰی کوي او د هغه د حبیب ﷺ په شان کښې ګستاخی کوي، دا څنګه اِیمان دې؟ چه اخوا دیخوا اوګورئ نو څوك انبیاؤ ته بد وائي. څوك اهل بیت ته بد وائي، څوك پاکو بیبیانو ته بد وائي. څوك صحابهٔ کِرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته بد وائي او څوك اولیاءُ الله ته بد وائي. تاسو [حیران ئې او] تپوس کوئ چه مونږه د چا اومنو؟ د چا په لار روان شو؟

راځئ زه تاسو ته دعوت درکووم. تاسو د کتاب و سُنّت پیروي اوکړئ. څوك چه د الله تعالٰی د انبیاؤ سره محبّت کوي، د اهلِ بیتو، د پاکو بیبیانو، د صحابهٔ کِرامو، او د اولیاء عظامو سره محبّت کوي، څوك چه د دې ټولو محبّت د اِیمان سرمایه او د خلاصئ ذریعه ګڼړي، او د هغوئي رضا د الله تعالٰی رضا ګڼړي، د هغوئي په لار روان شئ.

اوګورئ! تقریباً یو نیم سل کاله مخکښې په برصغیر [یعني هندوستان پاکستان] کښې دا دیوبندیان، وهابیان تبلیغیان وغیره بالکل نه وو. دا د اسلام د غیر مسلمه دُښمنانو پالونکې ډلې دي دوئي د دُنیا د یو څو ټکو او د خپلو دروغژنو خبرو د پاسه کولو د پاره د خپل نبـی ﷺ او د هغوئي د آل اولاد، د هغوئي د صحابه او د [هغوئي د اُمَّت] د اولیاؤ په شان کښې ګستاخیانې کوي. دوئي ته خپل انجام او د الله عذاب یاد نه دې.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږه اهلِ سُنَّت و جماعت، د سوونو کلونو نه په حقّ قائِم یو. زمونږ د ټولو عقائدو بنیاد قرآن و سُنّت دې. زمونږه د عقائدو او اعمالو صحیح کیدل پخپله د دې دیوبندیانو، وهابیانو، تبلیغیانو وغیره د کتابونو نه هُم ثابت دي. زمونږه د دوئي سره اختِلافات د خپل ذات د پاره

نه دي د الله تعالٰى او د هغه د رسُول ﷺ د پاره دي. څوك چه زمونږه د خوږ خوږ نبـى (ﷺ) دُښمن او مُخالِف وي نو هغه مونږه نه خوښوو.

د هغه سره روغه نه کوو، د هغه سره د صُلح کولو کوشش نه کوو. افسوس چه مونږه خپل خپلوان، د الله تعالٰى او د هغه د رسُول ﷺ د ذات نه زيات خوارِه او اهم ګنړلي دي. زمونږه د پريشانو او تباهيانو اصل وجه هم دا ده؟ ځکه چه ترڅو پورې مو د نبـى پاك ﷺ سره د ټولو نه زيات او رښتينې محبّت نه وي پيدا شوې، د هغوئي (ﷺ) د فرمانبردارئ شوق مو نه وي پيدا شوې، د هغوئي پوره غُلامي اختيار نه کړو، د هغې پورې ترقي، استحکام،امن او خوش حالي نه شو حاصلولې.

په قيصر و کِسرٰى باندې حکومت کولو والا زمونږه د خوږ نبـى ﷺ رښتيني غُلامان وو. هغوئي ته عِزّت و عظمت د رسُول د غُلامئ په بَرَکت حاصل شوې وو.

نن تقريباً يو بِليَن (يعني يو ارب) د اِيمان دعوٰى لرونکي صِرف د څلويښت لکه يهوديانو د لاسه ذليله او خوار دي، اوګورئ او غور اوکړئ، د يهوديانو عيسايانو دا کوشش دې چه مسلمانان د نبـى ﷺ د محبّت نه لرې اوساتلې شي او په خپل مينځ کښې په جګړو کښې زيات نه زيات اخته کړې شي چه د هغوئي خيال غيرمسلمو خلقو ته نه ځي. که مسلمانان د عقل او شعور لرلو باوُجود هم د دې دُښمنانو په سازشونو پوهه نه شي نو په داسي عقل او پوهه باندې صرف افسوس کيدې شي. که څوك ټخپله ځان په بربادئ او تباهئ کښې اچوي نو دُښمن هغه نه پوهه

کوي اَو نه ئې منع کوي، دا لوټې او بِسترې چه په اوګو ګرځوي او وطن په وطن ګرځي، دې تبلیغیانو ته د تبلیغ آزادي ورکولو والا غیرمسلمو ته ښه معلومه ده چه دا ”دیوبندیان وهابیان تبلیغیان“چه د کوم قِسم مسلمانان جوړوي د هغوئي نه هغه غیرمسلمه خلقو ته هیڅ نقصان نه شي رسیدې.

غیرمسلمو ته ښه معلومه ده چه غیرمسلمو ته [د مسلمانانو نه] صِرف په دې صورت کښې نقصان رسیدې شي چه مسلمانان د خپلو عقائدو او اعمالو په لحاظ د بَدر فَضا پیدا کړي ځکه چه د بدر په میدان کښې درې سوه او دیارلس تش لاس مجاهدینو [صحابؤ] د ځان نه درې چنده زیاتو کُفّارو ته، چه هغوئي د جنګ پوره پوره سامان لرلو، [خو صحابه] صِرف د خپل خوږ آقا ﷺ په محبَّت باندې یقین لرلو او د اِیماني جذبې نه ډك وو او هغوئي ته ئې عبرتناك شکست ورکړو.

نن یهودیان او عیسایان په غټه منصوبه د دُنیا مسلمانان د دې ایماني جذبې نه د محرومولو د پاره مختلفې طریقې استعمالوي. د بَهرني دُښمن نه کورنې دُښمن زیات ضرري وي. هغوئی د دې کار د پاره [د دیوبندیانو وهابیانو تبلیغیانو په شان] تش د نوم مسلمانان استعمالوي او د دوئي په ذریعه خپل کار جاري ساتي.

راشئ! دوست او دُښمن اوپیژنئ، خپل او پرَدې اوپیژنئ، د رحمَتونو والا خوږ نبـی ﷺ د رِښتیني غُلامانو سره خپلې تعلق مضبوط کړئ. او د دې نبـی ﷺ په نوم باندې د یو بل مُحافِظان او دوستان جوړ شئ او مُتَّحِد [یعني په اِتِّفاق] شئ او د د دُښمن مخې ته مضبوط او ناقابِلِ شِکست دیوال

جوړ شئ. یقین اوکړئ چه بیا به د الله تعالیٰ رحمَت او مدد هر وخت زمونږ سره ملګرې وي او عظمت و عِزّت، کامیابي او خوشحالي به زمونږه مُقَدَّر جوړه شي ځکه چه دا عام اِعلان دې:

کی محمد سے وفا تو نے تو ہم تیرے ہیں
یہ جہاں چیز ہے کیا لوح و قلم تیرے ہیں

چه محمد سره وفا کړې زمونږه تن ستا دې
دا جهان څه، چه هغه لوح او قلم ستا دې

وَصَلَّى اللهُ عَلٰى حَبِيْبِه سَيِّدِنا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَبارك وسَلّم اَجمَعِين

## کوکب نوراني را احمد شفیع

(اوکاړوی غُفِرلهٗ)

## ۱۹۸۸ء کراچي

﴿د فتنه باز مذمّت﴾

د حضرت سیدنا انس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه حُضُور اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: اَلْفِتْنَةُ نَائِمَةٌ لَعَنَ اللهُ مَنْ اَيْقَظَهَا یعني: فتنه اوده ده د دې په راپاڅوونکي د الله عَزَّوَجَلَّ لعنت دې- (جامع الصغیر ص 370 حدیث 5975)